# د کره (معياري) ليکنۍ پښتو بشپړتيايي بهير

Download from:aghalibrary.com

محمد قاسم هيله من

# د کره (معياري) ليکنۍ پښتو بشپړتيايي بهير
# د ماستري پوهنليک (تېزس)

ليکوال: محمد قاسم هيله من

کابل، تله- ۱۳۹۱

**د کتاب ځانګړتیاوې:**

د کتاب نوم: د کره (معیاري) لیکنې پښتو بشپړتیایي بهیر

لیکوال: محمد قاسم هیله من

کمپوزیتور: صدرالدین ابراهیم خېل

ډیزان او ګرافیک: صفت الله مومند

چاپځی: عازم مطبعه / ۰۷۹۹۵۷۲۸۱۷

شمېر: ۵۰۰ ټوکه

د چاپ کال: ۱۳۹۱ لمریز

---

د چاپ او خپرولو حقوق لیکوال ته محفوظ دي.

# نیولیک

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| ارزکتنه | یو |
| ارزکتنه | ځلور |
| سریزه | الف |


**لومړی څپرکی**

| | |
|---|---|
| تاریخي بهیر | ۱ |
| ۱_۱ په زاړه پېرکې د لیکنۍ پښتو ځرنګوالی | ۲ |
| ۱_۲ په منځني پېرکې د لیکنۍ پښتو ځرنګوالی | ۱۲ |
| ۱_۳ په اوسني (معاصر) پېر کې د لیکنۍ پښتو ځرنګوالی | ۲۲ |

**دویم څپرکی**

| | |
|---|---|
| معیاري ژبه او معیاري آرونه | ۴۱ |
| ۲_۱ معیاري ژبه | ۴۱ |
| ۲_۳ ټولنیز آرونه | ۴۷ |
| ۲_۳ ژبه که ګړدود | ۴۷ |
| ۲_۴ د ګړنۍ بڼې پر ځای لیکنۍ بڼه | ۵۰ |
| ۲_۵ ګرامري یو رنګي | ۵۱ |
| ۲_۶ لغوي رنګارنګي | |
| ۲_۷ نګه والی یا سوچه والی | ۵۲ |
| ۲_۸ تطبیقي آرونه | |
| ۲_۹ ډ یروالی | ۵۳ |
| ۲_۱۰ توپیر او نه ګډون | ۵۳ |
| ۲_۱۱ سپما | ۵۳ |

## درېيم څپرکی

پښه نحوي (غونډله پوهيزه) برخه کې معياري آرونه ۵۵
۳_۱ ادوات ۵۵
۳_۲ د ايښې او ايښوونې سمون

## څلورم څپرکی

صرفي آرونه ۶۱
۴_۱ په صرفي (مورفولوژيکي) برخه کې معياري آرونه ۶۱
۴_۲ غږ پوهيز آرونه ۶۴

## پنځم څپرکی

د وييزې (لغوي) برخې معياري آرونه ۷۱

## شپږم څپرکی

په ګړنپوهيزه (فرازيالوژيکي) برخه کې معياري آرونه ۷۶

## اووم څپرکی

په ليکدودې برخه کې معياري آرونه ۸۵
پايليزه ۹۸
اخځونه ۱۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# د لارښود استاد ارزکتنه

څه د پاسه شل کاله وشول چې په کابل مجله کې زما له لومړۍ لیکنې "پښتو یوازې په یوازینۍ لیکنۍ بڼه پرمختګ کولای شو" سره د "یوې یوازینۍ ګډې معیاري لیکنۍ پښتو د یوه پرله پسې او پر له غښتي (منظم او منسجم) علمي غورځنګ رامنځته شوی او له یو څو پښتو مینو لیکوالو پرته یې نور ټول کړاوونه یوازې ما پر خپل ځان ګاللي او زغملي دي؛ هغه هم په دې هوډ و ایمان چې د داسې یوه رښتیني او ضروري علمي- فرهنګي غورځنګ مخه هیڅ ځان ساتی او زوړاندی نشي نیولای او لکه څنګه چې زمان هم ور زباته کړه او په کړن کې په غړولوستوګو ګوري، په ژورنالیستي، علمي او ادبي برخه کې پښتو څومره لومړۍ معیاري بنسټ، «ګرامري یووالي او لغوي رنګارنګوالی» موندلی او بیایې زموږ پر ګړنې (محاوروي) پښتو هم پر خپل وار اغیز ښندلي دي. پخوا داد چا په خواوخاطر کې هم نه ګرځیده چې د یوه ننګرهاري له خولې دې د ((مونږ)) پرځای ((موږ)) واوري یا له یوه کندهاري یا هلمندي څخه د "ورسیدی او ورسیدلی" پرځای "ورسید" همداسې د (د- له)، (په-پر) .... توپیر در واخله د اتل، توریالي، ننګیالي، پتیال، پاڅون، پیوستون، بهیر، غورځنګ، ګل مینې، ګلڅانګې، غوندې ښکلې نګه نومونه ناپښتو ژبو هم پرخپلو بچیانو کیښوول. آن تردې چې پروني مخالفان هم نن سبا په خپله لیکنه کې تروسې وسې سوچه پښتو (دیالکتیزمونه، ارکاییزمونه او نیولوګیزمونه) کاروې او سیالۍ ته ملاتړي.

د همدغه پښتني- علمي غور ځنګ رښتيا ينه وه چې دادی د خپلو همرزمو لارويو په لړ کې مې يو بل لاروی هم پيدا کړ؛ داسې لاروی، چې زما د غونډ "مان" آرونه ترخيړنې او کره کتنې لاندې ونيسي او له دې سره زما نوې کتنې او سپارښتنې هم له پامه ونه غورځوي. مادی پخپله په لوی لاس اړ ايست چې د نورو خورې ورې، نا پرله غښتې ليکنې، ياد چا خبره کورټې ژورناليستی او ليکدودي يادونې او ځرګندونې پکی هم له ياده ونه باسی.

چې رښتيا خبره وي، زموږ د پښتو ماسترۍ دغه تکړه کانديد هم دومره په اسانه دغه ګران کار ته زړه نه ښه کاوه، خو څه زما سپارښتنې او څه خپلې پښتنې مينې ورو ورو وروهڅاوه او د "ليکلار" کتنې سره يې دغه هڅه بيخي پر ليواليتيا بدله شوه. په پای کې يې پردې هم سر پوره خلاص شو چې له "ليکنۍ" پښتو ځخه موخه څه ده. لومړی په دې (اند) و (واند) و چې "ليکنۍ" ليکدودي مانا لري، نه دا چې د "ګړنۍ" په وړاندې ټيکاو لري او په دی توګه، موخه د خلکو په خولو کې پښتو سمول يا معياري کول نه دي، بلکې هغه پښتو کره کول يا نورماتيفول مقصد دی چې په ليکنو او خپرونو کې کارول کيږي.

په ګړنۍ يا ګړهاري ژبه کې لاسوهنه له ژبپوهنې سره هيڅ سمون نه لري. همدا تيروتنه او ګډونه ده چې ډير پوهان او نيم پوهان پښانه زموږ د غور ځنګ غندنه کوي. که يې څه هم دا دومره کلونه د مخنيوي هلې ځلې کوم ځای ته ونه رسيدې.

ښاغلي هيله من دغه ټولې خرمه او بنسټيزې خبرې هراړخيز سپيناوي ته رسولي او هرې پوښتنې، ګرويږنې يا بدواندي او ګوتنيونې ته يې له ټولو دليلونو سره ځوابونه وړاندې کړي دي.

ددې لپاره چې کتاب په ټول پښتنه والي او هراړخیزوالي د پوهانو او استادانو غور او کتنې ته وړاندې کیږي، نو زیات څه ویل لیکل پرې نه غواړم. د پایلې په توګه دومره وړنده او اړینه بولم چې زموږ په ټولو اوسنیو او پخوانیو کاندیدانو کې دده دغه پوهنیز- څیړنیز اثر له هره پلوه یو نوښتګرانه ماستري، پوهنلیک (تیزس) دی او زه یې هم همداسې لوړ او ارزښتمن ارزوم.

د هیله من د لاښو علمي لرلیدونو په هیله
پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار
د پښتو څانګې د ژبپوهنې او ادبپوهنې استاد
تله _ ۱۳۷۰

# ارزکتنه

د کره (معیاري) پښتو بشپړتیايي بهیر څېړنه د ښاغلي هیله من د ماسترۍ د تیزس موضوع ده. له نیکه مرغه په خپله هیله من صاحب د خپل تیزس د لیکلو ستونزې پخپله لیکنه کې ځای کړي او په سریزه کې یې دا خبره سپینه ویلې ده:

«... تر اوسه پورې ډیرې ستونزې په مخ کې پرتې دي او زما لپاره به دا ډیر ستونزمن کار وي، چې ددغه نیمه څېړنیز او نیمګړي علمي کار په ترڅ کې ددې ستري ربړې ټول اړخونه د علمي او ژبنیو آرونو له مخې وڅیړم. ما باید په دې برخه کې خپله څېړنه په هر اړخیزه توګه منسجمه کړې وای او د هرې دورې لیکلار او لیکدود مې د ژبپوهنې له آرونو او پرنسپپونو سره سم شنلې او څیړلې وای، نو هله به زما کار ډیر علمي اړخ درلودای.

په همدې توګه ما باید د کار له پیله تر پایه د کیدون تر بریده ټولې خطي او موجودې نسخې، نثرونه، نظمونه او لیکدودونه لیدلې وای او په خورا سیستماتیکه توګه مې له (تذکرة اولاولیاء) څخه تر ننني لیکنې پورې را چاڼلې او څیړلې وای، ځکه د ټولو موادو را اخیستل او پر هغوی باندې په پرتلیزه توګه خبرې کول د موضوع په اسانوالي او لا روښانتیا کې ډیره اغیزه لري. خو په خواشینۍ سره باید ووایم، چې له یوې خوا په اوسنیو شرایطو کې د سیاسي- اجتماعي ستونزو له امله لږ چانس را په برخه شو، چې خپل دا کار په علمي توګه پر مخ یوسم...»

په رښتیا سره چې دغه کار زیات وخت او زیاته څېړنه غواړي او ددغه کار بشپړولو لپاره کلونه او کتابونه په کار دي. دغسې یو اوږد کار

او د هغه سرته رسول په پوره توګه د ماسترۍ د تيزس په کچ او ميچ کې نه ځايېږي. په هرحال خبره چې د پښتو معياري ژبې او معياري ليکنې څخه ده، نو دا يوه په زړه پورې موضوع ده او په دې برخه کې هر کله پاملرنه او توجه په کار ده.

مونږ کله نا کله دا غږ اورو چې پښتو ژبه معياري نه ده، ليکدود نه لري. په خپرونو کې د ليکدود د يووالي او معياري کيدو په هکله هم کله کله خبرې رامنځ ته کيږي. که چيرته د معيار او يووالي اساس او اصل په پام کې ونيول شي او زمونږ پياوړي ليکوال، پوهان د ليکدود ګډوډ يو ته لار خلاصه نه کړي او په خپل سر په ژبه کې کړکيچ رامنځ ته نه کړي، نو به دا يو ګټه ور او فايده من کار وي، ځکه که په ليکنه کې يو منلی معيار او اساس، چې د علمي کړيو له خوا منل شوی وي، په پام کې ونه نيول شي، نو د بيلابيلو سيمو ويونکي به خپله سيمه ييزه لهجه په ليک کې انځوروي. د مثال په توګه د (مونږ) له پاره به موږ، ميژ، ميږ، مږ، يژ، مژ، مينګ، مونګ او داسې نور لهجوي صورتونه رواج شي. نو همدغه ده، چې د معياري ليکنې اساس تر پښنو لاندې کيږي او په پای کې به د يوې خپلواکې ژبې څخه څو بيلی بيلی ژبې جوړې شي.

مونږ داسې مثالونه او اسناد په لاس کې لرو، چې په هغه کې د معيار او معياري توب ياد کيږي، خو بيا ځينې ليکدودي تيروتنې د ليکلار په کتاب کې تر سترګو کيږي، د مثال په توګه: د لويديځ او ختيځ کلمې چې په دواړو کلمو کې يځ (د ظرف مکان) (ځای) ور وستاړي دي او يوه مانا ښندي، مګر دغه دواړه کلمې چې په يوې کرښې کې هم راغلي يو (لويديزې نړۍ) او بل (ختيځپوهنه) په شکل انځور شوي

دي. په دې مانا چې په يوه ځای يوه کلمه په (ز) سره او بل ځای کې بله کلمه په (ځ) سره ليکل به سم کار نه وي.

په دی ترتيب لکه چې مونږ د منځ، منځنی، دريځ، لويديځ، ختيځ، ځای کلمې په (ځ) ليکو، دا به يو معيار وي.

همدارنګه د (ليکلار) په ۱۵-۱۸ مخونو کې د يوازې کلمه په (ځ) سره راغلې، که چيرې پاملرنه وشي نو په (ز) سره يې ليکل سم دي. دغه کلمه د (يوا+ازی) څخه جوړه ده. يو نسبتي صفت دي، لکه چې استازي په (ز) سره ليکو. نو ځکه به (ځ) سره ليکنه به سمه نه وي.

مقصد دا چې په يوه مخ کې بيا يوه کلمه په دوو شکلونو هم په (ځ) او (ز) سره دا بيا په خپله په ليکدود کې يوه ګډ وډي رامنځ ته کوي.

له ښه مرغه د پښتو د ليکدود د سمون د کلمو د ليکنې د يووالي او معياري ليکنې له پاره په بيلا بيلو وختونو او دورو کې ګوتې وهل شوي او دوره په دوره سمونې په کې شوي دي. په دې برخه کې د کندهار ادبي انجمن (۱۳۱۱) پښتو ټولنه، پښتو مرکه، پښتو ادبي جرګې (۱۳۲۱) هـ ش کال ۱۳۲۷ هـ ش، ۱۳۳۷ هـ ش.

په هر حال مونږ نه غواړو چې د ښاغلي هيله من په کار باندې منفي ګوټ نيوی وکړو. لازمه او پر ځای توجه رامنځ ته شوې ده، زه دغه کار او کړاو علمي ارزيابي کوم.

د محترم هيله من د ماسترۍ تيزس يوه سريزه، (۷) څپرکي او يوه ښه نتيجه لري: اول څپرکی درې برخې لري: په لرغونې، منځنۍ او اوسنۍ دوره کې د ليکنې پښتو څرنګوالی او بيان راغلی دی.

په دويم څپرکي کې معياري ژبه او معياري آرونه په پام کې نيول شوي دي. څلورم څپرکي کې د پښتو ژبې صرفي او مورفولوژيکي قاعدې

راڅېړل شوي دي. پنځم څپرکي کې لغتونه او د هغوی د لیکنې اصول په پوره پاملرنې سره راغلي، جوړښتونه ښودل شوي دي، اووم څپرکي کې لیکدودي معیارونه په ګوته شوي دي.

محترم هیله من د تیزس د نتیجې په پای کې یو علمي وړاندیز کړی، چې د پاملرنې وړ دی.

زه په خپل وار د محترم کاندید د ماسترۍ دغه تیزس مثبت ارزیابي کوم او د ماسترۍ د درجې وړ یې بولم او محترم کاندید ته د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم.

پوهندوی دوکتور زرغونه زیور رښتین
د پښتو څانګې د ژبپوهنې استاد
میزان ـ ۱۳۷۰

## د لوی او ښوونکي خدای په نامه

### سریزه:

ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده، له ټولنیز ژوند سره سمه منځته راغلې او له ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي شرایطو سره سم خپل بشپړتیایي پړاو وهي او پر مخ ځي. دا ټولنیز، سیاسي او اقتصادي شرایط یا ژبې ته وده ورکوي یا یې له منځه وړي او مړه کوي یې.

ټولنه که د وخت په اوږدو کې تر ځانګړو شرایطو لاندې وده کوي، پر مخ ځي یا وروسته پاتې کیږي او د له منځه تللو لاملونه یې برابریږي، په سیده توګه د هغه ټولنې ژبه هم هغې ته ورته پړاوونه وهي، له هغې سره وړنده وده کوي، بډایه کیږي، پر نورو ژبو لاسبرى پیدا کوي او یا هم د هماغه لاملونو په پایله کې مخ پر ځوړ ځي، ورکیږي او مړه کیږي.

په هره ټولنه کې چې د یوې ژبې ویونکي اقتصادي - سیاسي ځواک ترلاسه کوي، ټولنیز او سیاسي سرغندویی (سیادت) ته رسیږي، نو ژبه یې هم ورسره په هماغه کچه پر نورو ژبو سرغندویي پیدا کوي او تر اغېز لاندې یې راولي.

د یوناني ژبې خپرېدل په نړۍ کې او آن لاتر اوسه د هغې د ځینو ډبرلیکونو (کتیبو) را پیدا کېدل، د انګلیسي، الماني، پرتګالي او هسپاني ژبو پراختیا ددغو یادو شوو سیاسي او اقتصادي شرایطو زیږنده ده. عربي ژبه در واخلئ، دا ژبه د اسلام د سپېڅلي دین له خپرېدا سره سمه د افریقا او اسیا په زیاترو هیوادونو کې آن د رسمي، علمي او فرهنګي ژبې په توګه د نورو ژبو په سرکې ودریده. تر ډېره وخته او آن تر نننه پورې کارول کیږي.

ددې ټولو خبرو د يادولو اړتيا دا وه، چې د ژبې ژوند او مړينه، وده او وروسته پاتې والى، کره والى او نا کره والى ... ټول د هغه ژبې د ويونکو په ټولنيز، سياسي او اقتصادي دريځ پورې اړه لري.

پښتو ژبه د نورو ژبو په څير يوه لرغونې ژبه ده. دوه (منځنۍ او لرغونې) پيرونه يې تر شا پريښې دي. د لاسته راغلو پېيلو او نا پېيلو ليکنو له مخې ددغې ژبې لرغونتوب دولس سوه کاله شا ته ځي. په دې مهال کې پښتو ژبې د خپل بشپړتيايي بهير بيلا بيل پړاوونه وهلي دي. ددې ژبې ويونکو د وخت په اوږدو کې له سياسي پلوه ستري ټولواکمنۍ جوړې کړي، د برم او پرتم ځلانده مهالونه يې تير کړي دي. د خواشينۍ وړخبره خو داده، چې دوی د خپل سياسي قدرت په بهير کې خپلې ژبې ته هيڅ پام نه دی کړی او نه يې د هغې ودې او پراختيا ته په اګاهانه يا نااګاهانه توګه کوم کار کړی دی. دوی په خپلو دربارونو کې عربي او دري ژبې پاللي او آن په همدې ژبو يې ليکنې کړي او شعرونه يې ويلي دي. ((پښتنو پوهانو او ليکوالو هم په عربي اودري ليکنې کړي دي. د دري ژبې لوی ليکوال او شاعران پښتانه دي.)) (حبيبي: پښتو نثر ته کره کتنې، ۲۸ مخ) له بده مرغه په دغو پيړيو کې پښتو ژبې د خپلو پاللو او روزلو وړ ځای ونه موند. د امير شيرعلي خان د واکمنۍ په پېر کې کې پښتو ته يو څه پام اړول کيږي. پښتو د پوځي ژبې په توګه کارول کيږي، پوځي نومونې پر پښتو اړول کيږي او په همدې توګه دا لړۍ پسې پاييږي، تر څو د امير حبيب الله خان په وخت کې پښتو د ښوونځيو په درسي پروګرام کې ورننوځي، درسي کتابونه ورته ليکل کيږي او په لوست يې پيل کيږي. په دې ډول پښتو ژبه د دري ژبې په خوا کې د افغانانو د رسمي ژبې په توګه اساسي قانون ته لار پيدا کوي. دا کار مازې تش په نامه همدلته

پاتې کيږي، هغسې چې په کار ده د پښتو پیاوړتیا او ودې ته کومه ځانگړې پاملرنه، نه کيږي. لا تر اوسه پښتو په نامه رسمي ژبه ده، دفتر او اداري ته يې آن لا په پښتني سيمو کې لار لانه ده پرانستې. يوازې د ننگرهار پوهنتون، په تيره د هغه پوهنتون د طب پوهنځي د ۱۳۵۷ کال د ثور تر اوومې مخکې په زړه پورې گامونه پورته کړي وو، چې هغه پر هماغه ځای بيرته په ټپه ودريدل او کومه علمي او مسلکي هڅه ورته ونشوه. په دې ډول پښتو ژبه د پيړيو په اوږدو کې چانه پاللې او نه پرې چا د مينې او محبت لاس راکښلی دی، لکه چې ويل شوي دي:

چا يې پلو له مخې پورته نه کړ
پښتو لاهسې باکره پاتې ده

د ثور له پېښې راهيسته څه نا څه لس کاله په پښتو ژبه داسې لوبې وشوې، چې پخوايې څرک هم نه لگيده. پښتو نوره هم د ژباړې د يوې ژبې په توگه پاتې شوه، د ودې او پراختيا په مخ کې يې خنډونه ولويدل، په خپله مورنۍ ژبه د ليکوالو او پوهانو د ليکنې مخه ونيول شوه. د مرکز ورځپاڼې په دوو ايډيشنونو کې چاپيدې او پښتو برخه يې د ناځانگوالو له خوا له دري څخه پر پښتو اړول کيده او هغه د چا خبره ژباړې د پښتو پښتنۍ ور ماتې کړې وې. گران لوستونکي کولای شي په دې برخه کې د هغه مهال ورځپاڼې او مجلې ولولي او يا د «پښتو د جمعي مفاهمې په وسايلو کې» د مقالو مجموعه، چې په ۱۳۶۷ کال کې د افغانستان د علومو اکادمۍ د پښتو څېړنو نړيوال مرکز له خوا خپره شوې، وگوري. په دې مجموعه کې مو لومړی په دې کرښو سترگې لگيږي: «په مطبوعاتو او

د عامه وسایلو په خپرونو کې پښتو خپل خوږوالی او سوچه توب بایللی او دغه د بدمرغۍ بهیر لاوړاندې روان دی ... دغه خوږه، روانه طبیعي ژبه په پیکه بېخونده مصنوعي ژبه اوړي ... په کمي لحاظ د پښتو په باب د اجتماعي بې نیاوۍ موضوع لا بله پېښه ده، چې هغه هم په خپل ځای د زیات غور وړ ده. دغه بې نیاوي له بل هر ځای او بل هر وخت نه زیات په هغو ورځپاڼو کې خورا ښه محسوس او ملموس ده، چې په دوو ایډیشونو کې راوځي. هلته ښکاره ده که د یوې ژبې اډیشن فرضوو، په ځلوېښت زره تیراژه په خپل ټاکلي وخت منظم راوځي، نو ددې بلې ژبې ایډیشن به حتماً له یو، نیم زر تیراژ نه په جګه اندازه نه وي، هغه هم په داسې صورت کې، چې د کاغذ د نشتوالي، د ماشین د خرابۍ، د کارګر د کمبود ټول تندرونه یوازې د همدغه کم تیراژه ایډیشن په سر لوېږي او د لاس د شپږمې ګوتې په شان د جراحۍ د عملیاتو انتظار باسي. ډېر ځله داسې کېږي، بلکې همدا معموله ده، چې د پښتو ایډیشن په څو هفتو کې یو ځای او یو ځل چاپ او د تحویلخانو نمجنو کوټو ته سپارل کېږي او بیا د ټول په نرخ بازار ته عرضه کېږي.)) (پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلو کې، یو، دوه مخونه.)

نو په داسې شرایطو کې له یوې ژبې سره، چې ډېرش میلیونه ویونکي لري، داسې چلن کېږي او آن پخپله ویونکي یې بې توپیره پاتې کېږي او د وخت دا ټولې ناخوالې زغمي، څه هیله به وشي دې ته، چې د هغو په معیاري والي او معیاري ګرځېدو پر رامنځته کیدو خبرې وشي. څنګه یې چې ویونکي ټوټه ټوټه دي، هماغسې یې ژبه هم ټوټه ټوټه پاتې ده او په دې ډول د پښتني ټولنې نه یووالی د دوی د ژبې د نه یووالي سبب شوی دی.

لکه څنګه چې مو په پيل کې وويل، د يوې ټولنې د شتون لومړی شرط ژبه ده او همدا ژبه ده، چې د ټولنيز ژوند اړيکې سره ټينګوي. د پوهاند زيار په وينا: «د کلتوري سيالۍ نه د پښتو د وروسته پاتې کيدو يو ستر علت هم دادي چې يو ازنی او عام منل شوی او عيار شوی ګړدود نه لري، ځکه يې په دې ډول پالنه سمه نشي کېداى او چې پالنه يې ونشي، څنګه به کلتوري کيدو ته چمتو شي. کومې هلې ځلې چې ددې کار لپاره رواني دي، په يوه ځاى راغونډې نه دي. (ليکلار، ۱۱۷ مخ) او څنګه چې پښتو ډير ګړدودونه لري او هر څوک د خپل ګړدود له مخې ليکنې او څيړنې کوي او هر څومره چې ددې څيړونکو شمير زيات وي په هماغه اندازه به د دوی لارې اوليکنې هم سره جلا او بيلا بيلې وي. هر يو يې بيله ژبه کاروي او بيل ګړدود او د يوې ګډې او منلې ليکنې بنې لپاره، چې ټول پرې خپلې ليکنې او څيړنې عياري کړاى شي، جوړې ته سره نه رسيږي.

اوس تربل هر وخت زيات ددې اړتيا ليدل کيږي، چې د يوې يوازنۍ معياري او ټولمنلې ليکنې د پښتو لپاره هلې ځلې وشي، ليکوال، ژبپوهان او د ژبې او قلم خاوندان سره کښيني د علمي او ژبنيو پرنسيپونو له مخې د يوې ګډې او معياري پښتو مخې ته پرتې ستونزې او شخړې له منځه لرې کړې او خپل تاريخي پازوالی (مسؤليت) سرته ورسوي.

ما ته، چې د ماسترۍ د دورې د کانديد په توګه دا دنده راوسپارل شوه، د کره ليکنۍ پښتو بشپړتيا يې بهير وڅيړم او په دې توګه د ژبې او ادب مينه والو ته د خبرو اترو او پريکړو لپاره لاره ښه ترا هواره کړم، تراوسه لا ډيرې ستونزې په مخکې پرتې دي. زما لپاره به دا ډير ستونزمن

کار وي، چې ددغه نيمه ځېړنيز او نيمګړي علمي کار په ترڅ کې ددغې ستري ربړې ټول اړخونه د علمي او ژبينو آرونو له مخې وځېړم.

ما بايد په دې برخه کې خپله څېړنه په هر اړخيزه توګه منسجمه کړې واى؛ د څېړنې له ميتود سره سم مې ټولې لاسکښلې (قلمي) نسخې پيدا کړې او د هرې دورې ليکلار او ليکدود مې د ژبپوهنې له آرونو او پرنسيپونو سره سم شنلي او څېړلي واى، نو هله به زما کار ډېر علمي اړخ درلوداى.

په همدې توګه ما بايد د کار له پيله تر پايه د کيدون تر بريده، ټولې خطي او موجودې نسخې، نثرونه او ليکدودونه ليدلي واى او په خورا پرله غښتي او سيستماتيکه توګه مې له «تذکرة الاولياء» څخه تر ننني ليکنې پورې را چاڼلي او څېړلي واى؛ ځکه د ټولو موادو راخيستل او پر هغوى باندې په پرتليزه توګه خبرې کول د موضوع په اسانوالي او لا روښانتيا کې ډېره اغيزه لري. خو په خواشينۍ سره بايد ووايم، له يوې خوا په اوسنيو شرايطو کې د سياسي، اجتماعي ستونزو له امله لږ چانس را په برخه شو چې خپل دا کار په علمي توګه پرمخ يوسم، له بلې خوا د ورځنيو ناوزګاريو او د وخت د تنګسيا له امله او بيا تر هرڅه د مخه د پوهنتون د يو مياشتني ټاپي (ضرب الاجل) له مخې زما دغه کار په بشپړه توګه له برې سره مخامخ نشو. په پخوانۍ دوره کې مې يوازې د تذکرة الاولياء له څو ټوټو څخه يوازې پر يوې بسنه وکړه. په منځنۍ دوره کې مې د خيرالبيان او مخزن- الاسلام نثري ټوټې وڅېړلې او د همدې پير په بهير کې مې د خوشحال خان پر ليکني سبک او د هغه له کورنۍ څخه د افضل خان د تاريخ مرصع پر ليکلار خپله ليکنه محدوده کړه. په همدې توګه مې د تاريخ مرصع له ليکنې څخه بيا تر اوسمهاله دا ټول زماني واټن له

ثیړنې بهر پرېښود. په اوسنۍ دوره کې مې د ګوتو په شمار پر یو څو بیلګو بسنه وکړه. هیله ده ددې کار نیمګړتیا ټوله زما پر اوږو بار نه شي او اوسنی سیاسي، اقتصادي او ټولنیز مهال او چاپیریال را سره هم شریک وګڼل شي.

د ثیړنو او اخځونو د را ټولولو په وخت کې ماته په بشپړه توګه دا ثرګنده شوه، چې یوې کره (معیاري) لکنۍ پښتو ته د رسیدو لپاره لاتر اوسه زموږ د ژبپوهانو او لیکوالو ترمنځ پراخ واټن پروت دی. یوازې د یوه لیکوال په یوه لیکنه کې ټول هغه معیاري ارزښتونه، چې دده په اند هم معیاري دي، په نظر کې نه نیول کیږي. آن په یوه پراګراف کې یو ویی په دوو بڼو لیکي. د یوه لیکوال په لیکنه هم (د پاره) لیدل کیږي او هم (لپاره) او داسې نورې ورته نیمګړې خواوې، خو لاځه کوي. د لیکنښو کارونې ته پام کورټ نه اړول کیږي؛ ټکی، کامه او د پوښتنې نښه یا خو بیخي نه کارول کیږي او یا هم بیځایه کارول کیږي.

نو په دې وخت او په داسې شرایطو کې به د یوه مبتدي او په دې اړه د لږو معلوماتو لرونکي ښتن ته ډیره ګرانه وي، چې د یوه یوازني نظر د جلبولو لپاره پوهان او لیکوال راوبلي. ما ته ددې تیزس د موادو د برابرولو په وخت کې، لکه چې د مخه مې ورته ګوته ونیوه، ثرګنده شوه، چې له هر پوه او لیکوال سره د معیاري پښتو د رامنځته کولو او عیارولو تنده او بیلابیل نظر شته دي. له دې پرته چې دوی پخپله له ژبې او خلکو سره د زړه سوي له کبله سره راغونډ شي او په ګډه کار وکړي او د ګډو هلو ځلو په پایله کې د رادیو، تلویزیون، سینما، ورځپاڼو، آژانس او نورو ورته وسایلو له لارې د ګډې معیاري پښتو ارزښتونه دود کړي، بله لار نشته. کومې ستونزې چې ما ته د ثیړنې د کار په بهیر کې را دمخه

کیدې، هغه د یوې کلمې او یوې موضوع په اړه د پوهانو او لیکوالو د نظریو توپیر و، چې ما نه شو کولای کره او سم یې پکې غوره کړم، ځکه هر لیکوال د خپل سبک او لیکدود لپاره ځانګړي دلایل درلودل. په همدې ډول د کار بله ستونزه داوه، چې په دې باره کې؛ یعنې د معیاري لیکنې پښتو په باب زیات څه نه دي لیکل شوي او یا زما مخې ته نه دي راغلي. خواره واره کارونه او لیکنې که شوي هم دي، هغه د لکیدود په باب دي. په دې برخه کې «لیکلار» د یو یوازني نوښتګرانه علمي هاندو هڅو ښکارندويي کوي او زما ددغه پوهنلیک (تیزس) کار له آره پر همدغه اثر را څرخي. یوازې په هغو برخو کې مې د نورو لیکوالو له نظریو څخه هم ګټه اخیستې چې دلته او هلته یې په ورته ډول لږ ډیر تماس نیولی دي.

ددې په خوا کې د ارواښاد استاد الفت «لیکوالي»، د پوهاند رښتین «ژب ښودنه» او د دکتور تړي «نوي ژب پوهنه او ژبني مسایل» کتابونو له ما سره د موضوعګانو په روښانولو کې په زړه پورې مرسته کړې ده.

باید څرگنده کړم چې زما دا نیمگړی کار او څیړنه په هیڅ ډول بشپړه نه ده. ډیرې نیمگړتیا وې لري او زیات بشپړوونکې کار ته اړه لري.

زما ددې کار په بشپړتیا کې د ښاغلي لارښود استاد پوهاند دکتور زیار لارښوونې او نه ستړي کیدونکې هڅې د زښتې ډیرې ستاینې وړ دي او ما اړباسي، چې بیابیا څنې مننه وکړم، کور ودانی ورته ووایم او د بې شمیره شاگردانو په روزلو کې ورته د لوی خدای جل جلاله له درباره د پوره حوصلې او زغم غوښتنه وکړم.

په پښتني مینه،

هیله من

خبرخانه مېنه، کابل

د ۱۳۷۰ کال د تلې میاشت

# لومړی څپرکی
# تاریخي بهیر

## ۱_۱ په زاړه پېر کې د لیکنۍ پښتو څرنګوالی

پښتو لرغونې اریاني ژبه ده، خو د پخوانۍ زمانې لیکلي اثار یې نه دي راپاتې او له دې کبله نشو ویلای چې پخوا به دا ژبه په کوم لیک او کوم دود کښل کیده.

د اوومې، اتمې او نهمې پیړۍ له زړو ادبي اثارو څرګندیږي، چې پښتو د غور د سوریانو او غوریانو او د ملتان د لودیانو په دربارونو او د سلیمان غره په اوسیدونکو پښتنو کې د شعر او ادب ژبه وه، خو له عربي لیکدود څخه مخکې یې پر بل زاړه لیک، زموږ لاس ته څه نه دي راغلي.

پوهاند رښتین لیکي: ((خط مشهور سر زمین پښتونخوا قبل از اسلام بنام خط خروشتی یا کروتهی مسمی میباشد، که نمونه های آن در ((خوات)) وردک و ((درونته)) ننگرهار و ((شاهبازگړه)) پشاور به دست آمده است. ولی تاکنون به صورت صحیح خوانده نه شده است. خط خروشتی و یونانی که پیش از اسلام در افغانستان مروج بود در اثر آمدن دین مقدس اسلام از بین رفت و جای خود را به خط عربی گذاشت.)) (پوهاند رښتین، گرامر پښتو، جزء دوم، ص ۱۵۴)

لکه چې پورته مو ورته گوته ونیوه، د پخوانی پښتو د نثر بیلگې نه دي را پاتې او یا هم نه دي موندل شوي. له بلې خوا زاړه اریایي متنونه، چې تر موږه را رسیدلي، ټول پېیلي (منظوم) وو، لکه «اوستایي» او «ویدي» هغه. له دې څخه را هم ثرگندیدای شي، چې پخواني پښتو اثار دې هم په نظم لیکل شوي وي. سره له دې، چې د ژبې بنسټ په نثر ایښودل شوی دی، خو د لیک د پیدا کیدو د مخه نظم تر نثر اسانه و. له دې کبله حماسي او جنگي موضوعگانې هم په منظوم ډول لیکل کیدې. اریایي ویدي او اوستایي سرودونه او د زاړه یونان الیاد او او دیسې بوللې له دې ډلې څخه دي.

د پښتو ژبې د ادب په تاریخ کې، چې د اسلام تر راتگ وروسته لومړنی منظوم اثر زموږ گوتو ته راغلی، هغه د امیر کروړ ویاړنه ده، چې په (۱۳۹ هـ ق) کې ویل شوې ده. د ویاړنې لیکلې آر بڼه زموږ په لاس کې نشته. تر شپږسوه هجري دمخه د کوم منثور اثر پته نه لرو، یوازې د هاشم سرواني د (سالو وږمه) یو کتاب تش په نامه راپاتې دی.

د منظومو اثارو له مخې ويلای شو، څنګه چې پښتو د يوې ژبې په توګه موجوده وه، نو هر ومرو به يې نثر هم درلود، چې يا به د ليک د نشتوالي له امله نه وي ثبت شوی او يا به زمانې تر ګونډو لاندې کړی وي.

پوهاند حبيبي ليکي: ((يو ټينګ دليل شته چې تر (۲۰۰ هـ ق) دمخه هم د پښتو نثر موجود و او د پخوالی او متانت درجې ته رسيدلی و او هغه حجت دادی چې د (۲۰۰ هـ) په حدودو کې، چې د نثر کومه نمونه موجوده ده، هغه ډېره پخه او متينه او خوږه ده ... د يوې ژبې نثر چې دې درجې ته رارسيږي، طبعا يې بايد د مخه ابتدايي مراحل طی کړي وي، څو د طفوليت له مراتبو څخه د رشد او پخوالي درجې ته راغلی وي.

نو له دې خبرې څخه استدلال کولای شو، چې بايد ډېر د مخه اقلا دوې درې پيړۍ پر پښتو نثر تيرې شوي وي، څو د پنځمې هجري پيړۍ متانت او پخوالی يې ميندلی وي.)) (حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ، دويم ټوک، ۲۱۰ مخ) له شپږمې ليږديزې پيړۍ څخه را پاتې نثر د سليمان ماکو ((تذکرة الاولياء)) نثر دی، چې له بده مرغه ټول کتاب يې زموږ لاس ته نه دی راغلی او يوازې اته مخه يې را پاتې دي او کيدای شي داسې نور کتابونه په بشپړه توګه ورک او تري تم شوي وي.

د تذکرة الاولياء را پاتې پاڼې د پښتو د ليکلي ادب د تاريخ زرينې پاڼې دي، چې د بيټ نيکه، ملکيار غرشين، شيخ اسماعيل، خرښبون او قطب الدين بختيار شعري بيلګو په ساتلو سره د پښتو نظم تاريخ تر لومړيو دريو اسلامي پيړيو پورې پرمخ وړي.

د تذکرة الاولياء نثري بيلګه په دې ډول ده:

((وايم حمد وسپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفیﷺ چې دی بادار د کونينو او رحمت د ثقلينو. لوی لوی رحمتونه دې وي د هغه

استازي په آل او يارانو چې دواړه جهانه په دوی دي روښان. اما بعد، زه غريب خاورې سليمان ځوي د بارک خان ماکو سابزي چې په وياله دارغسان اوسيږم او په دې مځکو پايږم. په سن د دولس شپږسوه هجري تللی وم او د پښتونخوا په راغو او کلو گرځيدم او مراقد د اولياوو او واصلينو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل او د دوی په خدمت خاکپای وم او هر کله په سلام ورتـه ولاړ. چې له دې سفر په کور کې کښينستم، تناکې مې وچاودلې د پښو. بيا پاڅيدلم او له ښتنه مې مرستون شوم، چې احوال د هغو کاملانو و کارم او دوی چې هغه ويناوې پاتې کړي دي او پښتانه يې لولي اوس.» (پوهاند رښتين: د پښتو د ادب تاريخ، ۲۱مخ)

دا متن ډېر زوړ او پخوانی دی. د هغه وخت د ليکدود او گړدود ښکارندويي نشي کولای، ځکه دا چې تر موږ را رسيدلی، خدای پوهيږي څومره به يې آرښه او څېره د کښونکو له ذوق او ميني سره بدلون موندلی وي، مگر بيا هم د اوومې پيړۍ ليکدودي بڼه څه نا څه روښانوي.

اروانښاد استاد الفت د تذکرة الاولياء ليکدود په دې ډول را پېژندلی:

«۱ـ پښتو توري يې داسې ليکلي دي: (ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ) دا بڼه له اوسنۍ ليکنې بڼې سره توپير نه لري، يوازې دومره چې سليمان ماکو تر «خ» توري لاندې يو ټکی ايښی دی.

۲ـ کوم توري، چې اوس د حرکاتو د اظهار لپاره په اوسنۍ املاء کې ليکل کيږي، د تذکرة الاولياء په ليک کې نشته، يعنې هلته (هـ، و، ي) د (زور، زير، پيښ) د ښکاره کولو لپاره نه دي ليکل شوي او له همدې امله ځينې کلمات له اوسنۍ املاء نه فرق لري، لکه:

| د تذکرة الاولیاء املاء | اوسنی املاء |
|---|---|
| م | می |
| د | دي |
| پات | پاتې |
| ک | که |
| ل | له |
| پ | په |
| مزک | مزکه (ځمکه) |
| لر | لري |
| مږ | موږ- مونږ (موږ) |
| تنباک | تنباکې |

۳ـ سره له دی، چې د تذکرة الاولیاء په املاء کې حروف د حرکاتو د اظهار لپاره نه دي لیکل شوي، مگر (چه) یې ځو ځایه (چې) لیکلي ده.

۴ـ دا کلمات (شي، شوي، شو، شوم، شول) په (ش) لیکل شوي دي او ډېر لږ په یو دوه ځایه کې (سو-سوه) په (س) وینو او بس. د (شو) او د (سو) په اخر کې هم (و) لیکلی دی.

۵ـ ځینې نور کلمات لکه: (ویاله، لوی، توی) یې په همدغه ډول لیکلي دي، چې د مؤلف د استوگنې د ځای اوسنی محلی لهجه دغسې نه ده، ځکه هلته اوس (بیاله، لو، تو) وايي، مگر یو ځای په کې (لو) هم لیکل شوي دي.

۶_ د ماضي مطلق صيغې داسې ليکي: (نوميده، ولاړه، اوسيد، گرځيده، وکړ) يعنې (نوميدی، ولاړی، وکی، اوسيدی، گرځيدی) نه ليکي.

۷_ کښې (کې) داسې (کښ) ليکي.

۸_ د پښتونخوا کلمه (پښتنخا) ليکي او (هيواد) (ايواد) ليکي.

مگر (اوسيږم) (هوسيږم) ليکلی شوی دی او (څرگند) هم (سرگند) ليکل شوی دی.» (الفت، ليکوالي ۱۸-۱۹ مخونه)

د سليمان ماکو په نثر کې د کلمو تاکل او د جملو رغښت هم د هغه وخت د محاورې له مخې ښايې تر سره شوي وي او د هغه وخت چاپيريال به پرې حتماً اغيز کړی وي. پوهاند حبيبی د تذکرة الاولياء پر نثر داسې تبصره کړې ده: ((د سليمان نثر د عمومي محاورې څخه ليرې نه دی. جملې يې پرې پرې دي. وضاحت لري. مقاصد لنډ لنډ ادا کوي. د يوې جملې خبر به په بله پورې معلق نه پريږدي او ځينې هسې زاړه تعابير او ادبي مصطلحات هم لري، چې اوس نشته:

مثلا ((تناکې وچاودلې د پښو)) چې مقصد يې په خپل مسکن کې ارام کول او هوسايي ده. ((ډېر زښت يې ووژل))، چې په اوسنۍ اصطلاح له لومړيو دوو کلمو څخه يې يوه کافي ده او دواړه نه وايو...

دغسې نورې ډېرې کلمې په دې يو څو مخو کې کې مومو چې اوس په ژبه کې ډېر نه کارول کيږي، مثلاً گروهيدل، مصدر پخوا موجود و او د متقدمينو په دوره کې اصلي عنصر او ماده ((گروه)) د عقيدې مانا درلوده، لکه چې تاسې ددې کتاب په لومړۍ برخه کې د شيخ رضي او نثر لودي په اشعارو کې د ((گروه)) کلمه ولوستله. دلته د سليمان ماکو په نثر کې له دې مادې څخه ((وگروهيد)) په فعلي ډول راغلی دی. بميا (بوميا)

پخوا د رهبر او مرشد په مانا و. سلیمان ماکو لیکي: ((څو چې بمیا شو د وګړیه))؛ یعنې د عوامو رهنما شو. دغسې دي: پاړکی (یوه ټوټه شعر)، ستر څښتن، ګڼون (شمېر)، کول (کورنۍ)، دښـن (دښمن)، جوبله (جګړه) او نورې کلمې چې اوس دود نه دي او زیاتره دغه کلمې تر (۱۰۰۰هـ) پورې لاهم په شعري دیوانو کې لیدل کیږي، خو له محاورې څخه وتلې دي.)) (حبیبی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک، ۳۱۲- ۲۱۷ مخونه)

پوهاند دکتور زیار د تذکرة الاولیاء ژبنۍ خوا د مهال او چاپېریال له مخې څېړلې او شنلې ده. دی وایي: ((...ادبي پښتو یې په دې بولو، چې لیکلار په تیره غونډه لیزه (جملوي) رغاونه یې زیاتره د عربي او پارسي هغې تر اغیز لاندې راغلې بریښي. دغه اغیز په پښتو نثر کې آن زموږ تر پیړۍ را رسیږي او خپل ځای ورو ورو په څو اړخیز ډول انګریزي او نورو اروپایي ژبو ته خوشې کوي، خو پښتو نظم آن د امیرکروړ له هماغې ویاړنې څخه تر ننه ډېر آر او ګړنۍ پښتو ته نژدې بریښي.

د پښتو نظم او نثر ترمنځ دغه پخواني توپیر د لرې پښتونخوا په اوسني ادبي او په تیرو علمي او ژورنالسیتکي لیکنو کې خورا زیات لیدای شو، که نه په طبیعي توګه باید نثر تر نظم ډېر روان او بهاند او وګړنۍ ژبې ته نژدې وای؛ ځکه نظم کې غونډلیز اوډون (ترتیب) زیاتره د شعري تول و تون تابع کیږي، که نه هیڅوک دا نه شي باورولای، چې ګوندې په شپږمه او اوومه پیړۍ کې به د سلیمان ماکو د ټاټوبي (ارغسان) پښتو همداسې ویل کیده، لکه څنګه چې ده لیکلې او د نورو لاسکښنو له لارې تر موږه رارسیدلې ده. د ساري په توګه یې دغو وروسته غونډلو ته ځیر شئ، چې څنګه یې خبر پر مبتداء، مضاف پر مضاف الیه او موصوف پر صفت مخکې کړي دي.

«وایم حمد وسپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفیﷺ، دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو، لوی رحمتونه دې وي د هغه استازي پر آل او یارانو چې دواړه جهانه په دوی دي روښان. اما بعد، زه غریب خاوري سلیمان زوی د بارک خان ماکو سابزي، چې په ویاله دارغسان هوسیږم...» یا: «خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دونې زامن چې اوس تر وس تیر شو ګڼون د هغو ...» (د تذکرة الاولیاء لومړی او دویم مخ)... که له غونډله رغاونې څخه تیر شو، د سلیمان ماکو لیکنی ژبه داسې ډېر څه راښوولای شي، چې د مهال او چاپیریال له مخې ترې دیوې ټاکلې پښتو بنې (ګړدود) د ځانګړتیاوو څرک ولګوو او ددغه کار لپاره یې تر لیکزیکولوژیکي، مورفولوژیکي او ارتوګرافیکي سپړنې او شننې لاندې نیسو:

### ۱ـ د ویي پوهنې (لیکزیکولوژیکي) له پلوه:

استازی (رسول او پیغمبر)، مرستون (مرسته غوښتونکی)، ګڼون (شمار او حساب) دښن (دښمن) او دښنه (دښمنان) ... له هغو زړو ویونونو څخه ګڼل کیږي، چې سلیمان ماکو په خپله لیکنه کې کارولي دي او ښایی پردې سربیره، چې هغه مهال او تر هغې پیړۍ مخکې به یې ژبنی او لیکنی دود لاره. په شپږمه پیړۍ کې به د ارغسان او نورو کندهاري ګړدودونو په ژوندۍ ویي پانګه کې هم ځای درلود. نن سبا دغه راز ویونونو ته له ګړنۍ پښتو زیاتره وتلي، خو ادبي کارونه یې ورځ په ورځ پراختیا مومي.

په دغه برخه کې مرستون او ګڼون ډېر کیدون لري، چې د تذکره لیکونکي له خپلو لاس جوړونو څخه وي. اوسنی مرستون د دارالمساکین

اندول، خو هر گوره مرستون دی چې یوه (ت) په بله کې ورکه شوې ده. وروښانده (روښان کړ) د مورفولوژیکی ارگانیزم یوه خورا ښه بیلگه کیدای شي، چې سمدلاسه یې بل هیڅري څرک لگولای نشو. پښتنخا (پښتونخوا) د سلیمان ماکو د زړې ویي پانگې یوه بیلگه ده، چې لومړی څرک یې په همدغه متن کې لگولاي شو....

## ۲_ د گړ پوهنې (مورفولوژي) له پلوه:

ددغه ژبني اړخ له مخې د تذکرة الاولیاء نثر دومره ځانگړي تاریخي او جغرافیایي ټکي نه لري، لکه (باله) چې د نابشپړ یوگړي تیرمهال (استمراري ماضي د مفرد غایب استمراري ماضي صیغې) په توگه له اوسني ارغسان یا به بله وینا کندهاري گړدود سره نه، بلکې زیاتره له منځنی هغه سره اړخ لگوي. نور ساري لکه رغووه، ورکاوه، ستایه، هوسید، گرځید، نومید او داسې نورې ډېرې گړنی بڼې یې لکه: درلو (درلودل) ویل، لولي (لوستلی) پلټل، موندل، رابلل.

همدارنگه بشپړ تیرمهال کړ (مطلق ماضي فعل) یې هم د اړوند سیمه ییز گړدود ځانگړتیاوې نه ښیي او د نورو څو گړدودونو غوندې کارول کیږي، لکه: کښېنستم، وچاودلې، شوم، سوه، شول، ولاړه، (ولاړل) وکړ، وژل، ورکړه، وویل، وپاریدل....

د وییکو د کارونې له پلوه د سلیمان ماکو نثر هم کومه ډېره په زړه پورې گړدودي ځانگړتیا نه لري. د تولوییکی (د) او سر بل (له) توپیر چې زیاتره اوسني گړدودونه یې نه پیژني، د هغه مهال د نورو پیبلو او ناپیبلو لیکنو غوندې په دغه نثر کې هم لیدل کیږي.

لکه: له دې سفره، له ځښتنه، له بختيارانو.... ولوښل سربل (په) او باندينی سربل (پر) ترمنځ توپير يې يو مخنيز نه، بلکې لړو ډېر کړی دی، لکه: پر محمدﷺ پر ال، پر شيخ... مگر ځای ځای يې له (په) سره ونج کړی دی، لکه: په وياله د ارغسان، په راغو او کليو....

د توني يا ظرفي (په) سربل غورځيدنه يې هم په زړه پورې بريښي، هغه هم چې په چاپ کې همداسې راغلی دی. د اوستر بل (څخه) يا ځينې پرځای (نه) کارونه يې، لکه: (له ده نه) بيا ډېره هيښنده بريښي او گومان نه کيږي، چې د سليمان ماکو په مهال او چاپيريال پورې اړه ولري.

پرتليز سربل (تر) يې د خپل مهال له کندهاري گړدود سره سم کارولی دی، لکه (تر ټولو)، (ډېر تود) ياد توني سربل په توگه، لکه: (د ملکيار تر اړخ). دلته دا ټکی هم هيرول په کار نه دي چې د سليمان ماکو د نثر دغه اوسنی بيلگه کيدای شي د کوم ليږدوونکي د ليکلار يا ذوق تر اغيز لاندې راغلی وي. دغه ټکی يې بيا په فونولوژيکي او ارتوگرافيکي شننه کې په ځانگړې توگه د اندېښنې وړ دی. د ساري په توگه په دغه لاسکښنه کې د شول (شدن)، کړ، په (س) او (ش) دواړو کښل شوی دی. په ځو (په ځير)، ب (به)، پ (په)، مړانه کښ (کښی) و (بود)، غر (غره) غونډې وي، خپلواکې ښښې ښښانې پايه بله وينا واول توري او يا زور وزير نه لري او په دې توگه د آرې ليکنې، نه گړدودي سپيناوی کيدای شي او، نه ليکدودي.

شپږ صوه (شپږسوه) پرځای په (ص) کښل، خو په هر ډول يوه ليکدودي تيروتنه ده. (چې) که څه هم په لاس کښنه (چې) کښل شوي او ښايي له آره له اوسني کندهاري گړدود سره سمه په لنډه (ي) وي، خو چاپ کې (چه) راغلې ده. د دريمگړي کمزوري نومځری (ي) غورځول هم د کومې

ژبنۍ ځانګړتیا ښکارندویي نشي کولی. هوسیدل د اوسیدل پرځای، خو کوم بې دوده بې مخینې (بې سابقې) کار نه دي او په پخوانیو متونونو کې یې ځرک شته. د جوبله (ژوبله) او سرګند (ځرګند) له اوسني ارغسان ګړدود سره سمون نه خوري او په پوره ډول له پخوانۍ بڼې سره یې هم نه، له دې امله یې د کوم لاسکښونکي تیروتنه بللی شو. د (لو) ترځنګه لوی یا د (زوی) پرځای (ځوی) همداسې در واخله. وګړي د وګړیه په بڼه کښنه کیدای شي یوه ژبنۍ ځانګړتیا وي. څه چې په ارتوګرافي او لیکدودي برخه کې خورا په زړه پورې بریښي هغه په دغه لاسکښنه کې د اوسنیو پښتو توروو: ځ، ځ، ژ، ږ، ښ، ړ، ډ، ټ، ... کارول دي.)) (زیار، د امیر کړوړ یاد، ۳۹۰-۳۹۲ مخونه)

له دې لیکنې دا ځرګندیږي چې د پښتو ژبې پخواني نثرونه ګړهار ته ورته دي. د سلیمان ماکو نثر لږو ډېر د عربي او پارسي جملوي جوړښت تر اغیز لاندې لیکل شوی او د وییونو له مخې د خپل وخت د ګړنۍ پښتو ځرګندوی دی. سره له دې چې موږ ته د هغه وخت لیکلی نثر نه دی راپاتې او دا لاسته راغلې ټوټه او پاڼې ښایي ځوځو وارې نقل او لیکل شوي وي او کیدای شي آرې بڼې یې زیات توپیر موندلی وي. له دې امله کومې غوځې پریکړې ته پرې نشو رسیدای. یوازې دومره ګټه لري چې په پښتو ادبي تاریخ کې د پښتو نثر لرغونوالی ځرګند کړي.

## ۱_۲ په منځنۍ پېرکې د لیکنۍ پښتو ځرنګوالی

لکه چې د مخه مو ورته ګوته ونیوه په زاړه پیر یا له شپږمې لیږدیزې پیړۍ څخه د مخه د ((تذکرة الاولیاءُ)) له څو پاڼو پرته کومه لیکلې نثري ټوټه یا کتاب زموږ ګوتو ته نه دی راغلی، چې د هغې له مخې د هغه وخت د لیکلي پښتو پر ځانګړتیاوو په بشپړه توګه خبرې وکړای شو. د دغه بیلګې له مخې دومره ویلای شو د سلیمان ماکو نثر ګړهار ته نژدې ښکاري، ځکه روان او ساده دی.

په منځنۍ کلاسیک پیرکې د پښتو نثر بدلون مومي او د سجع خواته ځي. ځکه چې په دغه پیړۍ کې د اسلام مبین دین خپل ستونځ (اوج) ته رسیدلی و او زموږ ژبه او فرهنګ په پشپړه توګه د عربي ژبې اغیز لاندې و. له دې امله پښتنو لیکوالو، په تیره بیا پیر روښان، د عربي ژبې پر لاروي مسجع نثر لیکو ته مخه وګرځوله او خپل کتاب، خیرالبیان، یې په دغه فني نثر ولیکه. پوهاند حبیبي لیکي: ((پښتو ژبه د هند او ایران ترمنځ محصوره وه او له هرې خوا ادبي حرکاتو اثر پرکاوه. تر (۲۱۲هـ) پورې چې سلیمان ماکو خپله تذکره لیکله، د پښتو نثر لکه د پارسي ژبې پخوانی نثر خوږ، روان او سلیس و. مګر وروسته، چې ((فني نثر)) پر پارسي په ایران او هند کې مستولي شو، نو د پښتو نثر هم تر دغه اثر لاندې راغی او په پښتونخوا کې پیر روښان، بایزید انصاري د پښتو ژبې ((فني نثر)) علم پورته کړ...)) (پوهاند حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ، **۲۵۵**مخ)

د پیر روښان نثر پوره نثر نه دی، بلکې نیم منظوم لیک دی، چې د غونډلو (جملو) په پای کې د وزن او سجعې لپاره زاید کلمات راوړي او په دې توګه یې په لاسي ډول له ګړهار څخه لرې کوي. پردې سربیره ښایي پیر

روښان ته به د پښتو پخوانی لیکدول جوت نه و او سوچ یې کاوه، چې پښتو ځانګړې نورې کومې لیکنې بڼې نه لري. ده ددې لپاره، چې خپل کتاب یې بشپړ کړی وي، ځانګړو تورو د لیکلو لپاره یې رساله وکښله او په هغه کې یې دا توري څرګند کړل:

د ((ټ)) توری یې لکه د اوسنۍ بڼې غوندې کښه، لکه ټول، پټ. همداسې د ((څ)) توری هم درواخله، لکه: میرڅی، څو، څلور او مرڅی. د ((ځ)) توری په خیرالبیان کې د ((د)) په بڼه راغلی دی [د (د) لاندې یو ټکی)، لکه ځما (دما)، لمونځ (نمونډ)، ورځ (ورد). د ((ډ)) او ((ړ)) توري په همدې بڼه وو. په خیرالبیان کې ((ژ)) توری نه و. په ټولو ویو کې ((ژ)) په ((ږ)) لیکل شوې ده، لکه (پیږندګلي)، (ږوندی). د (ږ) توری بیا د [(د) دننه یو ټکی] په بڼه راغلی، لکه (سازیدي) سازیږي. د ((ښ)) او ((ڼ)) توري هم په همدې بڼه لیکل کیدل. لکه: تورکښ، ښیګړه، کوڼ، ګڼ. نور توري د پارسي د املا په څیر لیکل شوي دي. ((س))، چې اوږد لیکل شوی، ورلاندې درې ټکي هم شته. د هغو وییونونو په پای کې چې (هـ) یا (ي) لیکل کیږي، هلته ورسره (هـ) او (ي) نه لیکی، لکه: هغ (هغه)، کت (که، ته) ت (ته)، وړاند (وړاندی). وییونه یو تربله ګڼ شوي او یو ځای لیکل شوی دي، لکه: میدرک (مې درکړ)، پنغت (په نغوته)، پڅلور ژبی (په څلور ژبې) او نور.

په دې توګه خیرالبیان ددغه وخت د عربي او پارسي نثر تر اغیز لاندې راغی او دا نثر یې له ساده ګۍ او روانۍ څخه لرې کړ.

د پیر روښان بل هم مهال لیکوال، اخوند درویزه دی. اخوند درویزه هم ددغه نثر تر اغیز لاندې خپل کتاب، مخزن الاسلام ولیکه. د مخزن الاسلام ژبه هم لکه د خیرالبیان د ژبې په څیر نیمه منظومه او مسجع ده، وګورئ: ((ایمان په مثل د مرغه دی. یو ځانګ یی ویره بل امید دی. چی

مرغه په یوه ځانګ شي الوتو نامید دی. دا ایمان دی مور او پلار. امید او ویره چې ایمان دی زوکړی با ایمان یې دی ساتلی.» یا «تل خلوت در انجمن کړه، هم سفر اندر وطن کړه، هم دایم نظر په دم کړه، په مقصود پسې شیدا شه، تر ذره خپسر کوز ګوره، د حق یاد پر زړه بسیار کړه، په دوستی کې یګانه شه، له کل غیر ماوراء شه.»)

د مخزن الاسلام نثر که څه هم د خیرالبیان تر لیکنې یو څه اسان دی، خو کله کله یې غونډلې په وزن او ښښلې (قافیې) کې برابرې دي او په دې توګه د نثر پرځای پېیلې وینا ګڼل کیږي. که پورتنۍ بیلګې ته ځیر شو، نو هلته لیدلای شو، چې، تل خلوت در انجمن کړه، هم سفر اندر وطن کړه. کټ مټ یو نظم دی. هم یې وزن او هم یې قافیه یو شان دي، خو وروسته یې بیا وزن ساتلی او قافیې ته یې بدلون ورکړی دی. د اخوند درویزه د مخزن الاسلام لیکدود ته استاد الفت په دی ډول کتنه کړی ده:

«اخوند درویزه چې د میا روښان هم مهال (معاصر) دی او د هغه له افکارو او عقایدو سره سخته دښمني لري، په پښتو کې د مخزن الاسلام په نامه مشهور کتاب لري، چې املا یې په دی ډول ده:

۱ـ د پښتو خاص توري یې داسې لیکلی دي:

(ټ، ډ، ړ، ښ، څ) مګر (ڼ) په دغه ډول لر او د (نړ) ډېر لیکي. د (خ) په ځای هم (څ) لیکي.

۲ـ دا توري (و-ه-ي) د حرکاتو د اظهار لپاره نه راوړي او دا کلمات: (تاسې، هسې، ولې، ځینې، غوندې، مې، دې، یې) داسې لیکي: (تاس، هس، ول، ځن، غند، م، د، ی) همدارنګه (نشته، به، په، ته، لکه، پښتو، مو، عالمانو (نشت، ب، پ، ت، لک، پښت، م، عالمان) لیکي.

۳ـ د افعالو په اخر کې زياتره (ن) زياتوي، لکه: (کوين، لرين، وړين) او داسې نور.

۴ـ ډېر ځله (کښ، ليکي او کله کله (کښی) ليکي،

۵ـ اکثرا (چه) ليکي او لږ لږ (چې) ليکي،

۶ـ وينځه، ومينځل په (و) ليکي يعنې مينځه، مينځل نه ليکي،

۷ـ د (وقت) کلمه په مفغن ډول (وخت) نه ليکي،

۸ـ دا کلمات (نمونځ، نمر، نمسی، نوړي) په (ن) ليکي،

۹ـ د (هر) کلمه (وهر) ليکي.

۱۰ـ ځينې توري په ليک کې له ځينو کلماتو سره نښلوي او داسې يې ليکي:

(لهغو، پريږد، لهرحاله، لکرداده)

۱۱ـ ددې کلماتو په ځای (وکړئ، واخلئ، وخورئ) دا کلمات زيات استعمالوي (وکانړی، واخانړی، وخوانړي)

۱۲ـ دغه کلمې (غبرگ، برخه، هومره، زمری، ړومبی (ړومبنی) وروستی، پرته) داسې ليکي: (بغرگ، بخره، هنمبري، مزري، ړنبلی، وروستلی، پروته. (شو) کلمه (شه) او کله (شو) و امر په ځای کې (ش) ليکي.)) (الفت، ليکوالي ۲۰-۲۱ مخونه)

د خوشحال خان خټک نثر:

د پير روښان او د هغه د هم مهال اخوند د رويزه نثر درې پيړۍ پر پښتو منگولې ټينگې کړې وې. کله چې درې سوه کاله وروسته خوشحال خان د پښتو شعر او ادب ميدان ته راودانگل او لکه څنگه چې يې په شعر

کې بدلون راوست نو هماغسې يې په پښتو نثر کې هم په زړه پورې بدلون راوست.

ليکلار يې بيرته د پخوانيو ليکوالو سبک ته ور واړوله، له ګړهار سره يې نژدې کړه، غونډلې يې لنډې او پريکړې ادا کړې، سلاست او رواني يې پکې دود کړه او د نثر د عام فهمۍ ته يې زيات پام وکړ. سجع او وزن يې ورڅخه وکيښ او له خبرو سره يې يو شان کړ.

خوشحال خان د نثر په پرتله زيات پېيلي (منظوم) اثار لري، يوازې يې يو څو کتابونه لکه رياض الحقيقت، فرخنامه، پښتو هدايه او دستارنامه په نثر ليکلي دي. د دستارنامې نثر يې ډېر خوږ، ساده، سليس او روان دی. غونډلې يې لنډې او پريکړې دي، له ګړهار سره نژدې دي، ستونزمن وييونه، نه لري او هر څوک پرې پوهيدای شي. په دې توګه خوشحال خان پښتو نثر بيا را ژوندي کولو ته ستر خدمت کړی او ډېر حقدار يې ګڼلای شو.

د خوشحال خټک له دستارنامې څخه د بيلګې په توګه دغه لاندې ټوټه ګورو:

((جهان په دوه توګه انتظام او قوام لري، په علم په توره. که توره نه وي علم بی قوته دی، قوت يې توره دی. د علم ښبتن محتاج د تورې د ښبتن دی، د تورې ښبتن محتاج د علم د ښبتن دی. ښه ځوانان هغه دي، چې دواړه توکه لري. په يو لاس کتاب په بل لاس توره، چې ددې جهان په دولت د هغه جهان دولت حاصل کا. د شجاعت نمره اول د پيغمبرانو ده بيا د پيرانو ده. واړه پيغمبران مړني و. تر واړونه مړنی محمد رسول الله و.)) (دستار نامه ۳۲مخ)

پورته نثر ډېر خوږ او ساده نثر دی، عام فهمه دی، لیکنې بڼه یې څه نا څه سمه ده، پیچلي وییونه پکې نشته او غونډلې یې لنډې دي. په دې توګه یې په پښتو نثر کې یوه نوې لار پرانستې او په دې برخه کې یې ستر خدمت سرته رسولی دی.

د خوشال خټک املا په لاندې ډول ده:

۱_ د (و-ه-ی) توري د حرکاتو د اظهار لپاره لیکي، لکه:

(هسی، تاسی، غوره، اوسپنه، ګوندی، موژ، عالمانو، عابدانو) او ځینې کلمات یې بې له دغو تورو هم لیکلي دي.

۲_ د پښتو د مخصوص توري (ښ) په ځای (ش) لیکي، لکه: غوشه، پشتون،

۳_ د (ږ) په ځای (ژ) لیکی، لکه: غوژ، کوژ، موژ.

۴_ د (څ) لپاره یې دا شکل (ح) لپاره غوره کړی، یعنی (ح) لاندی دوه ټکي او تر لاندې یې همزه ږدي.

۵_ د (ځ) توری داسې لیکي، چې (ح) لاندې ټکی او تر ټکي لاندې همزه ږدي.

۶_ ړ- دا شکل ده هم داسې اړولی دی، (رء)، یعنی د (ر) په سر همزه لیکي،

۷_ ڼ- د (نء) په سر همزه لیکي او د (ڼ) کار ترې اخلي،

۸_ ټ په (ط) لیکي، لکه (مط) چې موږ (مټ) لیکو.

۹_ نمونځ، نمسی، غر، غړي، نمدیدل په (ن) لیکي.

۱۰_ کښې (کې) په دې ډول (کشی) لیکي.

۱۱_ زما، ستا داسې (دما- دتا) لیکي.

۱۲_ دا کلمات (زمری، زمکه، برخه، هومره، څومره، هیر، پیر) لیکي.

۱۳_ ځینې افعال په دی ډول لیکي: (څه چه وغواړو، که په اتفاق واستی، که جدا شواستی، هستی به مات شیو، ویاستل)

۱۴_ د (دي، جمع (دیو) لیکي، چې اوس موږ (دوی) لیکو.

۱۵_ د (تنګسه) کلمه داسې (تنګځه) لیکي، چې ښایي د (تنګ ځای) مخفف وي.

۱۶_ شو، وشو داسې (شه، وشه) لیکي او د جمعې په صورت کې (شول) لیکي.

۱۷_ د (وقت) کلمه کله په (خ) او کله په (ق) لیکي.

۱۸_ ځینې معنی دار توري، چې اوس یې موږ له نورو کلماتو نه جدا لیکو، ده متصل لیکلي دي، لکه: (پکور، پعلم، پنوی)

۱۹_ د (کړي، کاندې) په ځای (کا) لیکي.

۲۰_ دا کلمات (زلمی، زغلول، ګرزي) په (ز) لیکي. (الفت، لیکوالي ۲۴-۲۵ مخونه)

د خوشحال خټک کلیات، چې په (۱۹۵۲) عیسوي کال کې د (ادارهٔ اشاعت سرحد پشاور شهر) له خوا چاپ شوی دی، هم ځینې لیکنۍ ځانګړتیاوې لري.

- هلته د کلمو د پای حرکت د څرګندونو لپاره (زور) لیکل شوی، وګورئ:

موت و فوت و ناکامی مومې له کوم (کلیات ۲۰۹ مخ)

ستا زړه سختې مې سر ترپایه ولیدل (کلیات (۱۷۲ مخ)

ښځه بویه هوسناکه، خنده رویه، مهرژن
پاکیزه په زیست روزگار کښې په ښه بوي باندې مینَ (کلیات ۲۲۸) مخ
او د (ی) په ځای د حرکت د څرګندولو لپاره (زیر) باندې اکتفا کوي:
هسې پرې غوخیږم وایې توری لری سترگِ (کلیات ۱۲۴ مخ)
ادم خیلی افریدی دې سری او سپین
په کې شته دې ښایسته په رنگ رنگینِ (کلیات ۲۱۲ مخ)
پورته لیکدود د خوشحال په کورنۍ کې جاري و. عبدالقادرخان خټک هم خپل لیک د دستار نامې په بڼې لیکلو. د دیوان قلمي نسخه یې د دغه لیکدود ښکارندویي کوي.

د پټې خزانې نثر:
پټه خزانه د پښتو ادب په تاریخ کې لکه د رڼه اسمان سپوږمۍ، خپله وړانګې وروسته او شاوخوا ټول روښانه کړي او زموږ د ادبې پانګې په بډاینه او رنګینۍ کې یې په زړه پورې ګامونه او چت کړي دي. د هغې ترڅنګه یې موږ ته د هغه دورې د لیکنۍ پښتو سبک او دود هم راپیژندلی دی. وګورئ لاندې بیلګه:
((حمد و ثنا ده هغه خدای ته چه انسان یې په ژبه او بیان لوړ کا او تمیزي ورکا لنورو حیواناتو په نطق او وینا سره او خپل کلام پاک ي نازل کا په افصح بیان سره چه هغه معجز او ابلغ دی له کلام د ټولو بلغا او فصحا ستاینه او سپاس دی د هغه خاوند لره چه بیله ده نسته بل خاوند او نه بل بادار د وګړیو ښبنتن دی. دی چه انسانان پخوږو خبرو پالی او د

هرې بليغي وينا ملهم دی درود نامحدود پر هغه پيغمبر دی ﷺ چه موږ تـی را وښوله سمه لار او روده.)) (پټه خزانه، لومړی مخ)

په دی نثر کې ساده گي، رواني او سلامت له ورايه ليدل کيږي، جملې يې ډېرې ستونزمنې او پيچلې نه دي، مگر د بلې ژبې وييونه يې زيات کارولي دي او دا په هغه وخت کې د هغې ژبې اغيز او برلاسي ځرگندوي. د ليکدود په اړوند ځينې نيمگړتياوې لري، لکه دريمگړی کمزوری نومځری يې يوازې په (ي) ليکلی. همدا راز ((لنورو)) سره يې ((له)) گډ ليکلی چې اوس نه ليکل کيږي. په همدې ډول ((په)) يې له (خوږو) سره گډ ليکلی (پخوږو) (کی) په درې ډوله (کې، کښی، کښ،) ليکي، (شو، شی، شوي) ليکي او کله يې له کندهاري گړدود سره (سو، سی، سول، وسو) ليکي. (چه) همدا سې ليکلی.

د افضل خان د تاريخ مرصع ليکنی ډول:

موږ بيا هم خپله پخوانۍ خبره را غبرگوو او وايو، چې د تاريخ مرصع ليکنې ښه ښايي کښونکو له خپل ذوق سره سمه کښلې وي. موږ يوازې کولای شو، د هغې لاسکښلې (قلمي نسخې) پر ليکلار وغږيږو. داسې ښکاري چې افضل خان په ليکلو کې د خپلې کورنۍ لاروي کړې ده او له هغه دود ځخه يې کار اخسته چې خوشحال ختـک رامنځته کړی و. استاد الفت د ((ليکوالی)) په څلرويشتم مخ کې ليکلي: ((خوشحال ختـک په ۱۰۷۲هـ (يوولسمه پيړۍ) کې يو پښتو کتاب وليکه، چې دستارنامه نومېږي او په نثر کښل شوی دی. ددې کتاب يوه لاسکښنه په ۱۱۱۹هـ کې عبدالحليم نومي کښونکي د افضل خان په امر وکښله. دغه لاسکښنه اوس په پښور کې عبدالشکورخان په زاړه او پخوانې ليکدود چاپ کړه.))

له دې ليکنې څخه څرګندېږي، چې افضل خان د تاريخ مرصع په ليکلو کې له هماغه ليکدود څخه کار اخيستی دی.

ليکوال دلته عربي او پارسي وييونه کارولي او د خپل وخت او چاپيريال ګړنۍ پښتو ته يې تر هغو زيات ارزښت ورکړی دی. د معياري ليکنې پروا يې نه ده کړې. مسند اليه يې له مسند او موصوف يې له صفت څخه تر مخه کړی دی، لکه: (په ملک د غور، احکام د شريعت، په خطاب د پټهان... ) راغی و پښاور ته، ته راشه کوهاټ ته....

په تاريخ مرصع کې هم د ختيکو له ګړدود سره سم د دستار نامې غونډې د (وشو) پرځای (وشه) د (هومره) پرځای (هونبره) د (څومره) پرځای (څونبره) د (زما، ستا، زموږ) پرځای (دما، د تا، د موږ) ليکل شوي.

(پوښتل، تښتيدل، ښودل، مړه کيدل) پرځای (پوښتيدل، تښل، ښيل او مړل) ليکه.

پردې سربيره د منځنۍ دورې ليکدود څه ناڅه د خوشحال ليکنۍ بڼې ته ورته و. د رحمان بابا قلمي ديوان، د احمدشاه بابا ديوان او نور په دغه ليکدود ليکل شوي وو.

په دې ټولو ليکنو کې هڅه شوې، چې د (هـ-و-ی) پرځای زياتره زور، زير او پېښ ته ځای ورکړ شي. (په، له) له کلماتو سره يو ځای ليکي. د (چې) د (چه) او (کې) کله د (کښ)، کله د (کښ) او کله د (کښ) په بڼه ليکي، خو له دې سره سره پکې لږ ډېر ليکدودي يووالی ليدل کيږي.

داسې بريښي، چې دلته او سنی اردو ډوله ليکدود کارول شوی وي، لکه (نمر، ورځ، بخره، چري... ) د پښتو ځانګړي توري له (ڼ) او (ځ) پرته نور يوشان ليکي، يوازې (څ) او (ځ) سره ګډوي او (ڼ) او کله د (نړ) په بڼه ليکي.

## ۱ - ۳ په اوسني (معاصر) پېرکې د لیکنۍ پښتو څرنګوالی

تر اوسه پورې موله له شپږمې لیږدیزې پیړۍ راهسې په پښتو نثر، د هغې پر څرنګوالی، لیکدود او ودې باندې خبرې وکړې او د بیلګې په توګه مو د تذکرة الاولیاء او بیا په منځنې پیرکې د څو بیلابیلو لیکوالو پر نثري ټوټو او د هغوی پر لیکدود خبرې وکړې. ومولیدل چې نثر د سلیمان ماکو په زمانه کې ساده او ګړهار ته نژدې و او څه نا څه د نورو ژبو تر اغیز لاندې و، لیکنۍ بڼه یې زیاته ستونزمنه نه وه. تر هغې راوروسته د پیر روښان د خیرالبیان نثر ته وار راورسید، چې له محاورې لرې، نیم منظوم او مسجع نثر بلل شوی دی، لیکدود یې هم ځانګړې بڼه درلوده او په ډېرو ستونزو لوستل کیدای شي.

کله چې وار خوشحال خټک ته رسیږي، په پښتو نثر او لیک کې ستر بدلون راولي او له ګړهار سره یې نژدې کوي، لیکنۍ بڼه هم سموي او د لوستلو ستونزه یې کموي. همدا سبک دده په کورنۍ کې دود مومي او د بشپړتیا لوري ته درومي. د خوشحال خان دستارنامه، د قادر خان ګلدسته، د افضل خان تاریخ مرصع او د محمد هوتک پټه خزانه ددغه خواږه او روان نثر غوره بیلګې دي.

د خوشال خان له کورنۍ را وروسته دا غورځنګ مخ پروړاندې ځي، د لیک سموالي او یووالي ته پام اړول کیږي او وار په وار دغه بهیر پر مخ ځي.

د امیر شیرعلی خان د واکمنۍ په دوره کې په پښتو کې نوې نوموني رامنځته کیږي او د پښتو ودې ته پام اړول کیږي. کوم ګام، چې په رسمي توګه په دې لاره کې پورته شو، پر ۱۳۳۳ هـ ق کال په تعلیمي نصاب کې د پښتو ژبې راګډول و. د امیرحبیب الله خان د ټولواکۍ په

دوره کې په ((حبیبیه مدرسې)) کې د پښتو ژبې تدریس پیل شو او ددې کار لپاره مولوي صالح محمد کندهاری وګومارل شو. نوموړي د پښتو د ښې ښوونې لپاره د ((لومړي کتاب د پښتو)) په نامه یو کتاب ولیکه. ددغه کتاب د لیکدود په برخه کې د پخوا په پرتله ځینې سمونونه او بدلونونه رامنځته شول. اروابناد ګل پاچا الفت د خپل کتاب لیکوالۍ په ۲۹ مخ کې دغو سمونونو ته ګوته نیولې او هغه یې دا راز ښودلی دی:

«(ځ) توری د (ح) په څیر لیکي او د (ج) او (خ) دواړه ټکي ورکوي. (ڼ) د (ڼ) په بڼه لیکي. زما ، زموږ او زوی په همدې بڼه لیکي. د ظرفیت توری (کې) لیکي، یو ځای یې (کښې) هم لیکلی دی. (و ، هـ ، ي) یې د حرکاتو د اظهار لپاره نه دي لیکلي ، (ګوډ) یې (ګډ) لیکلی، (ړوند) د (ړند) ، (لومړی) د (لمړی) (ناجوړه) د (ناجړه) په بڼه لیکي.»

پښتو مرکې د پښتو د روزلو لپاره یو انجمن جوړ کړ. په ۱۳۰۲ هـ ش کې یې د پښتو صرف او نحوې د لومړۍ برخې یو کتاب چاپ او د لیکلو لپاره یې ځینې لارښوونې وکړې:

- د پښتو ځانګړي توري یې له (ځ) پرته په همدا اوسنۍ بڼه ولیکل او (ځ) ته یې د (ج) او (ځ) دواړه ټکي ورکړل.

- (چه) یې (چې) ولیکله، (کښې) کله (کې) او کله (کښې) لیکي. د حرکاتو اظهار لکه د پخوا په څیر له (و-هـ-ي) پرته لیکي، لکه: ږ- څمره- لاند - پښتنه- نمر او نمونځ په (ل) لیکي. یا ګانې ټولې یوشان لیکي... (الفت: لیکوالي، ۲۹ مخ)

کله چې په کال ۱۳۱۱ هـ ش کې پښتو ادبي انجمن جوړ شو ، پښتو مجله او د ((پښتو خبرې)) په نامه یې یو کتاب چاپ کړ، چې املا یې په دې ډول وه:

ـ د تا نیث (ې) او ثقیلې (ي) په سربېږه همزه لیکله، لکه: چوکۍ، کړکۍ، لرۍ ... ، مجهوله (ې) یې که د کلمې په منځ کې وه یا پای کې، په دوه لاندې باندې ټکو لیکله، لکه: مېنه، ډېر، لاندې،

ـ (ځ) توری په همدې ډول لیکي، (ڼ) د (نړ) په بڼې او کښنې د (کې) په شکل لیکي. د (شو، شول، وشو ...) کلمې په (س) لیکي. (ځلمی، یواځې، مځکه) یې په (ځ) او دریمګړی نومځری یې لکه د پخوا په څیر (یه) لیکه. ځینې کلمې یې په دې ډول لیکلې دي: ایږدم، کښېنوست، چښم، یاست، واست، (موږ) او (روځ) وییونه په ټول کتاب کې په همدې بڼه لیکل شوي دي.

کله چې په ۱۳۱۲هـ ش کال کې پښتو ټولنه جوړه شوه، نو د لیک د یووالي لپاره ډېرې هلې ځلې وشوې، غونډې او مجلسونه جوړشول او د لیک د یووالي په هڅه یې پریکړې وکړې. سره له دې چې دا پریکړې تر ډېره کچې د لیک په یووالي کې اغیزمنې وې، خو له بده مرغه ددې پرځای، چې علمي او ژبني معیارونه په پام کې نیول شوي وای او د علمي پرنسپیونو له مخې دا کار پر مخ وړل شوی وای، زیاتره له رایو څخه ګټه واخیستل شوه او پریکړې وشوې.

له دې ورهاخوا د وییونو د لیکلو لپاره په ځینو برخو کې دوه وارینتونه په پام کې نیول شوي وو، چې دا کار پخپله د لیک د ګډوډۍ زمینه رامنځته کوي. باید په دې باب یوازې یوه بڼه منل شوې او لیکل شوې وای. داسې یو ډول نورې ستونزې هم ترمنځ پرتې وې چې یې یوې ټاکلې او سمې کره لیکنۍ بڼې ته د رسیدو مخینوی کاوه، خوله دې سره سره دا کار د پوره قدر او ستاینې وړ دی. وروستي کارونه او هلې ځلې ددغه کارونو له بشپړتیا سره مرسته کوي، هماغه پیل شوې لاره بشپړوي

او پر مخ یې وړي، خو البته وروستنۍ هلې ځلې به هرومرو پر علمي او ژبنيو بنسټونو ولاړې وي، نه په رايه اخيستنو او پلوي او سمتي مسايلو.

دلته به د ګرانو لوستونکو لپاره د پښتو ټولنې له پريکړو څخه د بېلګې په توګه يو څو وړاندې کړو.

«لومړۍ پرېکړه:

په دې غونډه کې د افغانستان پنځه ويشتو پوهانو او ليکوالو ګډون کړی او يوويشت اختلافي مواد يې تر څېړنې لاندې ونيول او پريکړې يې صادرې کړې.

| اختلافي بڼه | پريکړه شوې بڼه |
|---|---|
| پاته ـ پاتې | پاته |
| لويه ـ لو | لويه |
| لخ ـ لوخ | لخ |
| لږ ډوډۍ ـ لږ اوبه | لږه ډوډۍ-لږې اوبه |
| غږ ـ ږغ، غګ ـ غاګ | غږ ـ ږغ |
| مونږ ـ موږ | مونږ |
| زما ـ ځما، زمونږ، ځمونږ | زما ـ مونږ |
| زه ـ ځه | زه … |

په دريمه پريکړه کې د لومړۍ پريکړې په څلورو توکو کې سمون راغی او نور پاتې اوولس پر خپل حال پاتې شول، په لاندې توګه:

پاته، مونږ، ولاړ، لخ پرځای، پاتې او مونږ او موږ، ولاړ او لاړ، لوخ ومنل شول. دغه پريکړه د افغانستان د ليکوالو او پښتونخوا د ليکوالو له خوا، چې د پښتو ټولنې په بلنه وشوه، سرته ورسيده.

په دویمه پړیکړه کې دا توکي راتلل:

د (ڼ- نړ) لپاره (ڼ) ومنل شو او د (ښ، ږ، ځ) پرځای به (ش-خ)، (ژ- ګ) او (ز) نه لیکل کیږي. (لمړی- کچنی، کډ، ګتهه، بخت) د (لومړي، کوچني، ګوډ، ګوته، بوخت) په بڼه ومنل شول...

په وروستۍ پړیکړه کې چې ۱۳۳۷ لمریز کال د پښتو ټولنې په بلنه د لروبرو پښتو لیکوالو او پوهانو په ګډون تر سره شوه، د څو غونډو په پای کې لاندنۍ بڼې ومنل شوې:

د (څمکه- مځکه- زمکه) پر ځای (ځمکه) د (زمري، مزري، ځمري) پرځای (زمري) د (کښته- ښکته- خکته) پر ځای (کښته) د (پښه، ښپه، خپه) پر ځای (پښه) د (ورځ- روځ) پر ځای (ورځ) د (کښلی) پرځای (ښکلی) د (ښنبل- ښنه، بخنبل، بخښنه) پر ځای (ښنبل- ښښنه) د (څوی، ځامن) پر ځای (زوی- زامن) د ځیږیدل پر ځای زیږیدل، د زلمي پر ځای ځلمی، د (زبه، جبه) پر ځای (ژبه)، د جړا پر ځای (ژړا)، د جوند پر ځای (ژوند)، د (بیاله - ویاله) پر ځای (ویاله)، د (نړ) پر ځای (ڼ) ومنل شول او یو لړ داسې نورې پریکړې وشوې. (الفت: لیکوالي، ۱۳مخ)، چې د راتلونکو څیړنو او پریکړو لپاره یې لپاره پرانستله.

د افغانستان لیکوالو او پوهانو یوازې پر دغو پریکړو بسنه و نه کړه او په علمي او ژبنیو بنسټونو یې په ځانګړې توګه ګامونه پورته کړل او په علمي او ژبنیو بنسټونو یې د ځانګړو خپرونو او اثارو په لیکلو پیل وکړ. د زیري جریده او کابل مجله ددغو هلوځلو هینداره وه. پردې سربیره اروانښاد الفت، پوهاند رښتین، پوهاند دکتور زیار په دې برخه کې د لیکوالۍ، لیکدود او لیکلار په نامه کتابونه ولیکل او د یوې معیاري او کره لیکنې لپاره یې د ژبنیو معیارونو له مخې پیشنهادونه وکړل چې هر

يو يې په خپل ځای کې د پوره ستاينې وړدي. پوهاند حبيب الله تـږي د «نوې ژبپوهنه او ژبني مسايل» تر سرليک لاندې کتاب وليکه او نورو پوهانو هم په خواره واره ډول څېړنې او څېړونې وکړې.

استاد الفت د «ليکوالی» په کتاب کې د ليکدود په باب يو لړ وړانديزونه کړي دي:

«څه چې ليکئ بايد د سم تلفظ له مخې يې وليکئ، ځکه عوام يوه کلمه يو راز او بل يې بل راز تلفظ کوي، لکه «هلک» په تلفظ کې (الک) ويل کيږي، بايد (الک) ونه ليکو. په ليکلو کې د ژبې د گرامري برخې مراعات ضروري دي. ځينې جملې او ويونونه په خبرو کې ډېرې لنډيږي، لکه (ځيکی) چې بايد د گرامر له مخې داسې (څه يې کوې) وليکل شي. دوې بيلې کلمې بايد په ليکلو کې سره ونه نښلو، لکه (ټول سړي)، (ټولسړي) او (لوی کور) بايد (لويکور) ونه ليکو، خو که چيرته له دوو کلمه څخه يوه کلمه جوړه شوې وي، بيا يې بيله ونه ليکو، لکه: (ټوليمشر) (ټولواک). په ليکنه کې بايد د التباس مخه ونيول شي او دوه بيلا بيلې مانا لرونکې کلمې په يوشان ونه ليکو، لکه: (پوښتنه) د تپوس او (پښتنه) د پښتنې ميرمنې په مانا. همدا راز (گود) او (گډ) يوشان ونه ليکو او نه (پريښی) لکه: (پري ايښی) وليکو. د (نوي) د (جديد) په مانا او (نوې) د (نباشد) په مانا په ليکلو کې بايد هم فرق وشي.» استاد وړاندې ليکي:

«په پښتو کې د نفې توری او د نهې توری (نه- مه) له افعالو څخه جدا ليکل کيږي، لکه: نه ځې، نه کوې، مه وايه، مه گوره، مه غواړه، مه څه...، مگر (نشي، نشته، نکړي، مشه، مکړه، ناخلې) زياتره متصل ليکل کيږي.

په همدې ډول د پښتو ځانګړو تورو لیکلو ته باید هم زیاته پام واړول شي او یو د بل په ځای ونه لیکل شی. استاد الفت د (ځ) او (ز) تورو په لیکلو کې لاندنې معیارونو ته اعتبار ورکوي:

«کوم کلمات چې په فارسی کې په (ج) ویل کیږي، په پښتو کې په (ځ) اوړي او په همدغه بڼه یې باید ولیکو، لکه: ځوان، ځنګل، ځان. په همدې ډول د (څ) او (س) تورو توپیر باید هم وشي، ځکه په تلفظ کې سره نژدې دي او که سره یو په بل واوړي، نو مانا یې له منځه ځي، لکه، (څوک او څټ)، چې که په (سوک او سټ) ولیکل شي، بله مانا ورکوي. ځینې کلمات شته، چې (و) پکې لیکل کیږي او ویل کیږي نه، لکه: (غونډ، لونګی) چې (و) د لومړي توري پېښ ښکاره کوي او په تلفظ کې برخه نه لري.

نوموړی لیکوال په لیکلو کې د (ی) د بڼو مراعات اړین بولي او وایې که چیرته دا (ی) ګانې په خپل خپل ځای کې سمې ونه لیکل شي، نو د مانا بدلون راولي، لکه: (وړي او وړی)، (شړي، شړی)، (مېنه، مینه) او داسې نور.» (الفت: لیکوالي، ۲-۳-۴ مخونه)

سره له دې چې نوموړی محترم استاد د سمې لیکنې لپاره علمي او ژبني دلایل وړاندې کوي، خو په ځینو ځایونو کې، پخپله ورته پام نه کوي. لکه: پدې (په دې) لیکوالي: ۵ مخ، کښې (کې) او چه (چې) لیکي. ((دا کلمه زموږ په نظر کښې ډېره ښکلې معلومیږي.)) (لیکوالي ۲۰۲ مخ). د هغه جنازه څلورو تنو په اوږه رااخیستې وه. (لیکوالي ۱۱۸ مخ)، چې د ۱۳۳۷ش کال د پریکړې په خلاف دي. (وګ: لیکوالي ۱۲ مخ.)

پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو د سم لیکلو په باب هم ځینې لیکنې کړې دي. خورې ورې لیکنې یې ماته نه دي څرګندې. د ((ژب

ښوونه» نومي کتاب کې ليکدود تر وينې لاندې نيسي او ځينې لارښوونې کوي. په همدې ډول د «گرامر پښتو - جزء دوم» چې زما «هيله من» تر پاملرنې «اهتمام» لاندې همدا اوس د ښوونې او روزنې په مطبعه کې چاپيږي، له دې موضوع سره تماس نيسي او د سمو ليکو لپاره ليکوالان را بولي.

دلته د پوهاند رښتين د «ژب ښوونه» له کتاب څخه يو څو عمومي لارښوونې راخلو. دی وايي: «د پښتو کلمو په ليکدود کې بايد د پخوانو پوهانو او لرغونو ليکوالو د ليکدود پيروي وکړو، يعنې «هوس او ابدست» ونه ليکو، بلکې د پخوا په شان «اوس او اودس» وليکو. د پښتو د گرامري قاعدو متابعت او منښه وکړو، چې د کلمو د ليکلو لپاره يې مهم اساس گڼي، لکه: «کوي-وکړ» چې د «کول- کړل» له مصدر څخه جوړشوي، نو «کا - وکه» بڼې يې سمې نه دي. بايد په هماغه مخکنۍ بڼه وليکل شي.»

پوهاند رښتين زياتوي، د لغت ريښه او ايره ټول پوخ اساس دی، لکه: «هگۍ» چې اصلي ريښه يې «ها» ده، نو ښايي، چې په «هـ» وليکل شي.

بله خبره د التباس او يو شان والي لرې کول بولي، لکه: «ځور، ځړېدل» چې د «زور، زړېدل» د التباس له کبله په «ځ» ليکل کيږي. بايد هره کلمه ځانته او جلا وليکل شي که څه هم ادات او حروف وي، لکه: نه وي، نه گوري، له ده نه، په شان، نه خوري، نه شي، نه کړي... خو ځينې کلمې چې د يوې کلمې بڼه يې غوره کړې وي، له دې قاعدې څخه وتلې دي، لکه: پکې، ځانله، ټولواک، نشته.

په همدې توگه پوهاند رښتين عمومي گړدود ته اعتبار ورکوي او سپارښتنه کوي، چې بايد په ليکنه کې له څرمه گړدودو څخه کار واخيستل شي. وي‌يي دې تل په يوه بڼه وليکل شي... دی وايي، د پخوانيو

شاعرانو دیوانونه لکه د احمدشاه بابا او رحمان بابا په یو لیکدود لیکل شوي او له کندهار نه تر اټک پورې یوه ادبي لهجه موجوده وه او ادبي یووالی یې ساتلی دی، نو ځکه باید د هغوی له سبک څخه پیروي وشي. نوموړی سپارښتنه کوي، چې اوس هم د ادبي یووالي په لاره تلل او د یو لیکدود د سلسلې ټینګول په کار دي او که چیرته په یوه کلمه کې دوه درې علتونه یو ځای راشي، نو بیا ګرامري قاعدې او د کلمې ریښې ته ترجیح ورکول په کار دي. (رښتین، ژب ښوونه، ۷۵_۷۲مخونه)

ددې تر څنګه پوهاند رښتین د لیکدود ځینو ځانګړو لار ښوونو ته هم ګوته نیسي او وایي، (مې ـ ترې ـ پرې ـ دې) چې په پای کې سپک زېر لري، تل په کوچنۍ (ی) لیکل او د (چه) توری هم د وینا له مخې (چې) لیکل کیږي. (بوخته، لومړی، کوچنی، پوښتنه) او داسې نورې کلمې، چې سپک پیښ لري، په (و) لیکل کیږي. د تلل او وتل مصدرونو حالیه فعلونه په پښتو (ځ) لیکل کیږي، لکه: ځي، وځي، راځه، تیر وځي...) ټولې مطلقې ماضیګانې د مفرد مذکر غایب لپاره په موقوف صورت؛ یعنې بې له (ه) لیکل کیږي، لکه: ولوید ، وکوټ، وغورزید . د ولیدی، ولیدو ، ولیدیو بڼې پرېښودل شوي دي. په کومو کلمو کې، چې (ژ، ز، ج) درې واړه تورو غږونه موجود دي، یوازې په (ژ) لیکل کیږي، لکه: ژمی، ژوند ، ژبه، ژړا ، پېژندل... په کومو کلمو کې چې د پښتو (ځ) پرځای، په درې کې (ج) موجود وي، هلته باید (ځ) ولیکل شي، لکه: ځوان، ځای، ځنګل... د ځنه ، ځله، ورځ او ځلمې کلمې په پخواني لیکدود لیکل کیږي. د لرې ماضي ضمیرونه په (ووم ـ وو ـ وې ـ وي ـ واست، و ـ وو ـ وه ـ وي) ډول لیکل کیږي. (زه ـ زما ، زموږ) په همدې ډول سم دي. د

(لمبه، خمبه، چمبه، سمبال- تمبل، کلمې باید په (م) ولیکل شي او په (ن) باندې (لنبه...) لیکل سم نه دي. (هماغه اثر: ۷۲مخ)

په همدې توګه پوهاند رښتین (ګرامر پښتو، جزء دوم) کې د ((املاء و علامات تحریر)) تر عنوان لاندې موضوع څېړلې ده، وایي: «د کلمو په سمو لیکلو کې باید لاندې لارښوونې په پام کې ونیول شي او د هغې له مخې دې د لیکلو بڼه غوره او وټاکل شي:

- د پخوانیو کتابونو او لیکوالو پیروي،
- د پخوانیو ریښو په پام کې نیول،
- د کلمو تر منځ د التباس او ګډون مخنیوی،
- په لیکنه او وینا کې د هم آهنګۍ او یووالي ساتنه،
- د ژبې د شته والي او استقلال ساتنه
- د عمومي او ادبي لهجې متابعت.» (رښتین: ګرامر پښتو، جزء دوم، ۱۵۹ مخ)

په همدې ډول پوهاند رښتین په دې کتاب کې یو لړ نورې لارښوونې لري، چې موږ په لنډه توګه ورته مخکې ګوته نیولې ده.

پوهاند حبیب الله تږي په ((نوې ژب پوهنه او ژبني مسایل)) نومي کتاب کې د ژبې او لیک بېلابېلې برخې څېړلې دي. دا کتاب زیاتره ژبه او د لیک بدلون، لهجه او املاء (لیکدود)، د پښتو معیاري لهجه، ... ژبه او قدامت پسندي، د ژبې سوچه کول او معیاري لهجه څېړي. د معیاري لهجې په برخه کې نوموړی زیارکاږي لومړی ژبه او بیا لهجه وڅېړي او د دواړو ترمنځ توپیر جوت کړي. نوموړی د معیاري ژبې پرځای د معیاري لهجې استعمال غوره بولي، خو بیا وایي، د نړۍ په ځینو ژبو، لکه انګلیسي او یا فرانسوي کې له معیاري لهجې نه مقصد یوازې لیکنۍ بڼه

نه، بلکې ګړنۍ هغه هم راځې. دی وايي: ((معياري لهجې اکثراً د اقتصادي، سياسي او يا ثقافتي سيادت په نتيجه کې منځته راځي او عاميږي، خو له بده مرغه داسې کوم پښتني مرکز نشته، چې له يوې خوا دې په ټوله پښتونخوا کې د يوې ښايسته اوږدې مودې لپاره، سياسي، اقتصادي او ثقافتي سيادت ورپه برخه شوی وي او له بلې خوا دې په دغه مرکز کې يوازنۍ او يا لږ تر لږه هغه ژبه پښتو وي، چې د سياست او ثقافت د لومړۍ عرادي په حيث پکې استعمال او په نتيجه کې معياري او عامه شوې وي ... هغه څه چې نن يې ځينې کسان «معياري پښتو» بولي، هغه هم د کابل د کومې خاصې لهجې شکل نه دی، بلکې داسې مرکب معجون دی، چې فقط د ځينو فيصلو او حکمونو په واسطه تر يوې اندازې په کتاب او اخبار کې يې ځای نيولی دی. اما همدا نيمګړی کار هم په کابل کې، يعنې د مملکت په يوازني سياسي، اقتصادي او ثقافتي ستر مرکز کې شوی دی.)) (تږی: نوې ژبپوهنه او ژبني مسايل، ۱۲۱ مخ)

نوموړی ليکي، «يو شمير پښتانه په کابل کې را ټول او ځينې پريکړې يې کړې او د دوی ددغو پريکړو له مخې خلک دغه ژبه (معياري پښتو) بولي. دی وايي له بده مرغه دغو پريکړو زياتره د علمي ارزښتونو پرځای غير علمي ارزښتونه منلي دي. په دغو پريکړو کې غير علمي مسايلو کله کله دومره لاره لرلې ده، چې د فيصله کوونکو ډلو خبره رای ګيرۍ ته رسيدلې ده او علمي مسايل په اکثريت او اقليت د رايو فيصله شوي دي.» (هماغه اثر: ۱۲۳ مخ) پوهاند تږی وايي له ټولو نيمګړتياوو سره سره دا کار د ستاينې وړ دی. زياتوي، د نړۍ په ځينو نورو ژبو کې هم معياري لهجه نشته، لکه: جرمني. په جرمني کې يوازې ليکل شوی معياري او عام شکل موجود دی.

نوموړی وړاندیز کوي چې د پښتو ژبې د معیاري کیدو په برخه کې باید سیاسي او ثقافتي سرغندویي تل په پام کې وي، یعنې په هر صورت کې د معیاري پښتو د عاملو لپاره ضروري ده، چې سیاسي او ثقافتي قدرت ولرلی شي.

د معیاري پښتو تعمیم او دود لپاره پوهاند تړی په دې نظر دی، چې د معیاري پښتو په برخه کې موږ ډېر وړاندې نه یو تللي. د سیاسي او اقتصادي شرایطو پر بنسټ د یوې پرېکړې له لارې داسې یو ګام پورته شي، چې دا بهیر لا پسې چټک کړي. تړی وایي: ((زه ددې اقدام په سلسله کې دې لاندې مسایلو ته اشاره کولی شم، اما تر هر څه د مخه دا خبره د کولو ده، چې ددې کار اساس باید علمي اصول او مطالعات وي، نه عندي حکمونه او احساسات. او په دې صورت کې موږ د معیاري لهجې د جوړولو او عاملو په برخه کې برسیره پر اقتصادي، سیاسي او ثقافتي عواملو، چې ددې کار د بنسټ حیثیت لري، دا لاندې تجویزونه وړاندې کولای شو:

۱ـ ((معیاري پښتو)) دې یوازې په لیکنې (تحریر) پورې محدوده پاتې نشي، بلکې په ویلو کې دې هم وکارول شي او هغه داسې کیدای شي، چې موږ دې د جوړښت او رغاونې له پلوه تش یو ګړدود معیار وګرځوو او نور مواد دې لکه لغت، اصطلاح، ترکیب او داسې نور له نورو لهجو وي. په دې برخه کې د هغو شرایطو په نظر کې لرل ډېر ضرور دي، چې د یوې معیاري لهجې په منځته راتللو او تعمیم کې ډېر بنسټیز نقش لري او په دې څپرکي کې پرې دمخه پوره وغږېدم.

بله خبره په دې کې داده چې د ویونکو د شمیر زیاتوالی په پام کې ونیول شي. دریم یې قرابت دی له همسایه ژبو سره. څکه دا وروستی

مساله زموږ سره د پښتو په تعمیم کې ډېره زیاته مرسته کولی شي. کله که موږ فقط یوه لهجه د سیستم په حیث معیار گرځوو، په دې صورت کې کولای شو، چې د رسم الخط اصلاح کولو ته وروسته دغه لهجه په مدرسه، دفتر، دیوان او مطبوعاتو کې استعمال او د یو مرکزي قدرت په واسطه یې هم شفاهي او هم تحریري بڼه تعمیم کړو.

۲ـ کیدای شي چې یوازې په تحریري معیاري پښتو (لکه همدا اوس) قناعت وکړو او فقط تحریري شکل معیار وگرځو او په شفاهي شکل پسې یې ونه گرځو.

مگر په دې دویم صورت کې بیاهم زموږ کار یوه پاخه او ژور نوي نظر ته اړ دی او دا کار هرڅومره، چې ژر کیږي، هغومره ښه دی.

په پای کې باید وویل شي، چې هر ملت لپاره د یوې معیارې لهجې لرل، په هره بڼه چې وي، یو ضروري او مفید کار دی، اما دا بیا هم ددې مانا نه لري، چې غیر معیاري لهجې غلطې دي، بلکې مطلب دادی، چې هغه عامې او معیاري نه دي. که نه وي د خپلو ویونکو لپاره کاملاً درستې، ښې او صحیح لهجې دي. د معیاري لهجې د رامنځته کولو مساله فقط د ژبې د تعمیم خبره ده، نه د صحت او غلطۍ خبره.» (هماغه اثر: ۱۲۲ـ ۱۲۷ مخونه)

په دی لاره کې بله هڅه د پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار ده. نوموړي د زیاتو لیکنو له لارې په دغه بهیر کې ونډه اخیستې ده. د علمي او ژبنیو څېړنو په مرسته یې دا بهیر بډای کړی او په دې لار کې یې د رایه اخستنې پر ځای علمي او ژبنیو بنسټونو ته زیات ارزښت ورکړی دی.

پوهاند زیار د نورو لیکنو ترڅنگ د پښتو لیکلار په نامه یو کتاب ولیکه او د کره لیکنې پښتو بیلابیلې خواوې یې تر ژبنۍ څېړنې لاندې

ونیوې دی، ددې کتاب په باب وایي: «له هر زده کړه وال پښتانه سره دا ادعا وه، چې پښتو یې مورنۍ ژبه ده، نو په دې توګه د هغې پر ټولو ځانګړتیاوو او ربړو پوره پوهیږي.... دا لومړی ځانګړی اثر دی، چې په یوه علمي او افاقي میتود سره یې د درنو پښتو لیکوالو او نورو مینه والو مخې ته ږدي.

«لیکلار ـ د لیکنې سبک او ډول په مانا ده. په بله وینا زما دغه ټولې هلې ځلې، څیړنې، سپارښتنې او لارښوونې یواځې او یواځې دیوې ګډې، نګه، بشپړې او لیکنۍ معیاري پښتو لپاره دي، نه د ګړنې پښتو لپاره. زه د خلکو په خولو نه، بلکې په لیکنو او خپرونو کې پښتو سمول او کره کول غواړم.» (زیار: لیکلار، سریزه) د همدې کتاب په بل ځای کې (یوه، نګه، بشپړې او معیاري لیکنۍ ژبه) داسې څیړي: «یوه، دا مانا چې ګړدودي او لیکدودي توپیرونه په لیکنې او خپرنې برخه کې له منځه ولاړشي او د یوې یواځینې پښتو په توګه د کندهاري، ننګرهاري او غلجي- د راني له خوا یو راز وکارول شي.

۲ـ نګه: دا مانا چې تر وسې وسې یې خپله پانګه په کار واچول شي. که دا پانګه د بیلابیلو ګړدودو څخه وي، که له بېلابېلو ادبي متنو او یا له نوو جوړونو څخه. او هله به په کې بیا عربي او غربيورداتو ته ځای ورکول کیږي. په بله وینا یه سلو کې (۷۵) به نګه پښتو وي او پاتې (۲۵) به عربي او غربي.

۳ـ له «بشپړې» نه موخه او مطلب دادی چې د خپل مهال هر راز ژبنۍ اړتیاوې پوره کړای شي او د نړۍ د یوې پرمختللې ژبې په ژباړنه کې له ستونزو سره مخامخ نشي، بې له دې، چې خپله (۷۵) برخه جوله لاسه ورکړي او پورونې ته اړه شي.

۴_ له ((معياري)) يا ((كره)) څخه زموږ موخه داده، چې د ژبنيو آرونو (پرنسيپونو) له مخې د يوې معياري ژبې ټولې ځانګړتياوې ولري. په ((معياري)) کې پر درو تيرو ځانګړتياوو برسيره زيات څرګندنې ځواک (افادوي قدرت) ولري. د ((رواني))، ((نه ګډون)) او ((سپما)) ارونه (اصول) خوندي وساتي.

۵_ ((ليکنۍ)) دا مانا چې دغه پورتنۍ خبرې يواځې د ليکنې او پوهنې ژبې لپاره دي، نه د ګړهار او محاوروي ژبې لپاره. په وينا هرڅوک، سيمه او ټبر ازاد دی، چې عادي خبرې هر ډول وکړي، مګر کله چې خبره يوې علمي، ادبي او رسمي کارونې او استعمال ته رسيږي، بيا به ځان مجبوروي چې له (يوې، نګه، بشپړې او معياري) پښتو څخه کار واخلي.)) (هماغه اثر: ۸ _ ۹مخونه)

نوموړی پوهاند د پښتو د معياري کيدو لپاره د پښتو الفبايي او ليکنې ريفورم ستونزې ته ګوته نيسي، ځکه اوسنۍ الفبې د عربي الفبې ده، بيخي له پښتو سره سمون نه لري او ددې ژبې ټول غږونه، نشي څرګندولای. په دې توګه لوموړی بايد پښتو خپله الفبې ولري او بيا د هغې د ليکدود لپاره هلې ځلې وشي. د يوې ژبې د غوره ليکنې سيستم ځانګړتياوې دادي، چې د هغې ژبې د بيلابيلو سمبولونو (غږونو) لپاره بيلابيل سمبولونه (توري) ولري او د توپير او نه ګډون [التباس] پر بنسټ ولاړ وي. پوهاند زيار په دې عقيده دی، چې بنيادي سيستم هله رښتينوالی موندلای شي، چې د اوسني الفبايي سيستم پر ځای د لاتين هغه غوندې بيخي يو نوی سيستم رامنځته شي. (هماغه اثر: ۱۲مخ).

نوموړی پوهاند د يوې خپلسرې معياري پښتو ژبې له راتګ سره مخالف دی او وايي، چې ژبه هډو په خپل سر معياري کيدای نشي او که فرضاً که

شي هم، نو بيا په هغه اوسنۍ پښتو نه، بلکې يوه ګډوله، بې خونده، ژباړل شوې پردۍ ژبه وي. نوموړی لنډون د ليکنۍ پښتو د يو معيار په توګه مني او وايي چې لنډون په دې مانا نه، ګوندې په خپل لاس او مصنوعي ډول يې په ځينو برخو کې راوړو، بلکې په ځ، بېلا بېلو د يوه لنډ ډول غوره کول غواړو، له په ځينو ګرډودونو کې ((زه پوهيږم)) وايي او په ځينو کې (پوه شوم) يا (پوهيدلی يم او پوه شوی يم.) چې ښځينه بڼه يې ((پوهه شوې يم.)) راځي. همداسې پسې ټول تيرمهال ګردان ګورو، چې منځنی ډول يې ساده او لنډ او دويم يې مرکب او اوږد دی، نو له دې کبله همدغه منځني ډول ته معياري ارزښت ورکوو او په ليکنۍ پښتو کې ترې کار اخلو.

د ليکنۍ پښتو بله اړتيا د نوو لغتونو جوړونه يا نيولوګيزم دی. دا کار د نړۍ ژبې کوي. داسې ژبه به نه وي، چې له بشري پرمختګونو سره د منځته راتلونکو مفاهيمو لپاره له وړاندې په بشپړ ډول انډول ولرلی شي، بلکې هرې ژبې په خپل ـ خپل وخت خپله ګرده شتمني خوندي کړې او بيا يې تشې او جوړونو او ورپسې له نورو ژبو څخه په پورونو پوره کړې ده. پښتو ژبې کې دا دود هم موجود و، خو يوازې د ليکوالو او شاعرانو له خوا تر سره کيده. د اميرشيرعلي خان د پاچهۍ په دوره کې عسکري او اداري نوموني او له هغې را وروسته د پښتو مرکې او پښتو ټولنې نوموني ياد ولای شو.

پوهاند زيار وايي، نوې لغت جوړونه بايد يوازې په علمي، تخنيکي، مدني، اداري او داسې نورو مفاهيمو پورې تړلې وي، چې زموږ فکري او کلتوري زيږيده نه وي. هره جوړونه بايد په يوه سر نه وي او د څو تنو ځانګې والاوو او ژبپوهانو په ګډون تر سره شي.

په همدې ډول پوهاند زيار په دې ليکنه کې د نورو وړانديزونو او علمي او ژبنيو پرنسيپونو تر څنګه څه د پاسه دوه سوه اته بيلابيل مواد او لارې چارې پيشنهادوي او د يوې کره ليکنۍ پښتو د رامنځته کولو لپاره يې ضرور بولي.

که پورته ليکنې ته ځير شو او د پښتو ليکنې بنې ته پام وکړو، نو له ډېر ساده او څرګند ځای څخه يې پيل کړی دی. يوازې د يو څو ټاکلو کلمو د ليکنې په څرنګوالي غږيدلي او د هغوی د اصلاح او سمون لپاره يې هلې ځلې کړې دي.

که د سليمان ماکو تذکرة الاوليا وګورو او يا د پير روښان خيرالبيان او خوشال خټک د دورې پښتو ليکنۍ بنې ته پام وکړو او يا له هغې را وروسته دا نورو ته، نو پوره به راته څرګنده شي، چې هلته يوازې او يوازې د پښتو د څو کلمو او يا څو تورو په املاء او ليکنې ډول د نظر اختلافونه او يا د پوره سند او ليکنې نه درلودو ربړه وه او بس. خو که هرڅومره له هغې نه را تيريږو او پېر په پېر خپلې زمانې او عصرته راځو، نو دا تحول او بدلون بيابله بڼه غوره کوي او وخت په وخت لاپسې پيچلې کيږي.

دا ستونزې ټولې له يوه ځايه را ولاړيږي او سرچينه يې يوه ده. لکه څنګه چې پوهاند زيار وايي، دا ربړه د پښتو د خپلې ابيتې نه لرل دي؛ هغه ابيتې چې د پښتو د ټولو غږونو لپاره يوه نښه ولرلای شي. د عربي الفبې د پښتو لپاره بسنه نه کوي. همدا ربړه وه، پير روښان د هغو غږونو لپاره چې په عربي ژبه کې يې ګرافيمونه درلودل، يوه رساله وليکله او د پښتو د ځانګړو تورو لپاره يې ګرافيمونه ليکل. دا چې د روښان د پېر ليک ستونزمن و او لوستل يې د هر چا لپاره ممکن نه وو، هغه بيله خبره

ده، مګر د وخت او شرایطو له غوښتني سره سم یې په لیک او املاء کې بدلون راوست. د خوشحال ختک لیکني سبک دا ستونزې هوارې کړې او لیک یې محاورې ته نژدې کړ. املاء یې څه نا څه سمه او نثر ته یې د خبرو په څیر عادي بڼه ورکړه. په هغه وخت کې زیات پام یوازې د املاء او لیکني برخې ته اړول کیده. د نورو ژبو لغتونو او کلمې په زیات جرات او آن د یو ضرورت له مخې راوړل کیدی، په داسې حال کې چې پښتو ژبې خپل سوچه او مروج لغات د هغې لپاره لرل. د خوشحال ختک د کورنۍ نثر زیاته موده پاییږي، خو په شعوري توګه ددې کار د بشپړتیا لپاره کوم کار نه دی شوی. د امیرشیرعلي خان د پاچهی په دوره کې دا ضرورت احساس شو، چې باید عسکري نومونه په پښتو واړول شي او پښتو عسکري ژبه شي. له هغې وروسته ورو ورو پښتو ژبې ته پام زیاتیږي او په رسمي توګه د ښوونځیو په درسي نصاب کې شاملیږي. د امیر حبیب الله خان په وخت کې اخبار ته لار مومي. د امیرامان الله خان په دوره کې نومورې هلې ځلې زور اخلي او د لیک سموالي ته یې کار کیږي. د پښتو ټولنې له راتګ سره سم دا هلې ځلې پیاوړې کیږي او د پوهانو او لیکوالو پام د پښتو لیکنۍ بڼې ته اوړي. د خپل وخت، چاپیریال او پوهې له غوښتنو سره سم د لیک د سمون په هکله پریکړې کوي، البته موږ اوس دا قضاوت نشو کولای چې وواېو دوی دا کار په لوړه او علمي کچه کړی وای، ژبې ته دې د ژبپوهنې د بنسټونو له مخې پراختیا ورکړې او دا کار دې په لیک کې هم تطبیق کړی وای. د دوی دا سرته رسول شوی نیمګړی کار ددې سبب شو، چې راوروسته پوهان او لیکوالان په دې ډګر کې ور ننوزي او په خپلو علمي او ژبنیو څیړنو دا بهیر پر مخ یوسي. یو څه کار هم وشو. اروابناد استاد الفت «لیکوالي» ولیکله او په هغې کې یې

ځوانانو ته د سمې لیکنې په اړه لارښوونې وکړې. پوهاند رښتین د ژب ښودنې په نامه کتاب ولیکه او په هغې کې یې د «لیکدود» تر سرلیک لاندې د پښتو لیکنې او سمونې لپاره لارښوونې وکړې. پوهاند تره ی په دې لړ کې لومړی ژبپوهان دی، چې په ژبنیو اساساتو او علمي لاروچارو یې پر پخوانیو پریکړو او د لیکدود په لارښوونو کره کتنه وکړه او ځینې علمي پیشنهادونه یې وړاندې کړل، چې بې له شکه په دغه لار کې د دوی هلې ځلې او ژبنۍ علمي څیړنې د پوره ستاینې وړ دي. پوهاند زیار په دغه لاره کې په علمي او اکاډمیکه توګه هلې ځلې او څیړنې کړې دي. د نورو لیکنو تر څنګ یې د «لیکلار» په نامه کتاب وکښه، د لیک د سمون او د معیاري لهجې د اړتیا او رامنځته کیدو په اړه یې د ژبنیو څیړنو له لارې موضوع روښانه کړه او په دې لاره کې یې علمي ګامونه اوچت کړي او همدا اوس په مطبوعاتو کې دده له ژبنیو بریاوو څخه ګټه اخیستل کیږي.

د پورتنیو پوهانو او لیکوالو په خوا کې نورو پوهانو، لیکوالو او د ژبې او ادب مینه والو د هیواد په ورځپاڼو، مجلو، جرایدو، رادیو او تلویزیون کې په دې باب له خپل وس او توان سره سم هڅې کړې دي. البته ټول پوهان، لیکوالان او د ژبې او ادب خاوندان د هغې ورځې تږي دي، چې په هیواد کې یوه ګډه معیاري لهجه د لیکلو او ګړهار لپاره ولري او پښتو په ملي او نړیواله کچه د معیار جوګه کړي.

# دویم څپرکی

# معیاري ژبه او معیاري آرونه

## ۲_۱ معیاري ژبه

تر دې د مخه چې پر معیاري ژبه او معیاري گړدود خبرې وکړو، په کار ده، چې لومړی ژبه او گړدود وپېژنو او بیا د هغې له مخې معیاري ژبه او معیاري گړ دود وڅېړو.

د ژبې د جوړښت او د ندې د پېچلتیا له مخې اسانه، نه ده چې ژبه د یو وړ او هر اړخیزه پېژند (تعریف) په چوکاټ کې واچوو. که څوک هڅه وکړي، چې ژبه سمه راوپېژني باید د هغې جوړښت او ټولنیزه دنده له یوه مخه په پام کې ونیسي.

د ژبې آره او غوره دنده څه ده؟ ځواب يې خورا اسانه دی او هر څوک کولای شي ددې پوښتنې سم ځواب ووايي. ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهولو او راپوهولو ډېره پرمختللې او ډېره کاريدونکې بڼه ده. تفاهم له ليږدوونکي څخه اخيستونکي ته د معلوماتو (خبر- پيغام) ليږدول دي. د ژبې په برخه کې دواړه، ليږدوونکی او اخيستونکی انسانان دي او معلومات (خبر- پيغام) يا د غږونو په واسطه د هوا له لارې او يا د گرافيمونو په واسطه د کاغذ له لارې سرته رسيږي. ژبه د پوهونې را پوهونې يو ډول دی. البته د ژويو ترمنځ د رمباړو او اوازونو غريزه، چې د يو او بل د پوهونې لپاره يې کار وي، هم شته، چې دا بيا له انساني معيارونو سره اړه نه نيسي. دا هم لکه ژبه يوه پوهونه، راپوهونه ده، خوله دې پلوه د انسانانو او ژويو ترمنځ يو بنسټيز توپير شته. همدا راز الوتونکي هم خپله ژبه لري، چې هغه بياله دې دواړو سره توپير لري.

د ژويو غريز سيستم د اوازونو د جوړښت، ترښت او سپيڅلتيا د پيدا ايښت هغه واک و ځواک نه لري، چې انسانان يې لري. د ژبپوهنې له مخې ژبه يوازې انساني څرگنده او متمايزه پديده ده. (کرستل: ژبپوهنه، ۲۴۷مخ)

په دې توگه کله چې د نومونې له مخې پر «ژبه» د انسانانو ترمنځ د مخابرې د وسيلې په توگه زور اچوو، نو ټول هغه څه چې يو له بله پوهيدنه رامنځته کوي، د ژبپوهنې له مخه «ژبه» نه بلل کيږي. د ساري په توگه انسانان کولای شي د سر په خوزولو يو بل پوه کړي، د لاس په ښورولو، د شونډو، سترگو، وريځو، تندي او نورو په ښورولو خپله موخه يو بل ته وليږدوي، خو بيا هم دا مخابره د ژبپوهانو له خوا «ژبه» نه شي گڼل کيدی. ژبپوهان په «ژبه» کې په غږيزو- او ريزو ښنو زيات ټينگار کوي،

چې د يوه شخص له خولې راوځي او بل ته رسيږي. ژبپوهان د انسانانو ټولو اوازونو ته د ژبپوهنې له مخې، چې کولای شي تفاهم رامنځته کړي، هم «ژبه» نه وايي؛ لکه: په خوب کې خرهار يا د ساکښلو په وخت کې د اواز ايستل، چې ښايي يو پيغام يا يو خبر مخابره کړای شي، خو نه په هغه توگه چې موږ خبرې کوو، کلمې له خولې را وباسو او يا جملې جوړوو.

په دې توگه ژبپوهان لومړی پر غږيز - اوريز سيستم ټينگار کوي، بيا په سمبولونو (نښو) او د هغې ترڅنگ هغه ميثاق او قرار داد، چې يو شی نوموي. د ساري په توگه، که موږ د «راديو» نوم واخلو، نو ټولو خلکو ته هغه اله تر سترگو کيږي، چې د سندوخچې په بڼه جوړه شوې او خبرې او موزيک ترې را وځي.

د پورتنۍ وينا او څرگندونو له مخې ويلای شو، «ژبه د غږيزو او اوريزو سمبولونو يو پرله غښتی (منظم) سيستم دی، چې په اتفاقي او ميثاقي توگه د انسانانو ترمنځ شته او د انساني ټولنو غړي يې د يو بل د پوهولو او را پوهولو لپاره پر خوله راوړي.» يا: «ژبه د غږيزو او اوريزو نښو (سمبولونو) يو داسې کسبي او اتفاقي غونډال (سيستم) دی، چې د يوې ټولنې وگړي يې يو له بله د پوهولو او راپوهولو لپاره پر ژبه راوړي او يو بل ته يې اوروي.» (دکتور زيار: پښتو پښويه، ۱۲مخ). په همدې توگه پوهاند الهام د ژبې تعريف داسې کوي: «زبان چنان يک سيستم اکتسابي و ميثاقي سمبولهای صوتيست که افراد يک جامعه برای مفاهمه با يکديگر به کار ميبرند.» (الهام: روش جديد در تحقيق دستور زبان دري، ۱۲مخ)

تر دې ځایه مو ژبه و پېژندله او ومو ویل چې ژبه له ټولنیز پلوه د اند لېږد (فکري انتقال) او پوهیدنې وسیله ده، د خپل لوړ او پرمختللي جوړښت او کارښت له امله د تفاهم له نورو وسیلو څخه توپیر لري.

څرنګه چې مو مخکې ورته ګوته ونیوه، ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده، په ټولنه کې پیدا شوې او د بشپړتیا او پرمختګ ټول لاملونه (عوامل) یې په ټولنه کې نغښتې دي. یعنې ټولنه په سیده توګه د ژبې په پراختیا کې غوره نقش لري. همدا ټولنه ده چې د خپلو ټاکلو ځانګړتیاوو له مخې یوه ژبه په څو، څو بڼو ویشي، د وینا او خبرو بیله بیله بڼه ورکوي. دغه بڼه په یوې ټاکلې جغرافیایي سیمه، تاریخي پېر، ټبر یا ټولنیز پوړ او پاړکې کې را پیدا کیږي. که پوره پام وکړو نو څرګنده به شي، چې د یوې ټاکلې ژبې آن دوه تنه ویونکي کټ مټ په یو ډول نه ګړیږي؛ په دې مانا هر وګړی ځانله د وینا او خبرو جلا او بیل ډول لري، خو په یوه ژبه کې دننه دا توپیرونه دومره د پام وړ نه دي. په ژبه کې دا توپیرونه زیاتره په ګرامري جوړښت او لغوي کارونه کې رامنځته کیږي، چې البته ددې کار څېړنه زیات غور غواړي او سمدلاسه زموږ د وینا سکالو (بحث موضوع) نه جوړوي. پوهاند الهام لیکي: «...ژبه د انسانانو ترمنځ یو غږیز رمزي ارتباطي نظام دی. له نظامه څخه زموږ مطلب هغه پدیده، له داسې جوړوونکو توکونو څخه جوړه شوې وي، چې هر توک پر بل باندې متقابلې اغیزې ولري. اوس راځئ وګورو چې د ژبې د پدیدې د نظام توکونه کوم دي. ژبه په لومړي سر کې له انساني غږونو څخه جوړه شوې ده. د غږونو له ترکیب او ترتیب څخه کلمې او نور مانا داره عناصر جوړیږي. په بله پوړه کې کلمې او مانا لرونکې عناصر سره ترکیبیږي او عبارتونه او جملې جوړوي. د ژبې د غږونو، کلمو، عبارتونو او جملو

ترکیب هر یو خاص جوړښت لري، چې منظم او د خاصو قوانینو تابع دی. نو ویلای شو، د ژبې غړیز، لغوي او جمله یې جوړښتونه، هر یو، په خپله برخه کې ځانګړی نظام دی، چې د هغو له ترکیب څخه ژبه جوړیږي. له همدې امله موږ وایو، ژبه داسې یو نظام دی چې د څو نظامونو له ترکیب څخه رامنځته شوی وي؛ یعنې «ژبه د نظامونو نظام دي.» چې د ژبې غړیز نظام، صرفي نظام، نحوي نظام او مانایي نظام بلل کیږي... که اوس خپل پخواني تعریف ته، چې ومو ویل، ګړدود د یوې ګړنی ټولنې د ګړیدونکو ډله ییز توپیر دی، په دې معیار وسنجوو، چې ژبه د انساني افرادو ترمنځ یو غړیز رمزي ارتباطي نظام دی، نو کولای شو ووایو، چې ګړدود د یوې ژبې د بشپړ نظام فرعي نظام دي.» (الهام: «ژبه او ګړدود» کابل مجله، عقرب، قوس ۱۳۶۲)

د پورته وینا له مخې اوس کولای شو معیاري ژبه او معیاري ګړدود وپیژنو. که په یوه ټولنه کې له څو ژبو څخه یوه ژبه د لیک لوست او نورو چارو لپاره ومنل شي، نو هغې ژبې ته معیاري ژبه وایي. معیاري ژبې ته رسمي ژبه، ادبي ژبه، د لیک ژبه او نور ویل کیږي.

که د یوې ژبې د ټولو ګړدودو له منځه یو ګړدود، ټولنیز، اقتصادي، کلتوري او سیاسي دریځ د لوړوالي له پلوه ددغه ژبې په ښکارندویې د ورځنی لیکنې لپاره غوره شي، ادبي، عمومي، رسمي یا په لنډ ډول معیاري او کره ګړدود ګڼل کیږي. (دکتور زیار: پښتو پښتویه، ۱۳مخ).

د پورتنیو تعریفونو له مخې څرګندیږي، چې معیاري ژبه بیله او معیاري ګړدود بیل دی او یو تربله توپیر لري. دلته هم مقصد له معیاري پښتو څخه معیاري ژبه نه، بلکې معیاري ګړدود دی، چې د پښتو ژبې د

نورو ډېرو لهجو له منځه راوتلي وي او د هغو نورو ښکارندويي وکړای شي. په دې توګه معياري ژبه او معياري ګړدود يو تر بله توپير لري او بايد په يوه ګډه مانا ونه کارول شي.

په هغو هيوادونو کې، چې هلته څو ژبې وي، نو اړينه (ضروري) بريښي چې د خپلو ورځنيو چارو او اړتياوو د سرته رسونې لپاره يوه ګډه معياري ژبه ولري، خو که چيرته په هيواد کې يوازې يوه ژبه وي، هماغسي اړينه ده، چې ددې يوې ژبې له بيلابيلو ګړدودونو څخه يو يې معياري ګړدود ومنل شي. زموږ په هيواد کې پښتو ژبه د دري ژبې په خوا کې همدا ستونزه لري. دري ژبې خو د هيواد د نورو ګړ دودونو ترمنځ کابلی دا د خپل اقتصادي، سياسي او کلتوري سرغندويي دريځ له مخې معياري ګرځولی دی او په لاره کې کومه ربړه نه لري، خو د پښتو په برخه کې لا تر اوسه د ګډې معياري بڼې د رامنځته کولو لپاره کومه هڅه نه ده شوې. لامل يې هم د پښتنو تيت او پرک والی او د يو ګډ اقتصادي، سياسي او کلتوري مرکزيت نه درلودل دي. که په پښتو ژبه کې هرڅومره ليکوال او څيړونکي وي په هماغومره اندازه به د ليکنو ترمنځ توپير وي او يو يوازينی (واحد) ګډ معيار به ونه لري او هر يوه به ځانته ګړدود او جلا لاره غوره کړې وي.

نن سبا د پښتو ژبې يو ګډ معياري ګړدود او ليکنې ته تر بل هر وخت زياته اړتيا ليدل کيږي او تر بل هر څه بايد په دې لاره کې د ليکوالو، پوهانو او ژب څيړونکو له خوا هلې ځلې وشي. دلته پر هغو پرنسيپونو خبرې کول غواړم، چې د يوې معياري ليکنۍ پښتو لپاره ضروري او لازمې بريښي.

## ۲_۲: ټولنيز ارونه

ژبه يوه ټولنيزه پديده ده، ځانته د تحول او بشپړتيا تاريخ لري، له يوې ساده بڼې نه يوې پيچلې او بشپړتيايي بڼې ته پرمخ ځي. د ټولنې او چاپيريال د جغرافيايي، اقتصادي، کلتوري او سياسي شرايطو له مخې په بېلابېلو لهجو ويشل کېږي، ددغو شرايطو په نتيجه کې په بېلابېلو ژبو بدلېږي او وده کوي او يا برعکس د يوې ژبې بېلابېلې لهجې ددغو شرايطو له امله سره ګډون کوي او په يوې واحدې، کره او بشپړه ژبه کې ورکېږي او يو ځای کېږي. د ژبپوهانو د څېړنو او وينا له مخې يې په اوسنۍ مدني نړۍ کې ددې وروسته حالت کېدون زيات دی. (زيار: پښتو پښويه، ۱۳مخ)

## ۲_۳: ژبه که ګړدود

پښتو ژبه د خپل لرغوني تاريخ په بهير کې د بدلون او بشپړتيا دا پيرونه شاته غورځولي دي. د ځينو ټاکلو عواملو له امله، چې پورته ورته ګوته ونيول شوه، په بېلابېلو لهجو د افغانستان په لر او بر کې پرې خبرې کېږي او ليک پرې کښل کېږي.

په هره ټولنه کې ددغې ټولنې د لوړ پوړ عادتونه او دودونه په زړه پورې او منل شوي وي او نورو پرګنو ته هم لار مومي، چې په دې توګه يې لهجه او ګړنۍ بڼه هم نورو ته د منلو وړ ګرځي.

په بېلابېلو ټولنو کې به ((معياري لهجه)) په بېلابېلو ژبو کې په ځانګړې او ببېله بڼه منځته راغلې وي، خو اصلي او ستر عامل يې هماغه سياسي، اقتصادي او ثقافتي- فرهنګي سرغندويي ده.

په بیلابیلو ټولنو کې به «معیاري لهجه» په بیلابیلو ژبو کې په ځانګړې او بیله بیله بڼه منځته راغلې وي، خو اصلي او ستر عامل یې هماغه سیاسي، اقتصادي او ثقافتي- فرهنګي سرغندويي ده.

د نړۍ د بیلابیلو ژبو، لکه د Attic ګړدود په لرغوني یونان کې، لاتین په ایټالیه او نورې لویدیځې نړۍ کې، فرانسوي په فرانسه، انګریزي په انګلستان او الماني، په المان کې چې تر سیاسي، ثقافتي او اقتصادي سیادت لاندې یې مقبولیت وموند او په پای کې د معیاري ژبو په توګه په دغو سیمو کې رامنځته شوې. د بیلګې په توګه، اتیک یوه محلي لهجه وه، ویونکي یې لږ وو، خو کله یې چې ویونکو سیاسي مشرتابه تر لاسه کړه، څه نا څه یوه پیړۍ د معیاري ژبې په توګه وچلیده یا لاتین چې لومړی په روم کې ویل کیده او لکه څنګه چې د روم ښار سیاسي، اقتصادي او کلتوري سیادت درلود، نو لومړی په ایټالیا او بیا په ټوله لویدیځه نړۍ کې عامه شوه. معیاري فرانسوي او انګریزي هم دغسې سیاسي، اقتصادي او کلتوري مرکزونو؛ یعنې پاریس او لندن څخه راولاړې شوې، لومړی په دغو ښارونو او بیا په نورو ځایونو کې پراخه شوې. (ترې: نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل، ۱۱۷مخ) یا لکه پارسي په ایران کې، چې د نورو آریایي، ترکي او سامي ژبو په وړاندې معیاري ژبه ټاکل شوی ده: (زیار: لیکلار، ۱۱۲ مخ)

ښایي همدا پورته لاملونه او دلایل وي، چې تر اوسه پورې پښتو یوه معیاري بڼه نه لري او یا لږ تر لږه یو معیاري ګړدود یې نه دی رامنځته شوی. یا هم ښایي پښتو ته دیوې ګډې معیاري لهجې اړتیا نه وي احساس شوي؛ یعنې پښتانه په دې اړه کې نه وي لویدلي، چې پښتو یې

یوه اداري او دفتري ژبه وي، علمي او کلتوري ارزښت یې زیات شي او ددغو اړتیاوو له مخې ورته هلې ځلې وشي.

که له دې پوښتنې سره مخامخ شو، چې لږ تر لږه په اماني او له هغه نه په را وروسته دوره کې خو پښتو یوه رسمي ژبه شوه، نو باید لږوډېر غښتلتوب یې موندلای وای او معیاري ګړدود یې رامنځته شوی وای، خو باید په خواشینۍ سره ووایو چې په دغو وختونو کې پښتنو ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او کلتوري مرکزیت او سرغندویي نه درلوده، چې د پښتو ژبې له نورو ګړدود څخه یو یې پراخه او عام شي.

پوهاند تره‌کي لیکي: «دا چې په پښتو کې کومه شفاهي معیاري لهجه ولې نشته، ددې دلیل دادی، چې له پښتو لهجو څخه هیڅ یوې هم داسې کوم عام متداوم اجتماعي مقبولیت نه دی پیدا کړی، چې هغه دې په شعوري ډول زموږ تر عصره پورې هم رارسیدلې وي. معیاري لهجې زیاتره د اقتصادي، سیاسي او یا ثقافتي سیادت په نتیجه کې منځته راغلې او عامې شوې دي. مګر له بده مرغه داسې کوم پښتني مرکز نشته چې له یوې خوا دې په ټوله پښتونخوا کې د یوې ښایسته اوږدې مودې لپاره سیاسي، اقتصادي او ثقافتي سیادت ورپه برخه شوی وي او له بلې خوا دې په دغه مرکز کې یوازنۍ او یا لږ تر لږه هغه ژبه پښتو وي، چې سیادت او ثقافت د لومړۍ درجې په حیث په کې استعمال او په نتیجه کې معیاري او عامه شوې وي.» (تره‌کي: نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل، ۱۲۰-۱۲۱ مخونه)

سره له دې، چې پښتنو قومونو د تاریخ په اوږدو کې لویې واکمنۍ جوړې کړې او سیاسي قدرت یې تر لاسه کړی و، خو له بده مرغه د پښتو

روزنې او د ژبې د عامولو او پراخولو په فکر کې نه وو او نه يې د يوې معياري ژبې د اړتيا احساس درلود.

له دې ټولو خبرو سره سره موږ اوس يوې واحدې ليکنۍ بڼې ته په لومړي ګام کې او بيا شفاهي معياري ګرځدود ته په دويم پړاو کې اړتيا لرو او په دې لار کې بايد هر راز علمي او فرهنګي هلې ځلې تر سره شي.

لکه چې پورته ورته ګوته ونيول شوه او وڅيړل شوه، چې ولې پښتو تر اوسه معياري لهجه نه لري، علتونه مو هم څرګند کړل او ومو ويل چې ستر علت يې د کوم سياسي سيادت او مرکزيت نه درلودل دي. لازمه ده، چې ددې عواملو ترڅنګ اوس يوازې د پښتو پر ليکنۍ بڼې خبرې وکړو او هغو پرنسيپونو ته ګوته ونيسو، چې موږ سره په دې لار کې مرسته کولای شي.

**۲ـ۴**: د ګړنۍ بڼې پر ځای ليکنۍ بڼه: دلته مقصد داسې دی، چې ليکنه بايد د سم تلفظ له مخې وشي، نه د ګړنۍ بڼې له مخې؛ ځکه عوام وينا لنډوي او له دوو - دريو کلمو څخه آن يوه کلمه جوړوي، لکه: (څه يې کوي) چې عوام يې (څيکی) تلفظ کوي. ګړهار فردي څيز دی او ليکنه بايد فردي نه وي او د ژبې له جوړښت او رغاونې سره توپير ونه لري. په خبرو کې لنډون، تکرار او کله کله ګرامري سرغړاوی او تيروتنې هم راځي. په دې ډول بايد له دې خبرو او محاورو څخه هغه بڼه غوره کړو، چې د پښتو ژبې له عمومي رغاونې سره سمون ولري. پوهاند رښتين ليکي: ((بل اساس د ليک او وينا ترمنځ يووالی راوستل دي. د پښتو ژبې ليک او کښل تر ډېرې اندازې له وينا سره سم او يو شان دي، څه چې ويل کيږي هم هغه شان ليکل کيږي، نو ځکه ښايي چې د ليک او ويون ترمنځ زيات بيلتون رانه شي، لکه: کومک، ښار، توتي، چې (کمک، شهر، طوطي)

لیکل یې سم نه دي. (رښتین: ژب ښودنه، ۷۴ مخ)، پوهاند حبیبي هم وایي: ((په خپل نثر کې دا خبره اساس وګرزوو، چې (( ویل او لیکل مو سره سم وي.)) ( حبیبي: پښتو نثر ته کره کتنه، ۲ مخ)

پورته وینا داسي حکم کوي، چې له یوې خوا د ګړنی بڼې پر ځای لیکنۍ بڼه وي. دا کار باید هغه وخت عملي شي، چې په ګړنه کې لنډون یا د عوامو وینا نغښتی وي، لکه چې عوام (هـ) په الف او یا کله کله د واولونو بدلون او د یو د بل پر ځای یې راوړل غواړي، لکه (هلک) ته (الک) وایي او یا هم ځینو لهجو کې (مور) ته (میر)، (پلار) ته (پلور) وایي... له بلې خوا د ویلو او لیکلو مطابقت دی، هغه هم په داسې کلمو کې، چې پورته ورته ګوته ونیول شوه؛ یعنې په دې برخه کې د پښتو ژبې خپلې رغاونې او جوړښت پسې ولاړشو، نه له نورو ژبو نه په پښتو کولو پسې.

**۲ ـ ۵: ګرامري یو رنګي:**

دلته له ګرامري یووالي او یو رنګی ځخه موخه داده چې د یو ګرامري یوون (واحد) له بیلابیلو وارینتونو او بڼو څخه یوه یوازنۍ بڼه معیاري کړو، لکه: له (ورسید، ورسید، ورسیدو، ورسیدلو، ورسیدی، ورسیدلای) څخه یوازې (ورسید) واخیستل شي. یا لکه له (ولاړ، ولاړی، لاړ، لاړولو، څخه (ولاړ) له (وکړ، وکا، وکی، وکه، وکړو، وکړلو) څخه یوازې د (وکړ) فعل سم وګڼل شي، ځکه چې د قاعدې له مخې د (وکړل) له مصدر څخه جوړ شوی دی.

په هره ژبه کې د یوه ویې او کلمې لپاره راز راز هم مانیز وییونه (مترادفات) شته، چې البته دا کار د هغې ژبې بډاینه څرګندوي. څومره چې په یوه ژبه کې هم مانیز وییونه زیات وي. هماغومره هغه ژبه بډایه

وي. همانیز وییونه له آره او له اتمولوژیکي پلوه په یوه مانا نه دي راغلي؛ ځکه ژبه او توکونه يې سره توپیر لري او په هیڅ ژبه کې یو توکی له بل سره کټ مټ په یوه مانا نه دی راغلی، له بیلابیلو ګړدودو څخه ژبې ته راننوتي او یا ګرد سره له پردیو ژبو څخه. که څه هم په لومړي سر کې هم مانیز بریښي، مګر ورو ورو د ژبني توپیر تر دود لاندې راځي او لږ و ډېر مانیز توپیر پیدا کوي. دا چې د مانا له پلوه یو څه نژدیوالی لري، نو ځکه ورته همانیز وییونه ویل کیږي، لکه: ډبره، تیږه، کاڼی، ګټه - سوکړک، سوړسک، جواري، پیاځه، ګډلي - انګور، کور، میلوه - بزګر، ګروي، دهقان، کروندګر، کرګر، کښندي، ګرندوي، ښکاروز - پوړنی، پړونی، ځپونی، ځپوټی، ټیکړي... دلته باید تر دا منځ له ژبني آر «توپیر» سره سم همانیزوالی له منځه ولاړ شي او مانیزې دندې يې سره توپیر کړای شي. د ساري په توګه تیږه د ټولنیزې تیږې (سنګ) په مانا وکارول شي، ډبره د کاڼي تیږې په مانا، کاڼی د تول تیږې او اسماني کاڼي په مانا او ګټه د ودانۍ د تیږې په جاج (مفهوم) او داسې نور.

**۲_۷: نګه والی یا سوچه والی**

سوچه والی په دې مانا چې په لغوي برخه کې د فونولوژیکي او ګرامري برخې پرخلاف همانیز وییونه له یو مخې را واخلو او معیاري يې کړو او هڅه وکړو، چې د نویو مفاهیمو د څرګندولو لپاره پکې په مجازي یا توسعوي ډول مانیز توپیرونه پیښ کړو. یعنې د یو لغت ټولې بیلابیلې بڼې، د بیلابیلو ماناوو لپاره وګومارو. په نګه والي کې بشپړوالي هم نغښتی دی او هغه دا چې ژبنۍ پانګه ورسره پراخیږي او بشپړیږي.

دا هغه پرنسیپونه دي، چې د پورته یادو شوو ټولنیزو معیاري پرنسیپونو د تطبیق لپاره وکارولای شي، د عملي کیدون لارې چارې يې

ولټول شي او د هغو له مخې وکړای شو په بیلابیلو ګرډودي توکو کې د اخیستنې او غورځونې اجازه ولرو. کیدای شي ددې معیاري بڼې ټاکنه په اسانه وشي؛ یعنې له ټولو پښتنو (لرو بر) څخه یو لږ شمېر لیکوال او ژبپوهان راټول او د لیکنۍ پښتو لپاره یې پولې او بریدونه وټاکي.

**۲_۹: ډېروالی:**

ډېروالی، د ویونکو ډېروالی دی؛ یعنې د یو ګرامري ټوک له څو واحدونو څخه یوازې هغه معیاري شي، چې د ویونکو شمیر یې زیات وي.

**۲_۱۰**: ((توپیر او نه التباس، په دې مانا ، چې د یوه فونولوژیکي او ګرامري ټوک له وارنیټونو څخه هماغه یوه ته معیاري ارزښت ورکړ شي، چې له نورو معیاري انتخاب شوو توکونو سره یې توپیر وشي. یا په بله وینا د التباس او یو له بله د ټکر مخه یې ونیول شي. د ژبنیو عناصرو تر منځ فرق او نه التباس یو ژبنی قانون او ناموس ګڼل کیږي.)) (زیار: لیکلار، ۱۲۰مخ.)

**۲_۱۱: سپما**

سپما په دې مانا ، چې په لږو الفاظو کې ډېره مانا او مطالب ادا شي.

استاد الفت لیکي ((په لیک او وینا کې باید هیڅ قسم ابهام، التباس او خفا نه وي موجوده او دا کار هله کیږي، چې د کلماتو دلالت په خپله معنی باندې واضح او روښانه وي.)) (الفت: ۳۷ مخ). څومره چې کیدای شي یو مطلب دې په ډېرو لنډو کلمو او جملو کې تر سره شي. په لیکنه او جملو کې د بیځایه ترادف استعمال سم کارنه دی او دا عنعنه باید پریښودل شي. پوهاند زیار لیکي:

«سپما د معیار او کره والي له لومړنیو ځانګړتیاوو څخه ګڼل کیږي. همدا خبره په لیک او چاپ او په نورو سمو لیکنیو کارونو کې هم ارزښت لري؛ یعنې د معیاري لیکدود له شرطونو څخه هم ګڼل کیږي» (زیا: لیکلار، ۱۲۱مخ) ددې ټولو شرطونو په خوا کې باید اسانوالی، فصاحت، بلاغت، څرګندنې ځواک، مانوسوالی، پراخوالی او داسې ورته نور آرونه په پام کې ونیول شي. یعنې لیکنه تر وسې وسې باید اساني او رواني ولري. په تیره بیا د لوست په کتابونو کې دا زیات ارزښت لري. پر دې سربیره د ګرامري او فونولوژیکي توکونو په بڼو کې یوازې هغې ته باید زیات ارزښت ورکړشي، نه دا چې با قاعده وي او د استثناء مخه ونیسي. څرګندو مترادفاتو ته د ناڅرګندو په ځای زیات ارزښت ورکړ شي او هغه کلمه غوره شي چې د افادې ځواک یې زیات وي. همدا راز د کلمو په غوره کولو او استعمال کې د هغوی مانوسوالي ته هم پام ورګوځول شي؛ یعنې هغه کلمه غوره شي، چې زیات دود وي. لیکوالو او شاعرانو په خپلو لیکنو کې ځای کړې او دود یې موندلی وي. خو په دې برخه کې د ډېروالي شرط له نظره نه غورځول کیږي.

د پورته وینا له مخې که چېرته داسې پېښ شي، چې یو ټوک د لرغونوالي له مخې معیاري وګڼل شي، خو بیا د ویونکو د لږوالي له مخې یې ارزښت کم شي، نو دلته په خپله د لیکوالو او پوهانو ډله کولای شي، د یوه نومیرلي او ځانګړي میتود له لارې هر یو آر او شرط چې لازم ګڼې یا زیات پلویان لري، معیاري وبولي، ځکه چې ژبه په خپله یو اتفاقي او قرار دادی سیستم دی او تل د ریفومونو منلو ته تیاره ده.

## دریم څپرکی
## په نحوي (غونډله پوهیزه) برخه کې معیاري ارونه

ددې لپاره چې لیکنۍ پښتو مو د یادو شوو پرنسپیونو تر اغیز لاندې راوستې وي او د هغې پولې او بریدونه مو جوت کړي وي، نو د نوموړو آرونو په رڼا کې د نحوي، صرفي، صوتي او لیکدودي ټولۍ (کتګوري) څیړو.

**۳_۱: ادوات**

۳_۱_۱: اړیکوییکي (ارتباطي ادات): دا ادات اصلي جملې د څومره والي، څرنګوالي او ورته والي له مخې سره نښلوي او ((چې)) ورسره ملګرې کیږي. (چې) په خپله ځانته یو ارتباطي وییکی دی او د دوو ټوټو یا غونډلو اړیکې ټینګوي. ((چې)) په اوږدې (ې) لیکل کیږي او دلته د (کوم، څوک، چا، چیرې، کله) له ملګرتیا پرته راځي.

۳_۱_۲: تولوییکی (اضافت ادات): دا هغه ادات دي، چې څېزونه او شیان یو له بله نښلوي او یو د بل تر تول (ملکیت) لاندې یې راولي. په پښتو کې یوازې (د) ادات دا کار سرته رسوي، لکه: د زمري غاښونه، د لیلی ښایست...دا توري باید د معیار له مخې یوازې د اضافت لپاره وګومارل شي او د سربل په توګه له (څخه، سره، یې...) له سره ونه کارول شي؛ ځکه د اکارونه د لیکنی معیاري پښتو له بنسټونو څخه چپه بریښي، لکه: د زلمي سره د جلال اباد څخه راغلم.

۳_۱_۳: د ((له)) سربل تر یوه نامه د مخه راځي او په غونډله (جملې) یا غونډ (فقره) کې د هغه نوم پیر او دریځ ښیي، لکه: له کوره، یا له ښوونځي څخه ... (له) باید په هر راز چاپیریال کې د یو سربل په توګه معیاري وګڼل شي.

۳_۱_۴: ((په)) هم د ظرفي او آلي سربل په توګه په هر ځای کې ومنل شي، لکه: په کور کې، په لاس خبرې مه کوه.

۳_۱_۵: (پر) د استعلایی سربل په توګه چې له ((باندې)) اوستربل سره استعمالیږي. لکه: پر بام باندې ولاړه وه. کال پر کال ستا د راتلو اوازه شي. دا سر بل له کندهاري او تاریخي ادبي پښتو پرته زیاتره ګړدودونه له ((په)) سره ګډوي او د دواړو پر ځای (په) راوړي. په یوه کره لیکنی پښتو کې ددې دواړو سربلونو توپیر ضرور دی. که په ګړنی ژبه کې پر ځای نشي، توپیر نه کوي، خو په لیکنی ژبه کې یې سمه کارونه اړینه ده او د اشتباه او ګډون مخه نیسي.

۳_۱_۶: (تر) د پرتلیز استعلایي او ارتباطي اوستربل په توګه ومنل شي، لکه: تر تا هغه ښه دی. تر ګل تازه اوسې، تر دام لاندې دانه ده.

۳_۱_۷: ((څخه)) بايد د (څه، ځنې، نه) په وړاندې معياري وګڼل شي، لکه (له کابل څخه)...

۳_۱_۸: ((پرته)) يوازې د اوستر بل په توګه وکارول شي، لکه: له تا پرته مې رغيدل نشته. پرته له تا، پرته له هغوی او داسې نور ونه ليکل شي.

۳_۱_۹: کمزوري نومځري (ضميرونه)، لکه مې، دې. مو، يې، ترې، راته، درته، ورته، بايد په غونډله (جمله) کې دويم دريځ ولري او په شرطي او ارتباطي توکونو پسې پرتليز راوړل شي، لکه: که مې ته د ځان په خبر نه کړې. که دې خوښه نه وه، بيا يې مه راکوه. پوښتنه ترې وکړه. څه دې راته وويل، ماوانه وريدل. داسې ونه ليکل شي: که د احمد ورور دې وليده. که ته د ځان په خبر مې نه کړې...

۳_۱_۱۰: (سره) د يو اوستربل په توګه تر نامه وروسته ليکل کيږي، لکه: له تا سره مې کار نشته: او که د (سره) په مانا کارول کيږي، بيا نو دمخه راځي، لکه: سره له ستومانۍ پلې ولاړم. که چيرته د غونډلې په منځ کې وکارول شي نو بيا دې دوه ځلې (سره سره) راوړل شي، لکه له ستومانۍ سره سره پلې ولاړم. بايد زياته هڅه وشي، چې ((سره)) د سربل او ((سره)) د ((باوجود)) د مانا د ګډون او التباس مخه ونيول شي.

۳_۱_۱۱: (سربېره) بايد د (برسېره) په وړاندې معياري ومنل شي او له نامه او نومځري څخه وروسته وکارول شي. لکه: پر قمار وهلو سربيره شراب هم څښي.

۳_۲: د ايښي او ايښوني (مبتدا او خبر) سمون په پښتو کې ايښی (مبتدا) ترمخه او ايښوونی (خبر) ورپسې راځي. کړ (فعل) بايد د خبر لپاره ګردان شي نه د مبتدا لپاره.

پوهاند زيار ليکي:

«د جملې د مبتدا او خبر ترمنځ يو عمومي معياري اړيکي گرامر پوهانو منلي دي؛ هغه دا چې د جنس، عدد، حالت او داسې نورو گرامري اړخونو له پلوه، بايد د مبتدا او خبر ترمنځ يو سمون ټينگ اوسي. په دې توگه که مبتدا نرينه وي، خبر دې هم نرينه وي او داسې نور.» (زيار: ليکلار، ۱۲۷ مخ) په همدې اړوند استاد گل پاچا الفت ليکلي دي: «کله د مبتدا او خبر مصداق هم د تذکير او تانيث په لحاظ مختلف وي، يعنې که هغه لفظ چې مبتدا ورته وايو مونث وي او هغه لفظ چې خبر يې بولو مذکر وي، لکه: مړانه ښه صفت دی. يا برعکس مبتدا مذکر وي او خبر مونث، لکه: جهالت لويه بدبختي ده.» (الفت: ليکوالي، ۷۱ مخ)

دې وړاندې ليکي، د ليکوالو په ليکنو کې دا توپير شته، چې ځوک مبتدا ته اعتبار ورکوي او ځوک خبر ته. اروښاد الفت د پخوانيو او اوسنيو ليکوالو او شاعرانو په ليکنه کې دې ټکي ته گوته نيسي او وايي: «د اوسنيو ليکوالو په اثارو کې چې دغه راز مثالونه گورو د خبر رعايت په کې ډېر ليده شي او يو نيم مثال په کې داسې هم وينو چې مبتدا ته په کې اعتبار ورکړ شوي وي، لکه په لاندې جملو کې:

بينوا ليکي:

د پښتون ژوند سرترپايه بدبختي ده.

ميړانه د پښتنوالي ټينگ اساس دي.

د نر او ښځې رضا شرط ده.

رښتين ليکي:

سکندر... د سکندر لودي يارگار دی.

د ښار ننداره د سترگو د رپ کار دی.

سمندر یوه لویه هستي ده.
د هوټل باړه پنځوس کلداريې ده.
خادم لیکي:
دا کتاب زما د فکري او قلمي زیار نتیجه ده.
کلکه اراده یو مهم خوی دی.
دا نړۍ د ځینو دپاره دوزخ دی.
له دې لټون او پلټون څخه دا پایله (نتیجه) په لاس راځي چې په دغسې ځایونوکې خبر ته کتتل په کار دي، نه مبتدا ته؛ ځکه ډېر پر همدې خوا دي او د (دي) یا (ده) په لیکلو کې د نژدې جزء حال معتبر دی.)) (الفت: لیکوالي، ۷۳مخ)
په همدې ډول پوهاند زیار لیکي: ((د ایښي (مبتدا) او ایښوني (خبر) ترمنځ، هماغه سمون مطلب دی، چې د ګڼې، نوږي (جنس) او وګړي له مخې د کړند (فاعل) یا کړي (مفعول) او کړ (فعل) ترمنځ راځي. د ګڼې له پلوه سمون دا چې که کړند یوګړی وي، نو کړ ورسره یوګړی راځي او که کړند ډېرګړی وي، یا د ډېرګړی انډول (لکه جنس) وي، کړ ورسره ډېرګړی راځي. د نوږي له پلوه دا چې که کړند ښځینه وي، کړ ورسره ښځینه او که کړند نرینه وي، کړ ورسره نرینه کارول کیږي او د وګړی له مخې سمون دا چې له هر یو وګړي (لومړی، دویم، دریم) سره سم وکارول شي، نه داسې چې د لومړي وګړي کړ د دویم وګړي لپاره په کار واچول شي او نور.)) (زیار: د پښتو پښویه، ۲۱۴ مخ).
۳_۳: په ټولیز ډول باید په غونډله کې د ټولو عناصرو ترتیب د پښتو له نحوي جوړښت سره سم اوسي، لکه پر خبر باندې د مبتدا مخکیوالی او په دې دواړو برخو کې د ټاکلو توکونو ځای پرځای کول،

لکه: سنک له ښاره پلی راغی یا زما مشر ورور زلمی، نن په الوتکه کې له کندهاره کابل ته راغی. په دې جملو کې لیدل کیږي، چې په مبتدا کې فاعل او په خبر کې فعل له خپلو اړوندانو (متعلقانو) سره ټاکلی ځای نیولی دی، یوازې قید (نن په الوتکه کې) د خبر له برخې نه مبتدا ته لېږدیدای شي او هغه هم په دې ډول که موضوع ته زیات ارزښت ورکړ شي.

**۳_۴**: په نحوي چاپیریال کې باید د نومونو مغیره حالت په پام کې ونیول شي، لکه د پښتانه توره، د (پښتون توره) په وړاندې، یا د مشرتابه شرطونه د (مشرتوب شرطونه) په وړاندې، خو کله کله د اهنگ او ویلو د اسانۍ او خوږوالي له کبله باید دا د اوښتنې دود پرېږدو، لکه (پوهنتون) نشوکولاې (پوهنتیانه) تري جوړ کړو....

**۳_۵**: د غونډلو په جوړولو کې دې هڅه وشي، چې ساده، اساني او عام فهمه وي، ارتې او منکشفې جملې دې هم وي، خو نه په هغه اندازه چې مطلب پکې ورک شي. هڅه دې وشي چې د مبتدا او خبر واټن ډېر زیات نشي، که نه باید جمله ساده او یو ستوې شي.

# څلورم څپرکی
# صرفي ارونه

۴_۱: په صرفي (مورفولوژيکي) برخه کې معياري آرونه

۴_۱_۱: د برګړی مرستيال کړ (يې، ياستئ، استئ) په وړاندې بايد (است، ياست او واست) معياري بڼه غوره کړي.

۴_۱_۲: د تيرمهال کړ (ماضي فعل) د دريم يوګړي نرينه پايله بايد په زورکې غوره وګڼل شي، لکه: وخوړ، وليکه. همدا راز وګانه، وپيژاند....

۴_۱_۳: د لر تيرمهال کړ (بعيدې ماضي فعل) دريم يوګړي (مفرد) نرينه وګړي لپاره (وو) او دريم جمعي نرينه وګړي لپاره (وه) يا (ول) بايد معياري وګڼل شي. همدا راز پوهاند رښتين وايي: ((د لرې ماضي ضميرونه په دې وروسته ډول ليکل په کار دي: (وم، وو، وي، وئ، واست، ؤ، وي، وو، وه، وي)) (رښتين: ژب ښودنه، ۷۸مخ)

۴_۱_۴: له (خوړلاې) په مطلقه او استمراري ماضي کې د اقتداري او تمنايي اړخ يوه معياري بيلگه ومنل شي، لکه: وموخوړلای شو، کاشکې مې وخوړلای. خوړلای مې شو.

۴_۱_۵: (خوړل) بايد په ټولو بيچارو تيرمهالونو مجهولو ماضي گانو، وسمهال او وسترمهال (حال او استقبال) کې يوه معياري بيلگه وگڼل شي، لکه: وخوړل شو (شول، شوه، شوې...)، خوړل شوي دي (دي، ده، دی)، خوړل شوی و (شوي و، شوې وې...) خوړل کيده (کيدل، کيده، کيدې...)، و به خوړل شي اونور. په دې کړونو کې بايد آر کړ (اصلي فعل) گردان نشي او هماغسې د مصدر په توگه وکارول شي، يوازې مرستيال کړ بايد گردان شي. که د اصلي فعل پرځای کوم نوم له مرستيالو توکونو سره دغه راز (مجهول ماضي) فعل جوړوي، په کار دې گردان يې په پام کې ونيول شي، لکه: هلک مړشو، نجلۍ مړه شوه، هلکان مړه شول، نجونې مړې شوې... او (ما ونشو خوړلای) د (ماونه سوای خوړلای) په وړاندې معياري وگڼل شي.

اروانباد الفت ليکي: «ځينې فعلي جملې هم شته، چې زموږ ليکوال پکې عملاً اختلاف لري، لکه: (دا ښځه بدبخته گڼل کيږي – بدبخته گڼله کيږي.)

په دغسې مثالونو کې ښاغلی بينوا زياتره داسې ليکي:
دا بدبختي د ټولو بدبختيو سر بلله کيږي.
پښتنې خاوره بلله کيږي.
ښاغلی رښتين ليکي:
ژبه د قوم د لوړتيا اوله ځښته گڼل کيږي.
دوا په پارسل کې استوله کيږي.

داسې ښځه بدبخته گڼل کیږي.
د اختر ورځ گڼله شویده.
ښاغلی خادم وایي په دغسې جملو کې باید ((گڼل کیږي)) ولیکو.
دا راز افعال: ((ووهل شو، وواهه شو، ووهلی شو)) د لیکوالو په اثارو کې په مختلفو بڼو لیدل کیږي او په لیک کې گرامري اختلاف ښيي.)) (الفت، لیکوالي، ۷۳-۷۴مخونه)

۴_۱_۶: د (نه، به) او نور کمزوي نومځري، لکه: مې، دې، مو، یې، ... د فعلي ریښې د وروستاړو ترمنځ وکارول شي، لکه: وانه خیست، وایې وره، نه دې اخلي... لویدیز گړدود ته په دې برخه کې تر لرغونتوب د لومړیتوب حق ورکول کیږي.

۴_۱_۷: پښتو نومونه باید د نورو ژبو په پېښو ډېر گړي (جمع) نشي، لکه: سلها، زرها، .... باید (سلونه، زرونه یا لسگونه، سلگونه او زرگونه) ولیکل شي. همدا راز پښتو نور ویيونه باید د عربي د جمع تورو په مرسته جمع نشي، لکه سرحدات، باغات، رودات، چټیات....

دا کلمې باید د پښتو گرامر او نومونو د جمع کولو د قاعدو له مخې جمع شي، او سرحد د پښتو گرامر او د نومونو د جمع کولو د قاعدو له مخې جمع شي، او سرحدونه، باغونه، رودونه ولیکل شي.

۴_۱_۸: ټولې بشپړ تیرمهالونه (مطلقې ماضي گانې) د دریم گړي مفرد مذکر غایب لپاره په ځنډولي (موقوف) توگه یعنې بې له (ه، ي، و) لیکل کیږي، لکه: ولید، وکوت، وغورزید، وچلید.... (ربښتین، ژب ښوونه ۷۷مخ)

۴_۱_۹: پاته، ټول، لړ، ښه او داسې نور صفتونه باید د وګړي، ګڼې او جنس له مخې له موصوف سره سم ګردان شي، لکه لړې اوبه، ښې هندوانې، ټولې میرمنې....

۴_۱_۱۰: هر نوم، صفت یا قید چې فعلي ریښه ګرځي په همدې توګه ولیکل شي، لکه ځوان، ځوانیدل، ځوانیږي، ځوانوي... دا ښې د ځوان کیدل، ځوان کیږي او یا ځوان کوي په توګه ونه لیکل شي. پیلیدل، پیلیږي، پیلول، پیلوي هم په همدې بڼه ولیکل شي. کلمو ته باید فکر وکړو، که چېرته یې مانا بدلیده، باید هلته له داسې لنډیزه کار وانه خلو، لکه: (اړ) چې (اړکول) یې مانیز بدلون راولي او یا (ډېره یا تیره) د ډبریدل یا تیریدل په مانا نشي کارول کیدای.

۴_۱_۱۱: هیڅکله د نورو ژبو په څیر آر شمېر (اصلي) او پوړ شمېر (وصفي) عدد سره ګډ نه کړو، لکه: په پنځوس کې له پوهنتون ووتم یا په خپل ټولګی کې پنځه نمره یم. باید داسې وویل شي: په پنځوسم کې له پوهنتونه ووتم. یا په خپل ټولګی کې پنځمه نمره یم.

۴_۲: غږ پوهیز

۴_۲_۱: معیاري پښتو ټول ۳۲ غږونه لري. (زیار، لیکلار، ۱۳۲مخ) دی وایي په ځینو ګړودونو کې (ع) او (ق) هم دود دی، خو په آره پښتو کې دا غږونه نشته او باید معیاري ونه بلل شي.

پوهاند رښتین وایی: ((پښتو ژبه د الفبې ټول دیرش توري لري... لس د عربي ژبې توري هم په مستعار ډول یعنې د عربي په (پور وییونو) دخیلو کلماتو کې کارول کیږي.)) (رښتین: ژب ښودنه ۲۸مخ)

په دې توګه پوهاند زیار سپارښتنه کوي، چې باید د (چقړې، قلا) پرځای (چکړې، کلا) معیاري ومنل شي.

۴_۲_۲: (ځ، څ، ښ، ژ، ږ) د کاروني ځايونه دی و پيژندل شي او د هغوی پرځای دې (ز، س، خ، ج يا ز، گ) ونه کارول شي.

استاد الفت ليکي: ((په پښتو کې ځينې توري شته، چې په فارسي او عربي کې نشته، ددغو تورو پيژندل او په خپل محل کې يې ليکل په پښتو املا کې ډېر اهميت لري...   د (ښ) توری چې ځينې پښتانه يې (خ) ته نژدې ادا کوي، په ليک کې ددغه توري د ليکلو اختلاف له منځه تللی او يووالی يې ساتلی دی، لکه: اوښ، ښه، لوښی... د (ږ) توری هم ځينې پښتانه (ژ) او ځينې (گ) ادا کوي. دغه توري هم په پښتو املا کې د گړ دود د توپير مخه نيولې ده او د ليک يووالی يې ساتلی دی. (ځ) ددې توري اواز د (ز) نه لږ درووند دی، چې په ځينې پښتو کلماتو کې يې ليکل ډېر ضرور دي، لکه: ځان، ځنډ... (څ) وينگ (تلفظ) يې (س) ته نژدې دی. که ددغه توري پرځای (س) وليکل شي، مانا يې بدليږي، لکه: (څوک، څټ) چې (سوک، سټ) وليکل شي.)) (الفت، ليکوالي، ۳-۴ مخونه)

ددې تورو د پرځای ليکلو په باب پوهاند رښتين هم څرگندونې کړي، چې په لنډه توگه يې څرگندوو: د پښتو (ښ، ږ) په هغو ويونو کې ليکل کيږي، چې هلته په اول کې د (خ، ش) او په دويم کې د (گ، ژ) غږونه موجود وي، لکه: ښځه، پښتو، غاښ، غوږ، ږيره، ږمنځ... د تلل او وتل مصدرونو حاليه فعلونه په پښتو (ځ) ليکل کيږي، لکه: ځې، وځې، راځه... په هغو کلمو کې چې د (ژ، ز، ج) دريواړو تورو غږونه موجود وي، هلته يوازې (ژ) ليکل سم دي، لکه: ژمی، ژوند، ژرنده، ژبه، ژړا ... (رښتين، ژب ښوونه ۷۷مخ)

همدا راز د (ځ) د ليکلو لپاره په فارسي او يا نورو ګړدودونو کې د (ج) د توري له شتون سره سره هغه په (ځ) ليکل غواړي، لکه: جوان- ځوان، جنګل- ځنګل....

پوهاند زيار هم دې ليکنې ته ګوته نيولې او وايي: ((په معياري پښتو کې بايد ((ښ)) او (ږ) د منځنيو ګړدودونو لکه (وردګو يا اندړو) په وينګ ومنل شي، ځکه يو څه زياتوالی لري او بل په راديويي خپرونو کې لږ تر لږه د (ښ) دا همداسې دود شوی دی. د ساري په توګه هلته له کندهاريانو پرته نور ټول خبرلوڅان (ښ) له همدغه منځني وينګ سره سم د (ش) او (خ) ترمنځ تلفظوي. (زيار، ليکلار، ۱۳۴مخ).

۴_۲_۳: د واونونو ابدال په ځينو ګړدودونو کې شته، لکه (الف) پر اوږده (و)، يا لنډه (و) پر اوږده (ې) يا لنډه (ي) اړول. دا اوښتنې بايد معياري ونه ګڼل شي. د پوهاند رښتين په وينا د (مور) پرځای (مير)، د (راته) په ځای (روته)، د (هلکان) پر ځای (هلوکان) ونه ليکل شي. (رښتين، ژب ښوونه، ۷۵مخ)

۴_۲_۴: په وييونو کې د غږونو اوډون او ترتيب ته بايد د تاريخي لرغونتوب له مخې ارزښت ورکړل شي، لکه کښل د ښکل، کښته د ښکته، پسرلی د سپرلي، پښيمان د ښپيمان او نورو په وړاندې او يا يې د ويونکو ډېر والي ته پام ونيول شي.

۴_۲_۵: (موږ) بايد د ګړدودي زياتوالي له کبله د (مونږ) په وړاندې معياري وبلل شي. همدا راز ورسره زموږ د (زمونږ، دموږ، يموږ) په وړاندې.

۴_۲_۶: نمونځ، نمانځل، نمانځنه بايد د لرغونوالي له امله د لمونځ، لمانځل، لمانځه... په وړاندې معياري وبلل شي. ماسپښين،

مازديگر، مابښام او ماخستن دې د اسانوالي له امله په همدې بڼه پاتې شي.

۴_۲_۷: هغه، هسې، هغسې، هومره، د هماغه، هاسې، هاغسې او هغومره په وړاندې د اسانوالي له کبله معياري وبلل شي.

۴_۲_۸: (سول، سته، تس) تاريخي لرغونتوب لري او بايد معياري وبلل شي، خو که ګړدودي ډېروالي او يا ليکني دودوالي ته يې پام وشي، نو ښايي (شول، شته، تش) معياري ومنل شي.

۴_۲_۹: ژر- ژرنده – ژړل په همدې ډول په ليکنه کې مروج شوي دي، په (ز) باندې يې ليکل معياري نه دي.

۴_۲_۱۰: د (کښې) اوستربل (پسينه) په زياترو ګړدودنو کې له (ښ) پرته ويل کيږي، د ويونکو د ډېروالي له امله اوس (کې) دود شوی دی. کيناستل، کينول هم په دې بڼه ليکنې دود لري.

۴_۲_۱۱: په (بخښل) او نخښه) کې ځينې پښتانه (خ) نه غورځوي، خو څرنګه چې (بښل) او (نښه) اسان دي او زيات دود هم لري، بايد په همدې توګه وليکل شي او بل څرنګه چې (ش) په منځنې وينګ معياري بريښي نو له (خ) سره همرنګي له کبله ځانته راشي، لکه: د اخښل پر ځای ايښل د بخښل پرځای بښل، د نخښه پر ځای نښه، د خوښيني پرځای ښينه او داسې نور.

۴_۲_۱۲: ښوول، کښېښوول، پريښوول بايد د (ښودل، پريښودل) په وړاندې معياري ومنل شي. له دې امله د نورو مشتقاتو لپاره هم ځينې ګټه اخستلای شو، لکه ښوونه، ښوونکي، ژبښوونه، ښوونځي....

۴_۲_۱۳: د ښوونځۍ او پوهنځۍ په وړاندې ښوونځی او پوهنځی معياري ارزښت لري.

۴_۲_۱۴: «زما، زمونږ، ستا، ستاسي» د «دما، د مونږ، دتا، دتاسي» په وړاندې معياري ارزښت لري او تر اوسه يې په ليکنه کې هم همداسې دود موندلی دی.

۴_۲_۱۵: «نجلۍ» د «نجنۍ، جلۍ، جنۍ، جينۍ...» په وړاندې بايد معياري ومنل شي، ځکه تر اوسه همداسې دود شوی دی، جمع يې «نجونې» غوره دي.

۴_۲_۱۶: دويم، د دوهم پرځای، څلورم د ځلرم، پنځه د پينځه، اووه د اوه، اوولس د اوه لس يوولس د يوه لس، څوارلس د څورلس، نولس د نونس، درويشيت د دروويشت، څلرويشت د څلورويشت په وړاندې بايد معياري ومنل شي.

۴_۲_۱۷: هلې ځلې، هګۍ، هاخوا، راهيسې، راهيسې، هلـه ګوله، بايد په همدې بڼه وليکل شي. نه په الف، لکه الې ځلې، اګۍ، اخوا، اله ګوله، ...

۴_۲_۱۸: د «لمبه، خمبه، تمبل، سمبال» کلمې په «م» ليکل په کار دي. «لنبه ترپايه» ليکل سم نه دي. «رښتين، ژب ښوونه، ۸۷مخ». کوم ګاونډ غږونج چې په لنده، پنبه، خنبه، چنبه، سنبال، تنبه... غوندې وييونو کې پيښيږي، بايد په بشپړ ډول معياري ونيول شي، نه په نيمګړي ډول «زيار، ليکلار، ۱۴۳مخ».

۴_۲_۱۹: يوسم، يوسي ... ته د ويسم، ويسي ... په وړاندې معياري ارزښت ورکړای شي.

۴_۲_۲۰: ځغستل بايد د ځغاستل او زغاستل په وړاندې غوره وګڼل شي، ځکه له حال له ګردان سره يې سمون خوري.

۴_۲_۲۱: منځ د مینځ یا میانځ په پرتله غوره ښکاري، ځکه په منځګړي، منځني، منځوي، منځپانګې کې هم داسې لیکل کیږي او داسې یې دود هم موندلی دی.

۴_۲_۲۲: ورځنی او میاشتنی د ورځیني او میاشتیني په وړاندې، چې د پښتو د عمومي ویي رغاونې سره سمون لري، معیاري منل کېدای شي.

۴_۲_۲۳: ځنې د (ځ) په زورکې د (څخه) په مانا او (ځینې) د (بعضې) په مانا باید په همدې ډول ولیکل شي.

۴_۲_۲۴: ښیګڼه د ښیګړه په وړاندې معیاري ارزښت لري. په همدې ډول لګړه، انګړ، سپړل د لګڼ، انګڼ او سپڼل په وړاندې غوره ګڼل کیږي.

۴_۲_۲۵: څښل د چښل، چکل، څکل یا سکل په وړاندې لږتر لږه تاریخي لرغونتوب لري، له دې امله باید معیاري ومنل شي.

۴_۲_۲۶: څکل د (چشیدن) په مانا د (څ) په زور لوستل کیږي

۴_۲_۲۷: (اوښکه) باید د (اوښه) په وړاندې معیاري وبلل شي، ځکه له یوې خوا له (اشک) سره نژدیوالی لري او له بلې خوا (اوښه) د (اوښه، د اوښ ښځینه) سره ګډون نه کوي.

۴_۲_۲۸: خویندې، میندې، ترینډې باید د خوندې، مندې او ترندې په وړاندې معیاري وي.

۴_۲_۲۹: ختیځ او لویدیځ همداسې لیکل سم دي، خو پوهاند زیار وایي ددې لپاره چې ستاینوم یې اسان جوړ شي، یعنې د (شرقي او غربي) په مانا باید ختیز او لویدیز ولیکل شي او د نوم په حالت کې ختیځ او لویدیځ (زیار، لیکلار، ۱۴۹مخ)

۴_۲_۳۰: (کالنۍ او (کلنۍ) باید سره توپیر شي، لومړی د (سال) په مانا او دویم د (کله) د ستاینوم په توګه راځي. له دې امله لکه (کالنۍ) ولیکل شي د ګډون او التباس مخه نیسي.

## پنځم څپرکی

## د ویيزې (لغوي) برخې معیاري ارونه

**۵ـ۱**: ژبه او ژبني توکونه پر توپیر بنادي، د نړۍ له ژبو څخه په هیڅ یوه ژبه کې یوه کلمه له بلې سره کټ مټ په یوه مانا نه ده راغلې. دا ویيونه یا له زړو متنونو او یا نورو خپلوانو ژبو څخه لیکنې بڼې ته ورننوځي، لکه چې په مخکنیو څپرکو کې مور ته ګوته ونیوله. دا ویيونه لومړۍ هم مانا وي، مګر ورو ورو سره د ژبني اصل د توپیر تر دود لاندې راځي او لږو ډېر مانیز یا کاروني توپیر پیدا کوي، چې هسې د دود له مخې ورته مترادف یا هم مانیز ویيونه ویل کیږي. (زیار، لیکلار، ۳۷مخ) دا چې ورته هم مانیز یا مترادف ویيونه ویل کیږي، یوه پرتلیزه او نسبي خبره ده او ماناوې یې سره کټ مټ یو راز نه وي، بلکې یو څه نژدیوالی لري.

لکه د تیرو برخو په څیر دلته هم کولای شو په ویېزه برخه کې ځینې معیاري آرونه وکاروو. که چیرته اوښتون د انقلاب په مانا وکاروو، نو باید تحول ته (اوښتنه) او تغییر ته (بدلون یا ونجون) ووایو. مګر که (اندېښنه)، چې په یو ګړدود کې د (فکر) او په بل کې د (تشویش) مانا ولري، نشو کولای کوم جولیز توپیر پکې راوړو. ځکه کیدای شي په یوه ژبه کې یو ویی دوه یا څو ماناوې ولري او دوه یا څو ویيونه یوه مانا ولري. په معیاري بڼه کې له دې کار نه سترګې پټیدای نشي. لکه چې د مخه مو ورته ګوته ونیوه، د یوې ژبې مترادفات یوازې په یوه مانا نه دي او هرو مرو یو څه مانیزې باریکۍ لري، نو ځکه باید هغوی پیدا کړو او په خپل خپل ځای یې وکاروو. که موضوع ته ښه ځیر شو، نو څرګنده به شي چې مترادفات وروسته راغلي دي، ښايي آره او سرچینه یې د ګړدودونو او ژبو د ګډون اغیزې وي. ځکه هیڅ یوه ژبه له پور ویيو (مستعارو کلمو) څخه بچ نه ده او هره معیاري ژبه د هغه ولس د بیلابیلو ګړدودونو ښکارندویي کوي.

له دې امله باید د معیاري پښتو د ویې پانګې شتمني سمباله کړو او سپما او سپیڅلتیا یې له پامه ونه غورځوو. لومړی باید د مترادفاتو ربړه هواره کړو، یعنې هر یو یې په سمه توګه او خپل خپل ځای کې وکار وو.

ددې ترڅنګه په معیاري پښتو کې نګه والی او سوچه توب باید تر وسې پورې وساتل شي. د ټولو ګړدودونو له ویيونو څخه کار واخیستل شي او دا پانګه لا پسې معیاري او شتمنه شي.

همدا راز د بشپړوالي او پراخوالي لپاره باید معیاري پښتو د ویې پانګې ځانګړتیاوې په پام کې ونیسو یعنې په ګړدودونو او لرغونو

متنونو کې سوچه پښتو ویي وپلټو، ټول یې کړو او په کار یې واچوو. د بیلګې په توګه د ممبر لپاره په زړو متنونو کې (دریځ) کارول شوی (پټه خزانه، ۱۳۳۹ کال چاپ ۳۲مخ) چې ډېر سم او په زړه پورې ویی دی. البته دا کار بیلابیلې لارې لري. نور هغه وییونه دي، چې د نړیوال ارزښت له کبله ژبې ته لار پیدا کوي. د انډول ټاکل یې هم دود نه وي او یا ځانګړي نومونه وي، چې دې ډول ته پور وییونه وایي او په ټولو ژبو کې دود لري. د ویې پانګې د پراختیا لپاره کولای شو مترادف وییونه له ژبني قانون سره سم په بیلابیلو ماناوو وکاروو او د نورو اړتیاوو تشه پرې ډکه کړو.

۵_۲: د پورته وینا له مخې د پښتو ویې پانګې څو بیلګې وړاندې کوو:

۵_۲_۱: (اچول، ارتول، ارتېل او غورځول) څلور بېلابېل وییونه دي او د پښتو په بیلابیلو ګړدودونو کې په یوه مانا کارول کیږي، نو که په کوم ګړدود کې، چې یو یې کارول کیږي، هغه بل یې څوک نه کاروي. موږ کولای شو دا څلور سره معیاري کړو او له هر یوه څخه بیلابیله مانا واخلو، یعنې (اچول) د (انداختن). (ارتول او ارتیل) د (پرتاب کردن) او (غورځول) د (افګندن) په مانا وکاروو.

۵_۲_۲: له (از مایل. ازمیېل، ازمویل) څخه کولای شو، (ازمیېل) د تجربه کولو او (ازمویل) د امتحانولو په مانا معیاري کړو، یعنې تجربه په ازمیښت او امتحان په ازموینه واړوو.

۵_۲_۳: له (استول- لیږل) دواړو څخه (لیږل)، چې ګړدودي زیاتوالی لري، عمومي وکارول شي او (استول) په ځانګړو حالتونو کې، لکه (استازي) په خیر وکارول شي. سره له دې، چې دواړه توکه یې اوس په یوه مانا او جاج کارول کیږي.

۵_۲_۴: (انګارل) ځینې پښتانه د (خیال کول) په مانا کاروي، لکه: ما داسې نه و انګیرلي یا زه داسې انګیرم. نو که دواړه (انګارل) او (انګیرل) په دې ماناوو وکاروو، د معیاري پښتو یوه تشه به موږ که کړې وي.

۵_۲_۵: (اسکېرل) په ټولو ګړدودو کې نشته، که په معیاري ویې پانګې کې د (ځپلو) په مانا وکارول شي، په ځای کار به وي.

۵_۲_۶: اوڅار، څرګند، ښکاره او جوت څلور سره مترادف ویيونه دي، که هر یو یې په بېلا بېلو ماناوو وکارول شي، معیاري ارزښت به ورکړ شي، لکه اوڅار د شهیر، څرګند د مشهور، ښکاره د ظاهر او جوت د ثابت جاجونو ښکاروندیې کولای شي. که چیرته دې څلورو واړو ویيونو فعلي بنسټونو هم وکارول شي، نو نورې جوړونې او بیلونې ترې هم کیدون لري.

۵_۲_۷: (اوډل) د (ترتیب، تنظیم، تدوین) په مانا کارول کیږي، نو که د همدې ماناوو لپاره په معیاري بڼه ومنل شي، له نورو مشتقاتو سره د پور ویيونو انډول کیدای شي.

۵_۲_۸: (اوربل) چې د (اوربند او اوربس) یو بل بڼه دی او (اوربل) (پیکي) ته ویل کیږي، که لومړی یې (اوربل) او دا بل یې (وربل) معیاري کړونو د التباس او ګډون مخه به مونیولي وي.

۵_۲_۹: له (بډوډي، بډوګي، پښتورګي) مترادفاتو څخه که بډوډی معیاري بڼه غوره کړي، اسان به وي، ځکه د و یې جوړونې روستاړی ورپورې اسان نښلي، لکه: بډوډیز.

۵_۲_۱۰: د معیاري ویې پانګي د پراختیا او بشپړتیا لپاره نورې ډېرې ګټورې بیلګې، بیا پیښې ترڼګونه (تکراري ترکیبونه) دي، چې ډېر

لوی مطلبونه څرګندوي، لکه: کرکيله چې د ټولو کرنيزو چارو يو غونډ نوم دی... خبرې اترې د (مذاکرات، مباحثات) څرګندونه کولای شي. داسې نور بې شمير ترڼګونه (ترکيبونه) شته، چې اوږده، اوږده عبارتونه لنډوي، لکه سترې ستومان، نوی نزی يا نوی زوی، لوند خيشت، سوی ستي، چوپه چوپيا، سور پور... ددې په خوا کې نور مهملات هم شته، چې ځينې نوم په (م) او ستاينوم په (پ) تکرار وي. د مانا په پراخولو او پياوړي کولو کې ستر نقش لري، لکه: پيسې ميسې، چې له پيسو سره نورشيان هم تړي او يا کلک پلک، چې د ډېر کلک مانا ښندي.

په همدې توګه که د ژبې ټولې ويې پانګې ته مراجعه وشي او بيلابيلو ګړدودو ځخه هغه وييونه را واخيستل شي او معياري شي، چې يا په نورو ګړدودو کې نه کارول کيږي اويا د مترادف ويې په څير تر کارونې لاندې وي، نوله يوې خوا به مو د ژبې پانګه لاپسې شتمنه کړې وي او له بلې خوا به مو معياري ارزښت ورکړی وي او په بيلابيلو چاجونو او مطلبونو به مو موجوده تشه پرې ډکه کړې وي.

## شپږم څپرکی

## په ګړنیو هیزه (فرازیالوژیکي) برخه کې معیاري ارونه

هغه څه چې د لغوي پانګې په پراختیا او بډاینتوب کې ډېر ارزښت لري، هغه ګړنیو هیزه یا فرازیالوژیکي برخه ده. دا برخه نه یوازې په خبرواترو کې کارول کیږي، بلکې په لیکنۍ بڼه ځنې هم زیات کار اخیستل کیږي. ګړنې د ویېپانګې بشپړوونکې برخه او ددې په خوا کې ادبي رنګ هم لري.

ګړنه یا اصطلاح، چې Idiom هم ورته ویل کیږي، ((یو داسې غونډ دی، چې له راز راز مانا لرونکې ویې یا لرونکو (دوو یا ډېرو) ویېو او ویېکو څخه منځته راغلي وي او په یوې ژبه کې یونا اټکل کیدونکی لرغونتوب لري...

یوه ګړنه د داسي ويیو غونډ دی، چې په یوه غونډله ییز یا په بله وینا غونډله پوهیز (نحوي) چاپیریال کې ځانته بیلابیله جولیزه خپلواکي ساتلی شي.)) (زیار: لیکوالي، **۵۳** مخ)

ګړنې داسي یوه مانا رامنځته کوي، چې نه شلېږي. دا نه شلیدونکې مانا کله کله د خپلو توکونو له بیلابیلو ماناوو سره ورته والی لري او د شنلو په وخت کې یې مانا کوروټ له منځه نه ځي، لکه: خوله پرخوله کیدل، پرمخ تلل... او یا خو داسې وي، چې د بیلابیلو توکونو ماناوې یې ښکارندویي نشی کولای او له ټوټه کیدو سره هر ټوک خپلې ګوښې آرې مانا ته ورګرځي، لکه: غوږ رپول، لاس پرسرکیدل، زړه پخیدل....

په پښتو ګړدودونو کې ګړنې کوم کمی نه لري، یوازې د بدن د غړو، لکه زړه، لاس، پزه، سترګې... بې شمېره ګړنې جوړ وي، لکه: زړه اچول، لاس پورته کول، سترګې رپول، د زړه وینې خوړل.... که د پښتو ګړدودونو دا ګړنې پانګې ټولې شي او هرې یوې ته یې له خپلو ماناوو سره سم معیاري ارزښت ورکړ شي، نو د معیاري پښتو په بډاینه کې زیاته مرسته کولای شي. دلته یې په لنډه توګه یو څو د بیلګې په توګه راوړو:

۲_۱: (ګواښ) د خپلو ټولو صرفي او اشتقاقي بڼو سره له هغو مثالو څخه ګڼل کیږي چې د بیلابیلو ګړدودو په پام کې نیولو سره باید په یوې مانا او کارونې پورې تړلې پاتې نشي. ګواښ د (تهدید) او (اخطار) په مانا کارول شوی او دود شوی دی. خو د پښتو قاموس (ګواښ) د (جدا کردن از جنگ او تهدید، ګواښ ګرندی (شخص میانجیګیر)، ګواښندوی (شخص میانجیګیر و تهدید کننده) مانا کړی دی. که چیرته د مترادفو ویيونو لپاره په بیلابیلو ګړدودونو کې نورې ماناوې ولټول شي او

معياري ارزښت ورکړ شي، نو د معياري پښتو د پانګې بشپړتيا لپاره په زړه پورې کار بلل کيداى شي. ګواښ د تهديد او اخطار په مانا له دې ډلې ويېونو څخه شمېرل کيږي. کولاى شو هغه د ګواښ ځرې (چې له يوه څخه بل ته اخطار رسوي)، ګواښل... په مانا وکاروو.

۲_۲: (پورې) هغه ناخپلواکه ويى دي، چې په خبرواترو کې بې شميره تشې ډکوي. ترکيبي ځانګړتياوې يې، لکه: پورې وزي، پورې غاړه، پورې خوا... يا پورې وتل، پورې وهل... راغلي دي. پوهاند زيار ليکى چې په خپل ګړدود کې يې د پښتو قاموس پر مانا وو سربېره دا لاندې ماناوې هم پلټلې دي:

(( د راجع او متعلق په مانا، لکه: ستا د (په) خبرې پورې مې وويل.

- د نسبت په مانا، لکه: په تاسې پورې مو ږ ښه يو.

- د نژدې او متصل په مانا، لکه: په سر پورې مې مه دريږه!))

په دې توګه د ((پورې)) او ددې په څير نورو ويېو لپاره د استعمال بيلابيل ځايونه پيدا کړو.

۲_۳: معياري پښتو او د ويې پانګې د پراخولو لپاره سوچه ويېونه له قاموسونو او زړو متنو څخه راوباسو او ويې کاروو. پوهاند زيار په دې هکله د (پښتو قاموس، دوه ټوکه، پښتو ټولنې خپرونه) په حواله سپارښتنه کړې ده، چې دلته يې د موضوع د اړتيا له مخې کټ مټ را اخلو:

((... سوچه ويېونه همداسې له پامه لويدلي پرې نږدو، چې ښايسته غوټه برخه يې اوسنيو قاموسو ثبت کړې هم ده، لکه: کوتل د ذبح، ګواتل (زخمى کردن)، ځاځل د قهريدل، ږوى او لووى د شاهد، يمنون د دلاساکول، زد د اغيز يا اغيزې تر خنګه د تاثير، ځواک د قوت، زازود

هرو مرو او ترو ترخنگه د خواه مخواه، اوي دويي، ژبې او ژمنې ترځنګه د قول او تعهد، بريا له د دريچه او روشندان، بريا د دست آورد، زم د ټپ ترځنګه د زخم او ضربه، راوه د کريم او ملهم، ونج د بدل يا عوض (د سره رود د ککړک مياخيل وايي: زه به په ونج کې بل سړی درولېږم.) زرمنه د نفقه، پدول د چغلګر، ځوګل د سبوس، دک د علت، چاګله د مشکوله، زمنه، ورهنه، دنده، پازه د شغل، کسب مقرري او وظيفه پنهاو د دواطلبۍ، زدغه، زړغي او ټکه يا ټکيتوب د تردد او متردد والي، زړغی او ټکنی د متردد، ژاند او غوړاوی د چا پلوسۍ، غوړاوو د چاپلوس، توري د (ت) په زورکې، د (و) په زور او د (ر) په لنډ يا درانه زير) د اثاثيه او موبل، ژغی د مريض تذکره، تغند د ضرر او اذيت، نونه (لنډ واو) او دويم خج لرونکې م) د نقاهت او بيماري، لرغن د نارام او بيخوبه، لرزی د لو او ريبلو، لاس ماغو د دستکشې، کيش د عزت او ابرو، کيخ د قبر، لوړه د قسم، لارغه د مکث، ورګډی.د بې احتياط، وسکه له دې کبله يا په دې اړه، هان او منګ د عمر سن او اندازه ... په مانا راوړي دي.)) (زيار: ليکلار، ۱۲۳مخ)

ښايي داسې يو زيات شمېر وييونه قاموسونو ته نه وي رسيدلي. دا کار او ددې وييونو راټولول يو څه سر خوږی لري، چې هرڅوک ورته زړه نه ښه کوي.

۲_۴: پوهاند زيار په ليکلار کې د ډېرو وته ييزو وييو اصطلاح کارولې او ويلې يې دي، چې دا وييونه له يوې خوا ډېر مانيز وی او له بلې خوا د ډېرو اشتقاقونو او ترکيبونو لپاره د ستې او ټوک په توګه په کار اچول کيږي، که داسې وييونه له پامه وغورځول شي او يا لږ وکارول شي، په بله وينا د التباس او ګډون له ويرې يې ځينې له پام څنې

وغورځول شي، په لوی لاس به د ویې پانګې د پراختیا مخه نیول شوي وي. (زیار: لیکوالي، ۱۲۴_ ۱۲۲ (مخونه) دا دي د ساري په توګه د (اړ) بیلګه وړاندې کوو:

- اړ، د محتاج په مانا، لکه: زه پیسو ته اړ یم.
- اړ، د مجبور په مانا، لکه: زه تللو ته اړ یم.
- اړ، د مشغول په مانا، لکه: د خدای په عبادت اړ و. (پټه خزانه ۷۲ مخ)
- اړ، د محبوس، بدهضم او قبض، عبرت اندوز، زبچ شطرنج په مانا (پښتو قاموس، لومړی ټوک)
- اړ، د قبض، مانع، مزاحمت، ممانعت او شرط په مانا (پښتو قاموس، د مارګن سترن پښتو اتمولوژي.)
- اړه، ارتباط او تعلق په مانا، لکه: دا کتاب په ما پورې اړه لري.
- اړا، د لیړو یا لیړن په مانا
- اړایی، د احتیاج او قحط په مانا
- اړاند، د ګرفتار په مانا
- اړی، په لنډه (ی)، د صرفه په مانا، لکه: د میوې خوړلو ته یا پر میوی خوړلو اړی مه کوه!
- اړون، د احتیاج او کاچي په مانا
- اړي، د محتاج په مانا
- اړی، په نرمه (ی) د کوچنیانو یو ډول لوبه
- اړي، (ک، ف، س) د ګډ یا لکۍ والا پسه په مانا ...
- اړتیا، د احتیاج په مانا، چې اړتوب، اړوالي او داسې نور هم راځي

ـ اړیدل، محتاج کیدل او قبض کیدل مانا لري
ـ اړول، چپه کولو اقامت او بودو باش کول.
ـ اړوش، مجبوریدل، محتاجیدل او بندیدل
ـ اړیستل، ناچارول یا مجبورول
ـ اړیسته، مجبوري، نا چاري
ـ اړو دوړ، د اغتشاش، زدو خورد او انقلاب په مانا...
ـ اړیکی په لومړۍ اوږده او دریمه نرمه (ی) د قبض، تعلیق، رابطه ... په مانا، چې نن سبا د اړیکه په ډول هم مشهور شوی دی، خو (اړیکه) د تماس مانا لري... د همدې لړۍ نوې رغاونې لکه اړوند، اړوندي، اړوندتیا.

۲ـ۵: د عربي ژبې وییو ته، چې د مذهبي او دیني برلاسیو له امله تراوسه پورې پښتو ژبې ته راننوتي او په خلاص زړه کارول کیږي، یو برید وټاکو او بسنه پرې وکړو. ددې کار موخه د ژبې سوچه کول نه دي، لکه په نړۍ کې به داسې ژبې نه وي، چې د نورو ژبو وییونه پکې و نه کارول شي، خو په دې کار کې باید افراط ونشي او د استاد الفت په وینا داسې ونشي، چې موږ دې د پښتو موجود او مستعمل لغات وغورځوو او پر ځای دې پردي لغات بې ضرورته یوازې د تفنن لپاره راوړو. دا کار ژبې ته زیان رسوي او که پایښت ومومي ښایي ژبې ته بیخي بل رنګ ورکړي او پردۍ یې کړي. استاد الفت وایي: ((نن د قلم ژبه د پښتو له ډېرو لغاتو سره نا اشنا ده، ډېر ژوندي لغات، چې د عوامو په لهجه کې زیات استعمالیږي، د لیکوالو په خوله نه راځي او په ځای یې پردي لغات لیکل کیږي. موږ اوس د (تش) په ځای (خالي) لیکو، (زړور) ته (دلیر) او (زمري) ته (شیر) وایو د (د روند) په ځای (سنګین) او د (مینې) په ځای (محبت)

لیکو، (ترکاڼ) ته (نجار) او (پښ) ته اهنګر وایو... د پښتو لمر او سپوږمۍ رانه په فارسي ابر کې پنهان شوه، ځکه یې ځای افتاب او مهتاب یا شمس او قمر وینو او توری په حرف بدل شو.)) (الفت: لیکوالي، ۲۱مخ)

په همدې توګه استاد الفت وړاندې وایي، چې که پردي ویيونه یوې ژبې ته راننوزي، هغه هم یوه اندازه لري او باید وساتل شي، خو د ژبې لیکنې او جوړښت ته باید پام وساتل شي او د نورو ژبو په لیک جملې جوړې نشي، د ژبې ګړهار او ګرامر ته ارزښت ورکړ شي. نوموړی د یوه لیکوال لیکنه د بیلګې په توګه راوړي: ((دغه صورت د مستقبل د وارداتو د امتزاج نه یو ځلانده ماضي ته تخلیق ورکوي.)) (هماغه اثر: ۲۴مخ) که دې غونډلې ته پام وکړو، نو د پښتو ژبې څرک پکې نه لیدل کیږي. د جوړولو ډول یې ښه نه دي او زیاته ورانې لري.

پوهاند الهام د ف. م. برزین په حواله لیکي: ((کله کله د لیکنې ژبې له معیاري کیدو سره سم د ژبې د نرږه کولو تمایل، چې مقصد یې له خارجي کلمو څخه د ژبې پاکول وي، سر را پورته کوي. دغه کار زموږ په هیواد کې هم پیل شوی دی. د ژبې د پاکولو تمایلات ژبې ته وده نه ورکوي، بلکې له رکود سره یې مخامخ کوي. ځکه چې د خلکو یو کوچنې ټوک ته یې منحصروي او د پرګنو له واک څخه یې باسي.)) پوهاند الهام زیاتوي:

((دا خبره یوڅه توضیح ته ضرروت لري. دلته زما په فکر باید له دوو ځانګړو مقولو څخه کار واخلو:

((نرږه کول او نرږه ساتل: نرږه کول، زه په هغه اګاهانه عملیې باندې اطلاقوم، چې لیکوال وغواړي ټولې هغه خارجي کلمې له خپلې ژبې څخه وباسي، چې د ژبې د لغاتو د پانګې برخه او د ژبې د نظام جوړوونکې

توک گرځېدلي وي. د ژبپوهانو په نظر دغه سم کار نه دي او د ژبې وده او غنا له خنډونو سره مخامخ کوي، فصاحت او بلاغت د تعقیدونو په لومو کې کښېباسي او محدوده قشري ډله ییزه بڼه ورکوي، خو د ژبې نرږه ساتل، یعنې ژبې ته د خارجي عناصرو د ننوتلو د هجوم مخه نیول هومره نامعقول کار نه دی. که چیرې یوې ژبې ته د خارجي کلمو د یرغل مخه خلاصه پرېښودله شي، د ژبې اصالت ته تاوان رسیږي، خو دغه کار دقت او احتیاط غواړي: د علمي - تخنیکي مقولو لپاره د انډولونو موندنه او ټاکنه باید د ژبې او د اړوندو علومو د ماهرانو له خوا تر سره او تعمیم شي... باید دې خبرې ته پاملرنه وشي، چې په ځینو موادو کې معیاري ژبې د تدریجي اوښتون په پروسه کې له یو مبدا ګرډود څخه نه رامنځته کیږي، بلکې په څه نا څه مصنوعي بڼه د زیاتو ګرډودونو د ځانګړتیاوو له یو ځای کیدو څخه جوړیږي.» (الهام: «ژبه او ګرډود»، کابل مجله، عقرب، قوس، ۱۳۲۲ کال)

د عربي ژبې د پورویېونو په برخه کې البته د نورو ژبو په څیر تر هر څه دمخه فونولوژیکي (صوتي) اړخ ته هم ډېر ارزښت ورکړو او هغه ویېونه زیات وکارو، چې د پښتو له فونولوژیکي ځانګړنې او خاصیت سره سمون ولري او د خپلواک او همرنګ کولو چانس یې ډېر وي. (زیار: لیکلار، ۱۲۲مخ).

۲_۲: هغه ویېونه، چې له اروپایي او لویدیځو ژبو څخه پښتو ته راننوتي او د نړیوال ارزښت له امله یې په پښتو کې دود موندلی دی، ومنو، خو په یو مخنیز ډول نه، بلکې ځینې ټاکنې او ژباړنې هم پکې وکړو. دا کار په دې توګه کولای شو، چې (-لوژي) په پوهه او پوهنه او (-یزم) په واله واړوو، لکه: ژبپوهنه، ټولنپوهنه، هواپوهنه، لرغونپوهنه...

ځتیځواله، پانګواله...

۲_۷: د پورتنیو یادښتونو او یا نورو پرنسیپونو له مخې چې کوم ویې پانګه د معیاري پښتو لپاره راغونډیږي، باید یوه جامع (پښتو – پښتو قاموس) ته وسپارل شي او د هغې له مخې کیدای شي په نورو دوه ژبیزو قاموسونو کې ځینې کار واخیستل شي. پوهاند زیار پر داسې قاموسونو، چې د اخځ په توګه کارول کیدای شي، زیات ټینګار کوي او وایي: ((دا راز یو سیند، چې د قاموس لیکنې پر نوو بنسټونو او میتودونو به کره او عیار وي، یوازې د معیاري پښتو د ویې پانګې نه، چې د ټولو معیاري ټاکل شوو ژبنیو او ژبپوهیزو دودونو او قواعدو، هم د لیکدود په ګډون یوه ښکارندویه ریکارد اوسي. ځکه که مخکې له مخکې معیاري ویی پانګه په دې ډول ثبته نشي د معیاري ګرامر لپاره به مواد له کومه شي! او چې معیاري ګرامر رامنځته نشي، د معیاري ژبې رامنځته کیدل به څنګه کیدون ولري؟ (زیار: لیکلار، ۱۲۷مخ)

## اووم څپرکی
## په ليکدودي برخه کې معياري ارونه

تراوسه مو د ژبې او د هغې پر بېلابېلو ګړدودو خبرې وکړې؛ ژبه مو وپېژنده او له ګړدود سره مو د هغې توپير څرګند کړ. بيا مو هغو آرونو ته ګوته ونيوه چې په بېلابېلو ژبنيو: لغوي، مورفولوژيکي، وييزي (لغوي) برخو او ليکدود کې معياري ارزښتونه لري. په دې برخو کې مې يو شو آرونه (نه ټول) د بېلګې په توګه راوړي او د هغوی د کارونې او د هغوی له مخې د داسې نورو ورته آرونو د موندلو له لارې، معياري ارزښتونه راټول کړای شي او معياري ژبنۍ پانګه بډايه، شتمنه او وکارول شي. په دې برخه کې غواړم پر ليکني معياري ارزښتونو باندې وغږېږم، خو تر هغې مخکې غواړم د ژبې او ليک ترمنځ اړيکو باندې رڼا

واچوم. ژبه مو دمخه پېژندلې ده او لیک: «له ګرېز او سیلابي لیک نه نیولې تر الفبايي لیک پورې) له آره په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول پر ژبه بنا دی یا په بل عبارت «لیک» د ژبې پر اساس د ژبې د تمثیل لپاره جوړ شوی، خو ژبه څرنګه چې ښايي هغسې نشي تمثیلولای. آن د معمولو الفبايي لیکونو څخه یو هم دا نشي کولای چې ژبه دې د هغې له ټولو خصوصیاتو او میمزاتو سره تمثیل کړي.» (تړی: نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل، ۲۹مخ)

پوهاند زیار وایي: «لیک د ژبې کوم ټوک او جزء نه، چې تش یو انځور یې دي. د ژبې اومه مواد غږونه دي او د لیک دا توري؛ په غونډه نوم ابیتي یا ابیڅي. بشپړلیک هماغه دی، چې د یوې ژبې د هر یوستوي غږ لپاره یوه نښه (توری) ولري. داسې غږ لیک ته فونټیک لیک ویل کیږي. مګر د نړۍ په ژبو کې یوه دا هم هیڅ دا راز لیک نه لري. لږ ساده ډول یې بیا فونیمیک لیک دی، چې لاتیني، یوناني، الماني، روسي یا ترکي لیکونه ورته په پرتلیز ډول یو څه نژدې دي، که نه د نړۍ زیاتره لیکدودونه نیمګړي دي. ددې پرځای چې د هر غږ یا اواز لپاره یو توری ولري، یوې څېنې (هجا) یا ویې لپاره یوه نښه یا توری لري.» (زیار: لیکلار، ۱۲۷_۱۲۸ مخونه).

تړی د لیک تر سرلیک لاندې دې موضوع ته داسې ګوته نیسي: (نور خو څه کوي، چې حتی په عمومي ډول سره دا لیکونه د ژبو لومړني فونیمونه Segmental Phoneme هم په څرګند ډول سره نشي ښودلای. مثلاً په پښتو کې د «پټول» کلمه له آره د اوو لومړنیو فونیمونو نه جوړه ده، مګر په موجوده لیک کې یې یوازې څلور فونیمو نه د (پ، ټ، و ، ل) په واسطه ښودل کیږي.) تړی: نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل، ۳۰ مخ)

د پورته وينا له مخې د پښتو د لرغونې ژبې ليکل شوې بڼه که اوس زموږ لاس ته راشي نو لوستل به يې ګران وي. د پښتو اوسنی ليک د عربي ليک انځور دی. هغه توري، چې په پښتو ليک کې کارول کيږي او په عربي کې نشته، نوې بڼې ورته ټاکل شوي او د هماغه عربي ليک په لاسوهنه د پښتو لپاره عيار شوي دي. په دې توګه د خپلواکو غږونو لپاره يوازې د عربي (و، ا ـ ی) توري شته. دا غږونه نشي کولای په پښتو کې د ټولو واولو (خپلواکو غږونو) ښکارندويي وکړي، ځکه نو يو شمير کلمې په يوه بڼه ليکل کيږي، لکه: تورن (افسر) او تورن (تهمتي) يا غور (جاغور) او غور (تعمق) يا لور (دختر)، لور (داس)، لور (پيروزينه) سره (با) او سره (کود) او سره (سرخ) او داسې نور. دا کار لوستونکو ته زياتې ستونزې پيدا کوي، البته يوازې د ليکونکي په ګټه دی چې ژر ژر ليکل کيږي.

له دې امله زموږ اوسنی ليک د رغاونې او جوړونې پرځای بيخې اوښتون ته اړتيا لري. ((هغه دا چې يې بيخې ابيخي واوړي او د عربي تورو پرځای نړيواله فونميکي ابيخي رامنځته شي. که څه هم بنسټ يې لاتين الفباده، مګر لږو ډېر له نورو ليکدودونو او ځينو نورو نښونښانو څخه پکې کار اخيستل شوی دی. لکه (غ) دا يې چې يو يوناني توری دی او د (ډ، ټ، ړ، ڼ) او داسې نورو لپاره تر (n, r, t, d) لاندې ټکی ايښودل کيږي.)) (زيار: ليکلارٌ، ۱۲۸مخ)

په همدې ډول پوهاند تږي دې موضوع ته ګوته نيولې او وايي: ((لنډه دا چې ننني پښتو املا يا مروج رسم الخط د فونيم او ګرافيم د مطابقت له اصل نه کاملا لرې او يوې توجه ته اړه لري. ددې لپاره چې پښتو ته يوه کره املا او رسم الخط او حتی د ليک سيستم وضع شي او په دې ترتيب هغه خنډونه، چې د ليک او لوست د زده کړې په لاره کې

پراته دي، لري شي، لازمه ده ددې اصل د تطبيق کوښښ وشي، چې هر لومړنی فونيم د يو توري يا ګرافيم په واسطه وښودل شي. البته دا چې دغه کار د عمل په دنيا کې هم امکان لري او که يه. دا داسې سوال دی، چې د پوهنې او تخنيک له نظر يې ځواب کاملا مثبت دی؛ يعنې دا يوه ډېره بسيطه خبره ده، چې پښتو ته دې يوه نوې او د ((فونالوجی)) له اساساتو سره سم رسم الخط ترتيب شي.)) (تره‌ی: نوې ژبپوهنه او ژبنې مسايل، ۷۱ مخ)

دا هغه ستونزې دي، چې اوس زموږ په مخ کې پرتې دي. ددې ستونزو د له منځه وړلو لپاره لا اوږده لار په مخ کې لرو. ډېرې هلې ځلې په کار دي، دا د پيړو پيړيو دوديز ليک، چې البته زيات هم په ديني رنګ کې رنګول شوی، پربلې بڼې واړول شي. د پوهاند تره‌ي د وينا له مخې که داسې زمينه برابره شي چې د پوهنې او تخنيک له پلوه د ليک د بڼې اړولو ته کومې ستونزې رامخته نشي، خو تر هغې پورې موږ لاس تر زنې نه کينو او د اوسنۍ ليکنۍ پښتو پر معياري کيدو کار کوو او دا کار کيدون هم دی.

ما په مخکينو څپرکو کې د يووالي، اسانوالي او يو رنګوالي او نه ګډوون آرونه لږو ډېر وڅيړل او له هغې سره پټليز مې ځينې لکيدودي برخې هم څرګندې کړې. دلته يوازې د وييونو ليکدودي بڼې راوړم او هغه آرونه مې، چې په غږ پوهنه کې معياري ښوولي دي. دلته يې په ليکدود کې څرګندوم. دلته به زياته هڅه په دې وشي چې څنګه له خپلواکو غږونو په تيره بيا له (و - ا - ي) څخه سمه ګټه واخلو.

۷_۱: همزه که د (ء) په بڼه وی يا د (الف)، په هغو وييونو کې چې عربي وي، وکارو، نه په پښتو هغو کې. په پښتو وييونو کې به يې ځای

واولونو ته پرېږدو او په دې توګه به د (ئی) پرځای (يې)، د (وائی) پرځای (وايي) او داسې نورو ورته وييو کې همدا راز وکاروو. همزه (ء) له آره د عربي ژبې د يوه ځانګړي (ستونيز) غږ انځوروونکې ده. په پښتو ژبه کې همزه د کوم فونيم څرګندويي نشي کولای. د وييونو په پيل، منځ او پای کې ددې غږ د څرګندولو دنده د بېلابېلو خپلواکو غږونو (واولونو) پر غاړه ده. له همدې امله اوريځ بايد (وريځ)، اوکړه (وکړه) او (وربل)، اوربوی (وربوی) اورشو (ورشو) اولس (ولس)، اوسمهال (وسمهال ... وکښل شي.

۷_۲: هغه توري چې يوازې د عربي ژبې ځانګړي بلل شوي، لکه (ث، ح، ص، ط، ظ، ع، ف، ق...) يوازې په هغو وييو کې وکارول شي، چې پښتو ژبې ته له عربي ژبې راننوتي وي، لکه قاضي، ميراث، حکم، قبض، عدل، استقامت، مظنون، طاهر... او که چېرته داسې وييونه مفغن شوي وي او د پښتو فونولوژۍ اړوند شوي وي، نو په کار ده، چې هلته يې پر ځای پښتو توري وکارول شي. لکه: د (ص) پر ځای (س) د (ض- ظ) پر ځای (ز) د (ف) پر ځای (پ)، د (ق) پر ځای (ک) او داسې نور په يوه خپلواک توري وليکو او يايې وغورځوو، لکه: سوله، سلا، تمه، خلک، وخت... چې آرې بڼې يې: صلح، صلاح، طمع، خلق، وقت... دي. (مانا البته هډو اروپايی اره لري او همداسې يې ليکل په کار دي).

۷_۳: (ن) په (ڼ) ليکل سم نه دي، ځکه (ن) يوستوی غږ دی او (ڼ) ليکلو له ځينو وييونو (ن) او (ړ) جوړ شوی دی. همدا راز په (ڼ) ليکلو د ځينو وييونو ترمنځ ګډون هم راځي، لکه (کوڼ: کوڼ: کڼ)، (کوڼ: ولايت) يا خوڼی (خوړی) او داسې نور. لکه په لره پښتونخوا کې، چې د (ټ، ډ،

ړ لیکلو لپاره یې د اردو ژبې په پېښو د (ټ، ډ، ړ) پر تورو باندې د (ط) توری لیکه او له عالمي پښتو کنفرانس راهیسې یې زموږ په څېر لیکي.

۷_۴: په ټولو ویبو کې، که نګه پښتو وي یا پور ویې، تر وسه وسه هڅه وشي، چې واولي بڼې ولیکل شي، په دې مانا چې دا ویبونه: لومړی، کومک، ګومان، ګومارل، غونچه، غونډ، لومړی، کوچنی، موسکا، سونډ په (واو)، ګیله، ایله، باندې یې، دې... (ي) ولیکل شي.

۷_۵: بهرني نومونه لکه څنګه چې په اړونده آره ژبه کې ویل کېږي او لیکل کېږي، هماغسې ولیکل شي، لکه: چارلس، شارل، چارج- ګیورګ- ژورژ، پستالوځي، مونیخ، مونشن، بریخت- بریښت، یوزف- جوزف، کوبا- کبوبا...؛ یعنې د هرې ژبې نومونه د هماغه ژبې له وینګ سره سم ولیکو، نه دا چې انګلیسي هغه پر فرانسوي، الماني هغه پر انګلیسي او داسې نور واړوو. په دې باب د الماني (خ، ښ) او یا د روسي ژبې (خ) او (ښ) تورو لیکلو ته باید په خپل خپل ځای کې پوره پام وشي.

۷_۶: هغو ویبونه چې د (ونکي) روستاړی غواړي، باید د لیکلو په وخت یې د وینګ معیار په پام کې ونیول شي؛ یعنې د کومو ویبو فعلي ریښه، چې (واو) ونه لري یوازې په (ونکي) او که فعلي ریښه یې (واو) ولري د (وونکي) په توګه ولیکل شي. د ساري په توګه: راکښل د راکښونکی، لیکل د لیکونکی، شړل د شړونکی او ښول، لټول، څملول... د ښوونکي، لټوونکي، څملوونکي.... په بڼه ولیکل شي. په لنډ ډول که له مصدر څخه (ل) لری کړ شی زیاتي ستې سره - ونکی روستاړی یوځای کېږي.

۷_۷: د ویبونو بېل او ګډ لیکل هم د پام وړ دی، خو د لیکلو په وخت کې باید دا دری آره په پام کې وساتل شي: د ویلو ترمنځ نژدیوالی،

د ګډون او التباس مخنیوی او لیکنی او طباعتي اسانوالی او تر شونتیا پوري د وییو جولیز یووالی، لکه: ټولواک چې (ټول واک) او بیلتون، بیلتانه، بیلتانه، چې (بیل تانه- بیل تون) لیکل سم نه دي. پوښتنه د (پښتنه) په څیر او ګوډ د ګډ په څیر لیکل سم نه دي. «پخپله» د قید په توګه یوځای لیکل په کار دی، مګر په خپل کور کې جلا.

استاد الفت لیکي: ((په پښتو کې د نفي توري او د نهي توري (نه، مه) له افعالو څخه جلا لیکل کیږي، لکه: نه ځی، نه کوي، نه وینې، مه وایه، مه کوه، مه ځه، مه غواړه) مګر په (نشی، نشته، نکړی، مشه، مکړه، ناخلی) کې یې زیاتره متصل لیکي: (الفت ۱۲۳۹: ۲مخ)

پوهاند رښتین هم ددې تورو د جلا لیکلو وړاندیز کوي او وایي: ((هره کلمه ځانله او جلا لیکل په کار دي؛ یعنې ښایي، چې یوه کلمه په لیک کې له بلې سره ونه نښلي، که څه هم ادات او حروف وي، لکه: نه وي، نه ګوري، مه کوه، مه کړه، له ده نه، له هغه څخه، په څیر، په شان، نه خوري، نه شي، نه کړي. مګر ځینې کلمې چې د یوې کلمې شکل یې غوره کړی وي، له دې قاعدې څخه وتلې دي، لکه: پکښې (پکې)، ځانله، ټولواک، نشته.)) (ریښتین: ژب ښوونه، ۷۴مخ)

همدارنګه پوهاند زیار لیکي: ((... له نورو وییونو سره د (نه، ته) یوځای لیکل باید د پورتنیو آرونو (درې آرونو) په پام کې نیولو سره معیاري وګڼل شي لکه (نلري) د (نه لري) نشي د (نه شي) په وړاندې. یوازې ډېر پیښې غونډونه، لکه: پکې، نشته، دېته، همدلته، همداسې، هماغه، منځته، رامنځته کول... له دود سره سم استثنایي یوځای لیکل کیږي. د سربلونو او وستربلونو او نورو وییکو خو همداسې دود ګرځیدلی دی. ټول واک، ټولواک یا نړۍ وال، نړیوال کښل خو ځانته منطق لري او هغه دا

چې د یوه یوازیني بیلنګ (مشتق) ښکارندویي کوي او باید لیکلې بڼه یې هم یوڅه راغونډه شي.)) (زیار: لیکلار، ۱۷۳مخ)

همداسې برخلیک، برخوال، پانګوال، ځمکوال... هم دروا خله.

۷_۸: (لپاره) دا کلمه په زما تیرو لیکنو کې (د پاره) لیکل شوې. ((د یو ملت د پوهې او هوښیارۍ د معلومولو دپاره هم اجتماعي تحولاتو او تجدد پسندۍ ته کتل په کار دي.)) (الفت: لیکوالي، ۱۹۴مخ).

((د املا په برخه کې زموږ د پاره محک دوه شیه دی:)) (تړی: نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل، ۵۰ مخ). همدا راز پوهاند رښتین په خپلو ټولو لیکنو کې (دپاره) لیکلی او کارولی دی. پوهاند زیار په دې هکله لیکي: ((لپاره که څه هم زیاتره ((د پاره)) ویل کیږي او همدا وروستی ډول یې زیات ګرامري هم ښکاري، مګر څنګه چې کله کله پښتو غونډله د اضافت د پرله پسې دالونو له کبله خپله رواني له لاسه ورکوي او هم یې لیکل یا چاپول یو څه ګران دي، نو (لپاره) باید معیاري ومنل شي. (زیار: لیکلار، ۱۷۳مخ)

د کابل مجلې د ۱۳۷۰کال په لومړۍ ګڼه کې د (له پاره که لپاره، څنګه یې ولیکو) تر سرلیک لاندې د سرمحقق دوست شینواري له خوا لیکل شوي، چې په لنډه توګه یې ځینې برخې را اخلو: ((سره له دې، چې د پښتو د لیکدود د یو کولو او توحید په لاره کې اساسي او ستر پرابلمونه اوس نه شته او اساسا حل شوي او سترې ستونزې په دې برخه کې له منځه تللي دي، خو بیا هم کله کله وړې وړې اختلافي مسئلې په نظر راځي، چې د ځینو کلمو په لیکلو کې د پښتو ژبې د ځینو پوهانو ترمینځه اختلاف لیدل کیږي. (په همدې کوچنې پراګراف کې (منځته) یوځای یې (ي) او

یو ځای (مینځته) لیکل شوی؛ هیله من] یو له دغو اختلافي مواردو څخه هم د (له پاره) او (لپاره) د مرکبې کلمې د لیکلو ډول دی.))

هغه زیاتوي: ((... زما نظر دادي چې په (له پاره) کې باید (له) جلا او (پار) جلا ولیکله شي، ځکه چې:

۱ـ که دا کلیه ومنو او باید ویې منو (چې) خدمتي کلمې چې د کلام د توکو په ځانگړو کته گوریو کې ځای لري او ځانگړی مفهوم افاده کوي، باید جلا ولیکل شي، نو په دې جمله کې د (له پاره) د (له) خدمتي کلمه هم شامله ده، کوم استثنایي حالت نه لري.

۲ـ د یوې ژبې گرامري قاعده د بلې ژبې په گرامري قاعدې اغیزه نه شي ښندلی او نه په دې باب کوم قیاس معقولیت لري او که نه، نو د مثال په ډول په یادو شویو ژبو (فارسي، عربي، روسي، انگلیسي...) کې چې د ظرف افاده په یوه خدمتي کلمه کیږي او په پښتو کې په دوو (په کې= په کور کې) کیږي، دغه ښاغلي او محترمان څه فکر کوي په دوو (په) له استعماله وغورځوو، که (کې) ځکه چې په قیاس عمل وکړو او قیاس گرامر جوړ کړو.

۳ـ (پار) د لحاظ او خاطر په مانا اسم ذات دی او (له) د عامل خدمتي کلمې معمول او په گرامري مغیره حالت کې واقع شوی دی. دلته به هم د کلمې او جامعې قاعدې په توگه دا ومنو که (له) له نورو اسماو او صفاتو سره یو ځای لیکل کیږي، دلته به یې هم یو ځای لیکل ومنو او که جلا لیکل کیږي، بیا نو هیڅ سفسطې ته د منطق او فلسفې رنگ نه شو ورکولای چې په یوه یا بله پلمه استثنایي حالت ورته قایل شو.)) (دوست شینواری، کابل مجله، ۱۳۷۰ کال، ۲۳مخ).

همدارنګه سرمحقق دولت محمد لودین لیکلي دي: ((لپاره)، (دپاره) دواړه مترادف لغتونه دي، هر یو یې پسینه دي. په (لپاره) کې (له) د (پاره) څخه بیل لیکل صحیح نه دي، ځکه (له) او (پاره) په ګډه (لپاره) چې یو لغت دی، جوړوي. په پښتو کې یې (ته) هم په ځای راتلای شي، لکه: هغه د خپلو اولادونو لپاره ګټه کوي. یا هغه خپلو اولادونو ته ګټه کوی... په پښتو ژبه کې په داسې ترکیباتو کې استعمالیږي: ستا لپاره، د ټولو لپاره، د هرچا لپاره، د ځان لپاره... که څه هم په پښتو ژبه کې (له) د یو بیل مرستیال لغت په ډول شته، خو دلته لکه څنګه چې (دپاره) کې (د) د اضافت توری نه ګڼل کیږي، بلکې د (دپاره) یو فونیم دی، همدارنګه په (لپاره) کې هم (له) کومه بیله ویه نه ده، بلکې د (لپاره) سره په ګډه یوه د (لپاره) لغت جوړوي نو همدغه اساس له مخې یې یوځای د (لپاره) په ډول لیکل صحیح دي.)) (دولت محمد لودین، پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلو کې، ۱۷۵مخ)

۷_۹: (اوږد یا مد لرونکی الف) (آ)، چې زیاتره په کندهاري ګړدود کې کارول کیږي او په نورو ګړدودو کې دومره کارونه، نه لري لکه په آ هلکه (یا آس کې، مګر په پور وییونو کې د معیاري ارزښت له مخې ونه لیکل شي. د پښتو ټولیز وینیګ به موسمبال کړي وي. لکه: د آزادۍ آرزو، آژانس، آثار... پرځای ازادي، اژانس، اثار...

۷_۱۰: په لیکلو کې د یاګانو توپیرول ضروري دي او باید په چاپ کې هم له یاده ونه ایستل شي.

۷_۱۱: هغه کړ (فعل) چې د نفې (نه) او (مه) یا احتمال او اعتیادي (به) یې ترمختاړي وروسته او تر کړ دمخه راځي، باید بیل ولیکل شي، لکه: رانه غی، څه نه ملاست، ونه لیک...

۷_۱: که چیرته (نه) د ویي په منځ کې راځي، هم باید د پورتنی قاعدې له مخې بیل ولیکل شي. لکه را به نه شي، یا به نه ځیږي، و به نه دریږي د رابه نشي، یا به نځیږي، وبه ندریږي په بڼو لیکل باید مراعات شي.

(۷، ۲)، دلته پر هغو وییونو خبرې کوو، چې کله کله وربانديې د یوویي گومان نه کیږي، لکه: ځانته، منځته، پخپله، پکار، لپاره. دا وییونه یو، یو د بیلو او گډو وییونو په توگه ځیږو: (سرمحقق دولت محمد لودین، پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلو کې، ۱۷۱، ۱۷۵مخونه)

۷_۱۳_ (ځانته: (د یوازې په مانا) دا یو ویې دی او نه (ځان ته)، په جملو کې په دې ډول کارول کیږي: احمد ځانته ولاړ دی. یعنې احمد یوازې دی. احمد گوښې ناست دی، احمد جلا ناست دی او که ولیکو: احمد ځان ته ناست دی، داسې مانا ورکوي، چې احمد ځان ته ناست دی نه بل چا ته.

(ځان ته) د (خپل ځان ته) په مانا دوه وییونه دی او باید جلا ولیکل شی، لکه: څه چې ځان ته غواړی، نورو ته یې هم غواړه. په داسې ځایونوکې یې گډ لیکل سم نه دي. په دې توگه د (ځانته او ځان ته) د لیکلو ځای باید څرگند او معلوم وي او یو د بل په ځای ونه کارول شي. د دوکتور لودین د وینا له مخې (ځانته) تغیر نه کوي په مفرد او جمع کې په همدې بڼه لیکل کیږی.

۷_۱۳_۲: (پخپله) یو ویی دی او له (په خپله) سره توپیر لري. باید د کارونې ځایونه یې وپیژنو او یو د بل پرځای ونه کاروو، لکه: زه خپل کارونه پخپله کوم. تاسو خپل کارونه پخپله کوئ... دلته (پخپله) د کړول

(قید) توگه یو گړی، ډېر گړي، نرینه او ښځینه لپاره نه اوړي او په ټولو برخو کې خپل اصلي حالت ساتي.

له بله پلوه (پخپله) درې څپیز ویی دی: (پخ، په، له)، نو که (په) جلا ولیکل شی ویی په دوو برخو ویشل کیږي او څپه هم.

(په خپله) دوه ویي دي، چې (په) یې مخینه او (خپله) یا (خپل، خپلو) یې نومځری دی، لکه: زه په خپلې غلطۍ پوه شوم. دا ویبونه سره بیل دي او په دې توگه (په) یوه او (خپله) دوه څپې دي. دکتور لودین وایی ددې دواړو ویبونو د پیژندلو لپاره نورې نښې هم شته:

الف: مانا ته یې باید پام وشي؛ که یوه مانا یې درلوده، لکه چې دمخه مو وویل، نو یو ویی دی،

ب: که (په) ځانته یوه څپه جوړوله او (خپله) دوه بیلې، څپې او همدارنگه که د نوري، شمېر او حالت له مخې یې بدلون موند، نو (په) بیل او (خپله) بیل ویی دی، لکه: زه په خپل هیواد سر ورکوم، زه په خپلې مینې سر ورکوم. موږ په خپلو کې سره جوړ شو....

په دې توگه کولای شو، د ځای او مانا له مخې دا دوه پورته ویبونه سره وپیژنو او په خپل خپل ځای کې یې بیل یا یوځای ولیکو. دلته بیا هم د مانا او جولي یووالي او د نه گډون ار په پام کې نیول کیږي.

۷_۱۳_۳: (منځته) که (منځ ته) ددې دواړو ویبونو د لیکلو ځای باید وپیژندل شي او یو له بل سره گډ نه شي، لکه: بریالی د ډند منځ ته ورسید. منځ ته یې وگوره! دواړه منځ ته مه ننوځه!...

په دې بیلگو کې (منځ) یو ویی دی او (ته) بیل ویی او په دې توگه په داسې ځایونو کې یې بیل بیل لیکل په کار دي. خو که چیرته وویل شي: د بریالي په رامنځته کیدو زموږ کار خرابیږي. په دې ځای کې (رامنځته) د

یو ویي په توګه کارول کیږي او باید یوځای ولیکل شي. «دا ځکه دلته په یوه ګړنه ایدیوم کې راغلی او د چارو مانا له پلوه نه شنل کیدونکی دی».

۷_۱۳_۳: پکار، په کار- ددې دواړو ویېونو مانا ته دې وکتل شي، که د یوه ویي مانا یې درلوده، نو بیې یوځای لیکل پکار دي او که چیرته د دوو ویېونو په مانا کارول شوی وي، بیل دې ولیکل شي، لکه: پکار د اړتیا (کار امد) په مانا: څه شی دې پکار دی؟ - که پکار دې وی له ما سره شته... او د کارولو په مانا، لکه: ستا په کار پورې مې کار نشته. په کار کې تمبلې او ټګې ښه نه ده. له دغو کارونو څخه له ورایه بریښي، چې (په کار) او (پکار) سره بیلا بیل دي او باید په لیکنو کې یې هم توپیر وشي.

۲_۱۴: که چیرته د یوې یوازینۍ معیاري لیکنۍ پښتو د آرونو له مخې معیاري ګرامر او معیاري قاموس جوړ شي او د اړوندو مسؤولو ارګانونو د علومو اکادمۍ، د لیکوالو ټولنې، کابل پوهنتون، د پوهنې وزارت له خوا د ژبپوهانو، لیکوالو او شاعرانو په مرسته پرې کار پیل شي او دا کار بیا دود وموميي، نو به د پښتو د علمي کیدنې په لار کې به یو ستر ګام وي.

## پایلیزه

پښتو یوه لرغونې اریایي ژبه ده. کوم لاسوندچې د پښتو لیکنې ادبي تاریخ په باوري توګه تر دویمې هجري پیړۍ پورې رسوي، هغه د امیرکروړ ویاړنه ده، چې د پټې خزانې په وسیله زموږ لاس ته رارسیدلې ده. ددې ویاړنې له هراړخیزې شننې او څیړنې څخه وروسته ژبپوهان دې پایلې ته رسیدلي چې پښتو شعر باید ډېره اوږده لاره وهلې وي، ترڅو د شعر دې پاخه او لوړ پړاو ته رسیدلی اوسي. له هغې پرته بل کوم پیېلی (منظوم) یا ناپیېلی (منثور) اثر چې په دې ژبه کښل شوی وي، د زمانې له دوړو او خاورو سره یوځای د تورتم کندې ته غورځیدلی دی. د هاشم سرواني سالو وږمه، د شیخ ملي دفتر، لرغوني پښتانه ... یوازې نومونه زموږ د ادبي تاریخ د پاڼو پرمخ را پاتې دي. د سلیمان ماکو د کتاب د ۷ـ۸ پاڼو موندنه زموږ لیکلی ناپیېلی تاریخ تر اوومې لیږدې پیړۍ پورې رسوي، چې زما د څیړنې کار هم له همدې ځایه پیل کیږي. د «تذکرة الاولیاء» له څیړنې څخه دا خبره په بشپړه توګه راڅرګندیږي چې ددې په خوا کې یا ددې ترمخه دې داسې نور کتابونه هم په بیلابیلو برخو کې کښل شوي وي، خو دا چې د پښتنو ټاټوبی تل د یرغلګرو د جنګ جګړو ډګر و او هیڅکله داسې نه دي پیښ شوي، چې دا پر خاورې او خپلواکۍ مین ولس دې لږتر لږه یوه پیړۍ هم په ارامه پریښودل شوی وي. جنګ د ټولو بدمرغیو مور او د ودانیو او مدنیتونو ورانوونکی او ویجاړوونکی دی. له دې امله کیدای شي او شوې هم ده، چې د پښتو ډېر ارزښتمن فرهنګي پاتمړی (میراث) تر خاورو لاندې شوي وي. که کله پښتون ټبر سر را وچت کړی دی، نو بیا یوه غلیم په یوه یا بله پلمه داسې ګوزار ورکړی

چې له ځایه یې بېځایه کړي، عقل او شعور یې ورته ګډوډ کړي، په خپلو کې یې اچولي او هغوی ترې خپلې ګټې پورته کړي. وګورئ! دا لړۍ تر ننه پورې روانه ده او مونږ د اور په بټیو کې لکه د نینو په څېر ورتېرېږو او د پلۍ په بڼه له بټۍ ها خوا غوځارېږو. دا کار یوازې ددې لپاره کېږي، چې که پښتانه را ټول او سره یو شي، فرهنګ یې بډای، کلتور یې غښتلی او د مدنیت پر سمسوره ورشو ورګډ شي، نو بیا به په سیمه کې هیڅ بلوسګر او ځبیښناکګر سر نشي جګولای او نه به خپلې شومې موخې (هدفونه) ترلاسه کولای شي. له دې امله د پېړیو په اوږدو کې دا ولس پرخپل حال نه دی پرېښودل شوی؛ سیاسي او ټولنیز ځواک یې په لاس نه دی راوړی او که راوړی یې هم دی، دښمنانو داسې جادو کړی، چې له خپل ټبر، ژبې او فرهنګ سره یې بېګانه کړي او په خپله د خپل ټبر او ولس د ځپلو او ترټلو لپاره د یوې آلې په توګه کارول شوی دی.

که چیرته د یو ټبر او ولس دغه اکر او دا روزګار وي، څنګه کیدای شي، هغوی دې خپل ولسي او فرهنګي ژوند ته ځیر شي؛ خپلو خلکو ته دې پام واړوي؛ خپلې ژبې، فرهنګ، کلتور او ښې بدې ته دې پام وکړي. په داسې اړونو (شرطونو) کې ژبه او ګړدودونه یوازې د رخې، سخې، نفاق، بدمرغیو، دښمنیو او یو له بل سره د زور ازمایښنې د وسیلې په توګه کارول کېږي، نه د یووالي او پیوستون د یوې کړۍ په توګه.

د پښتنو همدا ځانځاني ټبرنی (قبیلوي) ژوند او ټولنیز او فرهنګي وروسته پاتیوالی دی چې د یوې یوازنۍ اقتصادي - سیاسي سرغندویۍ او له دې سره د یوې یوازنۍ معیاري ګړدود یا په بله وینا یوې یوازنۍ لیکنۍ کره پښتو د منځته راتګ خنډ ګرځي.

د پورته وینا له مخې دا هیله نشو کولای، چې د پښتو کوم ګړدود دې د معیاري ګړدود په توګه وپېژندل شي او هغه دې د لیکوالو او پوهانو له خوا هم په ګړهار او هم په لیکنه کې په ورته ډول او بڼې وکارول شي. نن که یو څو تنه ژبپوهان، لیکوال او شاعران د هیواد په بیلابیلو علمي، تحصیلي، ښوونیزو او فرهنګي موسسو کې کار کوي، په خپلو کې یو بل ته تن نه ږدي او هر یوه خپله خپله لار نیولې. که یو سمینار، سمپوزیم یا ورکشاپ د یوې موضوع د روښانتیا او څیړنې لپاره جوړیږي، دوی ددې پرځای چې یو یوازني دریځ ته د خبرو اترو او علمي پرنسیپونو له لارې ورسیږي، یو پربل تورلګوي او د ژبې د خرابۍ او ګډوډۍ پړه پرې اچوي او په پای کې ټول پښتانه ماهیجن پاتې کیږي.

اوس اصل موضوع ته راګرځو او خپلې خبرې د سلېمان ماکو له (تذکرة الاولیاء) څخه پیلوو.

کوم نثر چې له تذکرة الاولیاء څخه راپاتې دی اوس د پښتو د ناپیلې (منثور) ادب پیلیځ جوړوي. پوهاند زیار د لوی استاد حبیبي په حواله لیکي: «تر دغه موندنې مخکې چې د لوی استاد حبیبي په لاس کیدونې شوه، دغه پیلیځ د پیر روښان (۹۳۱_۹۸۰ هـ ق) او اخوند درویزه (۹۴۰_۱۰۴۸) له مسجع نثر سره تړل کیده. د سلیمان ماکو دغه راپاتې کوچنۍ بیلګه دا جوتوي، که هر څومره پر شا ولاړ شو، پښتو نثر نور هم نګه کیږي او د خپل مهال ګړنۍ بڼې ته ور نژدې کیږي. (زیار: د امیر کروړ یاد، ۲۹۸مخ).

نوموړی نثر د رغاونې له مخې زیاتره د عربي او پارسي ژبې تر اغیزې لاندې راغلی دی. د ویې پانګې له مخې د هغه وخت د کندهار او د

هغه سيمې د ګړنې او ادبي پښتو ښه ښکارندويي کوي. د غرب پوهنې او ليکدود له مخې پرې لاسوهنې او اړونې شوي دي.

دغه نثر د پښتو ادب تاريخ او د پښتو نثر په بشپړتيايي تاريخ کې نه يوازې يو څو زرينې پاڼې ورزياتوي، بلکې په دغه بهير کې زموږ د پښتني فرهنګ له لرغونوالي او بډايوالي سره مرسته کوي.

له دې وروسته تر لسمې پيړۍ پورې د پښتو ليکنې او نثر کوم څرک نه لګيږي. کله چې پير روښان د روښاني غورځنګ په سرکې دريږي او د اړتيا له مخې د پښتون ټبر او قبيلو د راوينولو لپاره پراخ تبليغات پيلوي او د هغې پر خوا په مذهبي بڼه او رنګ «خيرالبيان» په څلورو ژبو، پښتو، فارسي، عربي او يو پنجابي ګړدود ليکي. (حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ، دويم توک، ۲۹۰ مخ). د خيرالبيان د ليکلو لپاره يې د پښتو رسم الخط يوه رساله هم وکښه او په هغې کې يې د پښتو ځينې توري په خپل نوښت وکارول. د خيرالبيان نثر مسجع او نيم پيلی نثر دی. پوهاند حبيبي ليکي، پير روښان خپل خيرالبيان په داسې سبک وليکه، چې جملې او عبارتونه يې مسجع وو او د هغوی په پای کې يې سجع ورننه ايسته. (پټه خزانه، ۲۲۷مخ).

د پير روښان نثر له ګړهار څخه لرې او پيچلې بڼه لري؛ يو ځانګړی ليکدود لري چې اوس يې لوستل خورا ګران دي. وييونه يې يوله بله سره نښلولي دي؛ عربي وييونه يې زيات کارولي او (و، هـ، ي) د څرګندولو لپاره يې د وييو په پای کې دا نښې نه دي راوړي. استاد الفت ليکي: «بايزيد اورمړ که څه هم د وزيرستان دی، مګر دده د ليکلو ژبه له نورو کلاسيکو کتابونو سره، چې ظاهراً د هغو اساس د يوسفزو په لهجه اېښودل شوی دی، مطابقت لری، مثلاً: (لار، ګبينه، نمر، ستا، څلور) د

وزیرستان په لهجه (لیار، گیمنی، میر، ایتو، څلویر) نه لیکي)) (الفت: لیکوالي، ۲۰ مخ).

په همدې ډول دا خون درویزه ((مخزن الاسلام هم په ورته لیکدود لیکل شوی، د وییو په پای کې د (و ـ هـ ـ ي) د لیکلو پر ځای د هغوی د پای توري ته خوځندي (حرکت) ورکوي. په زیاترو ځایونو کې سره دوه وییونه یو ځای لیکي. نثر یې مسجع او قافیه وال دی. اخون درویزه دا کتاب د پیر روښان د خیرالبیان په وړاندې وکښه او هڅه یې وکړه چې له دې لارې روښاني غورځنګ له ماتې سره مخامخ کړي.

مسجع نثر چې د پیر روښان د خیرالبیان له لیکلو سره رامنځته شو، څه نا څه زیاته موده یې پایښت وکړ، ترڅو خوشحال خان ساده، روان، ګړهار ته نژدې نثر دود کړ او په دې ډول یې د روښان له تکلفي نثر څخه د پښتو ژبې د ژغورلو لاره هواره کړه. د خوشحال د نثر سبک ډېر خوږ او اسان و؛ غونډلې (جملې) یې لنډې او پرې کړې وې؛ پیچلتیا پکې نه وه. پوهاند حبیبي لیکي: ((نخستین کسیکه به روش ناپسندیده خیرالبیان ملتفت و به اضرار آن پی برد، مرحوم خوشحال خان ختټک، پدر پښتو بود که فی الجمله سبک قدما را تجدید کرد و همان چراغ خاموش ادبی را روشنی بخشید و بعد از وی اولاد و دودمانش هم این سبک را نیک پرورانیدند و مانند گلستان پښتو و تاریخ مرصع اثار پسندیده و مغتنمی را به وجود آوردند.)) (پټه خزانه، ۲۲۷ مخ)

د خوشحال دستارنامه یو په زړه پورې نثري بیلګه ده. ددې کتاب نثر ډېر خوږ، روان او د خلکو خبرو اترو ته نژدې دی. د استاد الفت د وینا له مخې د دستارنامې قلمي نسخه په ۱۱۱۹ هـ کې عبدالحلیم نومي د افضل خان په امر ولیکله او په پېښور کې عبدالشکورخان په زړه او

پخوانۍ املاء چاپ کړه. ددې کتاب له لوستلو نه داسې ثرگندیږي چې خوشحال خان په پښتو لیک کې ډېر بدلون رامنځته کړ. (الفت: لیکوالي ۲۴مخ).

سره له دې، چې د خوشحال لیکدود له پخواني لیکدود سره توپیر درلود او هڅه یې کوله چې لیک گړهار ته نژدې کړي. که تر ده دمخه (و-هـ-ی) د حرکاتو د ثرگندولو لپاره نه لیکل کیدل، نو ده په خپلو لیکنو کې دا وکارول، خو په ځینو برخو کې بیا پخپله د (و –هی - ی) له لیکلو څخه ډډه کړې. ثرنگه چې د خوشحال ختیک خپله لاسکښنه له موږ سره نشته، نو نشو ویلای، چې دا کار ده خپله کړی که کاتبانو کړی. په هر ترتیب هر چا چې کړی وي، بیا هم ثرگندیږي چې په هغه وخت کې دې موضوع ته دومره پام نه اړول کیده.

محمد هوتک د پټې خزانې لیکوال د خوشحال له مړینې وروسته ددغې دورې له نثر سره سم د پټې خزانې په لیکلو لاس پورې کړ. د پټې خزانې نثر ډېر خوږ او په زړه پورې دی. پوهاند حبیبي لیکي، خوشحال د پیر روښان د لیکنې سبک له منځه یوړ، خو پخپله بریالی نشو، چې خپل نثر او لیکنه له پیچلتیا وباسي. نوموړی پوهاند لیکي هغه نثر چې محمدهوتک رامنځته کړ، اغیزه یې په راوروسته لیکوالو کې ډېره لیدل کیږي او څه ناڅه درې سوه کاله پاییږي.

د افضل خان د (تاریخ مرصع) لیکوال د خپل نیکه خوشحال خان د لیکلو لاره نیولې وه. داسې گومان نه کیږي، گوندې افضل خان دې د خوشحال خان له لیکنې څخه، چې ناڅه نیمه پیړۍ زماني توپیر سره لري، د باندې وتلی وي.

ځرنګه چې د (تاریخ مرصع) د قلمي نسخو د لیکلو نیټه څرګنده نه ده، نو نشي کیدای د هغې پر لیکدود او یا ګړدودي ځانګړتیاوو څه ولیکل شي. د تاریخ مرصع د لیکنې په ځینو برخو کې د ژباړې ژبه له ورایه څرګندیږي، زیاتره ویي یې په خپل حال پریښي او پښتو اندولونه یې نه دي کارولي.

پوهاند زیار لیکي: ((... د تاریخ مرصع له لیکلارې څخه په ډاګه جوتیږي، چې د پارسي یا عربي د اغیزمنې ترڅنګه یې زیاتره د خپل مهال او چاپیریال ګړنۍ پښتو ته ارزښت ورکړی او د یوه جوت او ثابت لیکني معیار خیال (یې) نه دی ساتلی. لکه په غونډله (جمله) کې پرایښوني (مسند) باندې د ایښې (مسندالیه) او یا پرستایلی باندې د ستاینوم مخکیوالي د یوې جوتې ګرامري قاعدې په توګه.)) ( زیار:، تاریخ مرصع د ځیړنو په بهیر کې، ۱۱۰مخ)

د دستارنامې، تاریخ مرصع او د قادرخان خټک د اشعارو د دیوان لیکدود درې واړه سره یو دي او درې واړو یوه لاره تعقیب کړې ده. ((عبدالقادرخان هم د خپل پلار مخصوصه املاء غوره کړې ده او دیوان یې په همدغه املاء لیکلی دی.)) (الفت: لیکوالي، ۲۵مخ)

د خوشحال د کورنۍ دغه خوږ او روان نثر څه ناڅه درې سوه کاله پاییږي، دیني، مذهبي او تاریخي کتابونه، د شعرونو دیوانونه او نور په همدغه بڼه او سبک لیکل کیږي.

د هند نیمې وچې ته د انګریزانو له راتګ او پر پښتني سیمو د تیري او یرغل په نتیجه کې په ژبه، ګړدود او لیکنه کې هم بدلونونه راځي. پر عربي او پارسي کلمو سربیره انګلیسي کلمې او ګړنې هم پښتو ته لار پیدا کوي، ورو ورو لیک او ګړدود تر دغو اغیزو لاندې راځي.

البته دا کار په کوزه پښتونخوا کې هم په ګړهار او هم په لیکدود کې لا تراوسه په ډېر زیات زور او قوت پاتې دی.

دلته په لره پښتونخوا کې چې کوم خوځښت و، پر هغې باندې عربي او پارسي ژبو بشپړه واکمني درلوده. زیاترو پښتنو پوهانو او دیني عالمانو په عربي او یا پارسي لیکنې کولی او که کوم یو له خپلې ژبې سره د زیاتې مینې له امله پر پښتو څه لیکل، هغه هم ددغو ژبو تر اغیزې لاندې و؛ د ویو په کارونه او د غونډلو (جملو) په جوړونه له ګړهاره لرې وو. څنګه چې پښتو د سیاسي او دولتي مشرتابه له نظره لویدلې ژبه ده، یوازې ددغه ژبې ویونکی لږ شمېر پوهان او لیکوال یې کار وي.

امیر شیرعلي خان ددغې لړۍ لومړنی واکمن دی، چې خپلې مورنۍ ژبې ته پام کوي. په پوځي ډګر کې پښتو ځایوي، نومونې، لوستونه، بولۍ پر پښتو اړوي. ځینې باندني کتابونه او رسالې دده په امر پر پښتو ژباړل کیږي او په دې توګه پښتو ژبې ته په ځانخبري او لاسي توګه د خدمت لاره هواریږي.

له ده وروسته د چاپېریال او شرایطو له غوښتنې سره سم پښتو ښوونځیو ته لار پیدا کوي، د لوست کتابونه لیکل کیږي او لږو ډېر دولتي ارګانونو ته لار پیدا کوي. د ورځپاڼو له لارې پښتنانه هڅول کیږي، چې ژبې ته خدمت وکړي او خپله ژبه ژوندۍ وساتي. ددغه پېر پښتو هم یوه پیچلې بڼه لري، له ګړهار سره بې توپیر، له اینښونې څخه د اینښی او پر ستاینوم باندې د ستایلي مخکیوالي پوره دود درلود. ددې ټولو نیمګړتیاوو سره سره په دغه پېر کې په نسبي توګه د پښتو ژبې پراختیا او پیاوړتیا ته ښایسته ښه کار ونه وشول.

پښتو مرکې، ادبي انجمن او پښتو ټولنې په دې هکله نه هیریدونکې هلې ځلې کړي دي. پښتو ټولنې د کره لیکنې، پښتو لپاره د خپل ژوند په اوږدو کې د بیلابیلو اشخاصو او پوهانو په ګډون درې – څلور پریکړې کړي او لیکوال او شاعران یې د لیکدود سمون ته رابللي دي. که څه هم په دې پریکړو کې د ژبې ژبنۍ او علمي خواوې دومره په پام کې نه وې نیول شوې، د علمي پرنسیپونو په ځای غیرعلمي پرنسیپیونو ته ارزښت ورکول کیده او یوازې د مخکنیو لیکوالو په لیکنو یا د کمیسون د رایو د ډېروالي له امله ځینې پریکړې شوي او ژبني او علمي بیلابیل آرونه له پامه لویدلي وو. له دې سره سره دا کار د پوره ستاینې او درناوي وړ دی او د راوروسته څېړنو او هلوځلو لپاره یې لاره هواره کړه.

له دې سره جوخت پر پښتو باندې مینو لیکوالو، شاعرانو او ژبپوهانو په دې هکله شعوري ګامونه پورته کړل او د یوه کره او معیاري ګړدود او لیکدود د رامنځته کیدو لپاره یې نه ستړي کیدونکې هلې ځلې وکړې. پوهاند صدیق الله رښتین په پښتو ټولنه کې د کمیسون د پریکړو په خوا کې د کابل مجلې، زیرې جریدې او د هیواد د نورو خپرونو له لارې دغه کار پرمخ بوت، د ژب ښودنې په نامه کتاب د لیکدود په برخه کې یې د ویپونو سمو لیکلو ځینې لارې چارې په ګوته کړې او خپل کار ته یې په «ګرامر پښتو، جزء دوم» کې، چې همدا اوس تر چاپ لاندې دی، پراختیا ورکړه.

خو د کار خوږلني او نیکمرغي په دې که ده، چې په پښتو ژبه کې په اکادمیکه او علمي توګه ژبپوهان راپیدا شول. دوی د خپلو علمي او اکادمیکو څېړنو په پایله کې هغه ستونزې، چې د یوې معیاري پښتو په

رامنځته کېدو کې شته، څرګند کړل. د یوې ژبې او یا ګړدود د معیاري کېدو لپاره یې شرایط او چاپیریال په ټاکلي او جوته توګه وښوول.

په دې ډله کې ډېرو پښتنو ژبپوهانو برخه واخسته؛ چا مقالې ولیکلې، چا پرې په سیمنارونو او غونډو کې خبرې اترې او مشاجرې وکړې او چا کتابونه ولیکل. پوهاند دکتور حبیب الله تږي د «نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل» تر سرلیک لاندې یو علمي کتاب وکښه او په هغې کې یې د معیاري ژبې، معیاري ګړدود، معیاري لیکدود او نورو ورته مسایلو په هکله د نوې ژبپوهنې تر رڼا لاندې لیکنې وکړې او دا یې روښانه کړه، چې د یوې ژبې او یا ګړ دود د معیاري کېدو لپاره تر هرڅه لومړی د هغه ژبې د ویونکو اقتصادي، اجتماعي او سیاسي سیادت (مشرتابه) لومړنی شرط بلل کېږي. کله چې دا سیادت ترلاسه شي نو بیا ژبه پخپله خپله لار پیدا کوي او یو معیار ته وچتېږي. دغه پوهاند دې خبرې ته هم ګوته نیولې، چې ژبه په تشو پرېکړو او رایه اخیستنو نه معیاري کېږي. هغه یو لړ پرنسیپونه لري او باید په پام کې ونیول شي. لومړی ژبنی معیار رامنځته شي، بیا ورپسې الفبا سمه شي او له هغې سره سم د لیکدود معیاري کېدو ته لار پرانیستل شي.

پوهاند دکتور مجاور احمد زیار د نوې ژبپوهنې لومړی استازی و، چې د «یوې یوازنۍ نګه بشپړې کره لیکنې» پښتو تر شعار لاندې یې دغه بهیر ته سیستماتیکه بڼه ورکړه او له پنځوسمو کلونو له پیله یې د یوه فرهنګي غورځنګ په توګه رامنځته کړه. دې تر هغې مخکې چې په ژبپوهنه کې د لوړو زده کړو لپاره (سویس) ته ولاړ شي، د یونسکو له خوا یې د یوې ژبنۍ پروژې د پرمخوړلو په هڅه د هېواد بېلابېلو سیمو ته سفرونه وکړل، بېلابېلا ګړدودونه یې وڅېړل، له خلکو سره یې له نژدې

خبرې اترې وکړي او د ژبپوهنې د بنسټونو له مخې يې خپل راټول کړي معلومات منظم او منسجم کړل. (د نوموړي استاد د وينا له مخې).

کله چې له لوړو زده کړو څخه بېرته هېواد ته راستون شو، دغه غورځنګ ته يې اوږه ورکړه او د نورو مقالو او ليکنو په څوا کې يې د ((ليکلار)) په نامه کتاب وليکه. په دغه کتاب کې دغه مسئاله د ژبپوهنې د علمي آرونو له مخې وڅېړله او خپل پيشنهادونه يې په بېلابېلو بڼو وړاندې کړل. که څه هم دلته او هلته په نورو ځايونو کې، لکه پوهاند محمد رحيم الهام، سرمحقق دوکتور دولت محمد لودين او سرمحقق دوست شينواري هم د معياري ګړدود او ليکدود په هکله ځينې نظريې او ليکنې د کابل مجلې او نورو خپرونو له لارې لوستونکو ته وړاندې کړي، خو کومه سيستماتيکه بڼه يې درلودلې نه ده.

د خپلو خبرو د راغونډولو لپاره بايد څرګنده کړم چې، د يوې ((معياري پښتو)) د پياوړتيا او پراختيا لپاره د ژبپوهنې د اساساتو له مخې علمي پرنسيپونه په پام کې ولرو او لکه څنګه چې تر اوسه همداسې پيل شوې ده او لږو ډېر يې په ورځپاڼو او راديو تلويزيون کې د يوې معياري بڼې ځينې کوچنۍ بېلتياوې موندلي دي، دوام ورکړو، چې ددې لپاره يوازنۍ لاربښود د پوهاند زيار پښتو ليکلار ده.

پوهاند زيار په دغه ليکلار کې، چې په رښتيا سره د ((يوې يوازنۍ نګه او بشپړې کره ليکنۍ پښتو)) د يوه ((مانيفيست)) حيثيت لري، د پوهاند ترېي په دې خبره ټينګار کړی، په پښتو کې هيڅ کوم داسې ګړدود نشته، چې يوه سياسي - اقتصادي - فرهنګي - سرغندويي (سيادت) او منځی (مرکز) يې په برخه وي، نو له دې کبله په دغه ژبه کې د (معياري ګړ دود)) رامنځته کول، کوم بنسټ نه شي درلوداى، بلکې يوازې

او یوازې د معیاري پښتو رامنځته کول (مطرح کول) په کار دي، داسې چې ۴۰_۵۰ کاله را دود شوې لیکنۍ پښتو ترڅېړنې لاندې ونیسو او معیاري آرونه پرې تطبیق کړو. دغه آرونه پوهاند زیار په خپله لیکلار کې وړاندې کړي دي، چې شمیر یې (۲۰۸) ته رسېږي او دا اتلس- شل کاله زیاتره زموږ په خبرونو کې یا اگاهانه او یا غیراگاهانه تر کارونې لاندې راغلي او ورځ په ورځ پسې نورهم دود مومي.

دا ټول آرونه بیا په دوو بنسټیزو آرونو ((گرامري همرنگي او لغوي رنگارنگي)) راڅرخي، چې په دې اړه په مفصله توگه په تیرو څپرکو کې څرگندونې شوي دي. نور پرنسیپونه چې په دې هکله زموږ سره د معیاري پښتو په رامنځته کولو کې مرسته کوي، هغه د ویونکو زیاتوالی، د ویونو لرغونوالی او مانوسوالی، دگډون او التباس مخنیوی، د ژبې د بشپړوالي او سوچه والي ساتل، پراخوالی او د عمومي ادبي گړدود پیروي، په لیک او چاپ کې د اسانوالي مراعات، سپما، خوش آهنگي او بلاغت، د استثنا او کمیدو د له منځه وړل (با قاعده والی)، څرگندوالی او د افادې ځواک او داسې ورته نور آرونه دي.

په پای کې په دې خبره بیا بیا ټینگار کوم، چې د ((معیاري پښتو)) رامنځته کول د یوه شخص او یا یو ژبپوهان کار نه دی. دا کار ډېرې هلې ځلې غواړي. ټول پښتانه، په تیره بیا د پوهې او فرهنگ څښتنان، تر بل هرچا زیات ددې مسئوولیت لري، چې په گډه د یوې ((معیاري پښتو)) لپاره سره راغونډ شي، هغه مواد چې البته مخکې له مخکې باید راټول شوي وي، مخې ته کېږدي، د ژبنیو آرونو او عملي پرنسیپونو له مخې خپل کار پیل او په بشپړ زغم او پوره مینې یې پرمخ یوسي، د تطبیق او

کـارونې لارې يـې پـه ټينګـه وڅـارې او پـه دې توګـه د خلکـو او ژبـې پـه وړاندې خپل مسئووليت په ښه توګه تر سره کړي.

د همدغه ارمان د ترسره کيدو په هيله!
هيله من،
خيرخانه مېنه، کابل، د ۱۳۷۰ کال د تلې مياشت

# اخځونه

۱_ الفت، گل پاچا. لیکوالي. کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۳۹.
۲_ الهام، محمد رحیم. روش جدید در تحقیق دستور زبان دری. کابل: کابل پوهنتون، ۱۳۴۹.
۳_ الهام، محمد رحیم. ((ژبه او گړدود))، کابل مجله. عقرب- قوس، ۱۳۲۲.
۴_ بینوا، عبدالروف، ادبي ژبپوهنه او ژبني مسایل. کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۴۵.
۵_ حبیبي، عبدالحی. ((نگاهی به نثر پټه خزانه))، پټه خزانه. دویم چاپ، کابل: د پوهنې وزارت، ۱۳۳۹.
۲_ حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ. دویم ټوک، کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۴۲.
۷_ حبیبي، عبدالحی. تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان از عصر قبل التاریخ تا اکنون. کابل: انجمن تاریخ، ۱۳۵۰.
۸_ حبیبي، عبدالحی. پښتو نثر ته کره کتنې. کابل. د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه، ۱۳۲۰.
۹_ ختک، خوشحال. کلیات. پیښور: اداره اشاعت سرحد پشاور، ۱۳۵۲.
۱۰_ رښتین، صدیق الله. د پښتو ادب تاریخ. کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۳۳.
۱۱_ رښتین، صدیق الله. ژب ښوونه. کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۴۷.
۱۲_ رښتین، صدیق الله. گرامر پښتو، جزء دوم. کابل: د ښوونې او روزنې وزارت، ۱۳۷۰.

۱۳_ زیار، مجاور احمد. پښتو لیکلار. کابل: د لوړو او مسلکي تحصیلاتو وزارت، ۱۳۶۰.
۱۴_ زیار، مجاور احمد. پښتو پښویه. کابل: د لوړو او مسلکي تحصلاتو وزارت، ۱۳۶۴.
۱۵_ زیار، مجاور احمد. «د تذکرة الاولیاء ژبنۍ خوا»، د امیر کروړ یاد. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه، ۱۳۶۴.
۱۶_ زیار، مجاور احمد. «د تاریخ مرصع ژبنۍ خوا»، تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کې. کابل: کابل پوهنتون، ۱۳۶۵.
۱۷_ شینواری، دوست. «د دغه سمپوزیم په باب څو خبرې»، پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلو کې. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، ۱۳۶۷.
۱۸_ شینواری، دوست. «له پاره که لپاره، څنګه یې ولیکو؟»، کابل مجله. د افغانستان د علومو اکاډمي، لومړۍ ګڼه. ۱۳۷۰
۱۹_ فروشید، «زبان رسمی یا معیاري»، مجله فرهنګ. کابل: وزارت اطلاعات وکلتور، اسد و سنبله، ۱۳۶۹.
۲۰_ لودین، دولت محمد. «په پښتو خپرونو کې ځینې املایي ګډوډي»، پښتو د جمعي مفاهمې په وسایلو کې. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین الملی مرکز، ۱۳۶۷.
۲۱_ هوتک، محمد. پټه خزانه. کابل: د پوهنې وزارت، ۱۳۳۹.
۲۲_ Crystal, David, Linguistic s, 2nd edn, London : Plican, 1985.

پای



محمد قاسم هیله من د کامې ولسوالۍ د فقیر صاحب د
ورثې په کلي (صاحبزادګانو) کې زېږېدلی. (۱۳۲۷ل.)
لومړنۍ زده کړې یې د کامې د مرادعلي صاحب په لیسې
او لوړې زده کړې یې د ماسترۍ تر درجې پورې د کابل
پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې سرته رسولي
دي. د پوهنې په وزارت کې یې د ښوونکي، تدریسي مرستیال، د تألیف او
ترجمې د ریاست د علمي غړي، د عرفان د مجلې مسؤول مدیر، د خپرونو د
رئیس او د درسي کتابونو د پښتو برخې د اډیټور په توګه کار کړی دی. څه
موده یې په افغانستان کې د سره صلیب د نړیوالې کمېټې په نماینده ګۍ
(آی. سي. آر. سي.) کې له رسنیو سره د ارتباط او د نوموړې مؤسسې د ویاند
دندې پر مخ وړې دي. له پښتو او دري پرته په انګلیسي او الماني ژبو
پوهېږي. له شعر او شاعرۍ سره مینه لري. د شعرونو یوه ټولګه یې چاپ ته
چمتو ده. اوس د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تألیف په پروژه کې په کار بوخت دی. د پښتو شپږ ټوکه د لوست
او دري ټوکه د ښوونکي د لارښود کتابونه یې لیکلي او چاپ شوي دي.
همدا راز یې د غذا او تغذیې په نامه د لوست کتابونه د هوټلدارۍ د لیسې
له ۷_۹ ټولګیو لپاره له الماني څخه دري ته ژباړلي او چاپ شوي دي.
سربېره پر دې له آی. سي. آر. سي. سره د خپل کار په موده کې د ژنیو د
۱۹۴۹ کال د اګست ۱۲ نړیوالو لوظنامود ۱۹۷۷ کال لومړي او دویم
ضمیموي پروتوکولونه له انګلیسي څخه په پښتو او دري ژباړلي. شعرونه
یې په تیت او پرک ډول د هېواد په ورځپاڼو کې خپاره شوي دي.

# The Process of Complementary Pashto Writing

(M.A. Thesis)

Download from:aghalibrary.com

M. Q. Hilaman

Kabul-Afghanistan, 2012